وَلَا يَأْتُونَكَ بِمَثَلٍ إِلَّا جِئْنَاكَ بِالْحَقِّ وَأَحْسَنَ تَفْسِيرًا (الفرقان ۳۳)

اصول التفسير

من افادات

شیخ الاسلام نابغۃ العصر فقیہ الدہر شہید

غلام حضرت غلام

الحنفی السیفی تقبلہ اللہ

مرتب

مولوی محمد بشیر (طیب خیل) المظہری

تصحیح و نظر ثانی

حضرت علامہ مفتی سید محمد آیاز علی شاہ السیفی صاحب

المکتبۃ الخادمیۃ

انقلاب روڈ محلہ قریب آباد سوریزئی پایان پشاور بالمقابل دارالعلوم ... سیفی

0313- 80 03 281 / 0340- 43 63 222

Scanned by CamScanner

مجموعہ حقوق
جمیع الحقوق

وَلَا يَأْتُونَكَ بِمَثَلٍ إِلَّا جِئْنَاكَ بِالْحَقِّ وَأَحْسَنَ تَفْسِيرًا ﴿الفرقان﴾

اصول التفسير

من افادات

شيخ الاسلام نابغة العصر فقيه الدهر شهيد
غلام حضرت غلام حنفي رحمة الله تعالى عليه

مرتب

مولوي محمد بشير (طيب خيل) المظهري

تصحيح ونظرثاني

حضرت مولانا سيد ايازعلي شاه باچا صاحب

بسعى

قاري محمد فواد (حنفي) قاري محمد نبي (طيب خيل)

ناشر

المكتبة الخادمية

انقلاب روډ سوريزئي پايان پشاور بالمقابل دارالعلوم نوريه سيفيه

۰۳۱۳-۸۰۰۳۲۸۱ ۰۳۲۱-۹۱۷۳۱۱٤

Scanned by CamScanner

محفوظة جميع الحقوق

كتاب پېژندنه

كتاب: اصول التفسير

من افادات: شيخ الاسلام نابغة العصر فقيه الدهر شهيد غلام حضرت غلام حنفي رحمة الله تعالى عليه

مرتب: مولوي محمد بشير (طيب خيل) المظهري

تصحيح ونظرثاني: حضرت مولانا سيد ايازعلي شاه باچا صاحب

بسعي: قاري محمد فواد (حنفي) قاري محمد نبي (طيب خيل)

كمپوز: طيب كمپوزنگ سنتر ٠٣٤٠--٥٢٢٥١٣٨

دچاپ كال: ٢٠١٨ع

ضخامت: ١٩٢ص

ناشر

المكتبة الخادمية

انقلاب روډ سوريزئي پايان پشاور بالمقابل دارالعلوم نوريه سيفيه

٠٣١٣-٨٠٠٣٢٨١ ٠٣٢١-٩١٧٣١١٤

For More Books Click On Ghulam Safdar Muhammadi Saifi

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ـ

د مرتب مقدمه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ، وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِالْاَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ، وَعَلٰى آلِهٖ وَ أَصْحَابِهٖ أَجْمَعِيْنَ.

امابعد: ددې کتاب (اصول التفسير) ليکل د الله تعالی په فضل او کرم سره پای ته ورسېدو، د حضرت شيخ صاحب رحمه الله له شهادت نه وروسته د ډېرو ورونو او دوستانو او خصوصاً زما دا خواهش او آرزو پيداشوه چې د حضرت شيخ صاحب رحمه الله درسونه او بيانات د ليکلو په واسطې سره محفوظ او چاپ کړای شي تر څو د عامو ورونو د استفادې ور وګرځي، کومو ورونو چې له مونږ سره ددې رسالې د ليکلو په کار کې هر قسم همکاري کړې ده الله تعالی دې د هغوئ دا خدمت په خپل عالي دربار کې قبول او منظور کړي، او الله تعالی دې ددې رسالې ثواب د حضرت شيخ صاحب رحمه الله روح مبارک ته ورسوي.

ګرانولوستوونکو! له تاسې ټولو نه زما دا يوه مطالبه ده که په دې کتاب کې څه قسم غلطي راغلې وي نو دا به له کاتب نه سهواً او خطاءً راغلې وي، ددې غلطيانو نسبت به حضرت شيخ صاحب رحمه الله ته نه کېږي، نو مهرباني به وکړئ چې مونږ ته به يې وښايئ تر څو د بيا چاپ کولو لپاره يې اصلاح کړو او دا غلطيانې بيا تکرار نه شي.

مولوي محمد بشير عفی عنه

Scanned by CamScanner

تائید کتاب

مولوی ابو العباس **حبیب اللّٰه** صدیقی

برادر مکرم شهید نابغه تقبله اللّٰه

داصول تفسیر کتاب چه سید آیاز علی شاه صاحب لی تصحیح کړیده

زه دباچا صاحب په تصحیح مطمئن یم اللّٰه پاک عزوجل دے دشیخ

صاحب مبارک درجات عالی کړی دباچا صاحب او دطیب صاحب

سعی او کوشش دی اللّٰه مشکور او کړخوی اود المکتبة الخادمیة

مدیرته دے اللّٰه عزوجل ددین دخدمت دپاره دراز عمرور نصیب کړی

آمین بجاه سید المرسلین صلی اللہ علیہ وسلم

حبیب اللّٰه

22-07-2018

Scanned by CamScanner

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَحْدَهُ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى مَنْ لَا نَبِيَّ بَعْدَهُ، وَلَا رَسُوْلَ بَعْدَهُ وَهُوَ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ.

اَمَّا بَعْدُ: فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ.

﴿الٓمٓ ۝ ذَٰلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ ۛ فِيهِ ۛ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ ۝﴾ (١).

وَقَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِيْ مَوْضِعٍ أٰخَرَ: ﴿وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ۙ وَلَا يَزِيدُ الظَّالِمِينَ إِلَّا خَسَارًا ۝﴾ (٢).

جَمِيْعُ الْعِلْمِ فِي الْقُرْآنِ لٰكِنْ ... تَقَاصَرَ عَنْهُ أَفْهَامُ الرِّجَالِ

﴿إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ ۚ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ۝﴾ (٣).

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَآلِهِ وَبَارِكْ وَسَلِّمْ عَلَيْهِ، وَصَلِّ وَسَلِّمْ عَلٰى جَمِيْعِ الْاَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ، وَعَلٰى كُلِّ الْمَلَائِكَةِ مِنْهُمُ الْمُقَرَّبُوْنَ، وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ.

---

١ - سورة البقرة آية: ٢-١.

٢ - سورة الاسراء آية: ٨٢.

٣ - سورة الاحزاب آية: ٥٦.

Scanned by CamScanner

مقدمة فى اصول التفسير

زمونږ دا مقدمة التفسير په لسو مباحثو باندي مشتمله ده.

۱- اَلْمَبْحَثُ الْأَوَّلُ: فِيْ بَيَانِ مَعْنَى الْقُرْآنِ وَالتَّفْسِيْرِ لُغَةً وَاصْطِلَاحاً.

۲- اَلْمَبْحَثُ الثَّانِيْ: فِيْ بَيَانِ الْفَرْقِ بَيْنَ التَّأْوِيْلِ وَالتَّفْسِيْرِ.

۳- اَلْمَبْحَثُ الثَّالِثُ: فِيْ بَيَانِ الْقَوَاعِدِ الَّتِيْ يَحْتَاجُ إِلَيْهِ الْمُفَسِّرُ.

٤- اَلْمَبْحَثُ الرَّابِعُ: فِيْ بَيَانِ الْفَرْقِ بَيْنَ الْحَدِيْثِ الْقُدْسِيِّ وَالْقُرْآنِ الْكَرِيْمِ وَالْحَدِيْثِ النَّبَوِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ.

٥- اَلْمَبْحَثُ الْخَامِسُ: فِيْ بَيَانِ تَنْزِيْلَاتِ الثَّلَاثَةِ لِلْقُرْآنِ الْكَرِيْمِ.

٦- اَلْمَبْحَثُ السَّادِسُ: فِيْ مَعْنَى الْوَحْيِ لُغَةً وَتَعْرِيْفِهِ وَأَقْسَامِهِ.

۷- اَلْمَبْحَثُ السَّابِعُ: فِيْ بَيَانِ إِعْجَازِالْقُرْآنِ وَبَيَانُ سَبْعَةِ أَحْرُفٍ.

۸- اَلْمَبْحَثُ الثَّامِنُ: فِيْ بَيَانِ الْمَضَامِيْنِ الْمُبَيَّنَةِ فِي الْقُرْآنِ، يا فِي الْأُصُوْلِ الْمُتَوَسِّطِ الْمُبَيَّنَةِ فِي الْقُرْآنِ.

۹- اَلْمَبْحَثُ التَّاسِعُ: فِيْ بَيَانِ سَلْسِلَةِ السَّبْعَةِ فِي الْقُرْآنِ.

۱۰- اَلْمَبْحَثُ الْعَاشِرُ: فِيْ بَيَانِ وَجْهِ تَقْدِيْمِ الْفَاتِحَةِ عَلَى سَائِرِالْكِتَابِ (فِيْ بَيَانِ تَقْدِيْمِ الْفَاتِحَةِ عَلَى جَمِيْعِ الْقُرْآنِ).

په دې لسو مباحثو باندې زمونږ دا مقدمة التفسير مشتمله ګرځولې ده، مخکې له دېنه چې په مبحث الاول کې تفصيل شروع کړو مخرجونه د مقدمې خپلې بيانوو چې زمونږ دا له څه شي نه اخلاصه کړې ده.

Scanned by CamScanner

او یا په دغه اصول القرآن باندې یا په دغه علوم القرآن باندې کومو علماؤ چې لیکل کړي دي د هغه کتابونو نوم ونه چې مونږ په خپله مقدمه کې ترینه لږلږ څه شی را اخستي او جمع کړي دي.

اولاً دا خبره زده کړئ چې د نبی اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ صحابه کرام رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ چې وه نو هغوئ ټول په ټوله عدول دي خو ټول په ټوله مفسرین نه وو، او ټول په ټوله عدول یعنې صادقان دي، د امت مسلمه سرداران دي خو ټول په ټوله فقهاء مجتهدین نه وو، په دوئ کې څه اشخاص دي چې هغوئ معروف دي په اجتهاد سره او څه اشخاص دي چې هغوئ معروف دي په علم التفسیر سره، مفسرین په صحابه کرامو کې خلفاء اربعه وو، یعنې هغه څلور یاران مجتهدین فی التفسیر وو.

او دارنګه حضرت عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حضرت عبدالله ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حضرت ابی ابن کعب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حضرت زید ابن ثابت رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حضرت ابو موسی اشعري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حضرت عبدالله ابن زبیر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حضرت معاذ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او حضرت عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او یا نور بعضې صحابه کرام رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ چې شهرت لري نو د دوئ شهرت په علم فقه علم الحدیث کې ډېر زیات دی، علم التفسیر کې یې شهرت نه وو.

مشهور مفسرین صحابه کرام رضی الله عنهم:

حضرت عبدالله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حضرت عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ابی ابن کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ زید ابن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت ابو موسی اشعري رَضِيَ اللهُ عَنْهُم اجمعین وو، په دوئ کې هر یو بیا په خپلو خپلو علاقوکې شاګردان درلودل، شاګردان په تابعینوکې د حضرت عبدالله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې معروف دي عمده او ثقه دي هغه په مکه معظمه کې وو.

حضرت عبدالله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به په حرم شریف کې د قرآن کریم درس کولو، د دوئ په معروف او مشهورو شاګردانو کې امام مجاهد رَحِمَهُ اللهُ دی، او حضرت سعید ابن جبیر رَحِمَهُ اللهُ دی، حضرت عکرمه رَحِمَهُ اللهُ مولای ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دی.

عکرمه دوه دي یو عکرمه ابن ابي جهل دی دا صحابي دی له فتحې مکې نه بعد يې ایمان راوړی دی.

دوهم عکرمه مولی حضرت عبدالله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دی، د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ آزاد کرده غلام وو، دغه عکرمه رَحِمَهُ اللهُ مولای ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې کوم دی دا په تابعینوکې رئیس المفسرین دی لوی شخصیت دی.

امام طاوس رَحِمَهُ اللهُ او عطاء ابن ابی رباح رَحِمَهُ اللهُ وو.

د حضرت عبدالله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په مکه معظمه کې شاګردان ډېر وو خو په تابعینوکې چې معروف فی التفسیر دي هغه دا اشخاص دي.

Scanned by CamScanner

حضرت ابی ابن کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به په مدینه منوره کښ د قرآن کریم درس کولو دده شاګردان په مدینه منوره کښ زید ابن اسلم رَحِمَهُ اللهُ دی او بل شاګرد یې ابوالعالیه رَحِمَهُ اللهُ دی او محمد ابن کعب القرضي رَحِمَهُ اللهُ دی.

د حضرت ابی ابن کعب رضی الله عنه مشهور شاګردان:

د حضرت ابی ابن کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په شاګردانو کښ زید ابن اسلم رَحِمَهُ اللهُ ابوالعالیه رَحِمَهُ اللهُ او محمد ابن کعب القرضي رَحِمَهُ اللهُ معروف اشخاص وو.

زید ابن اسلم رَحِمَهُ اللهُ د امام مالك رَحِمَهُ اللهُ استاد وو، امام مالك رَحِمَهُ اللهُ درس قرآن کریم له دده نه زده کړو.

د حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه معروف شاګردان:

د حضرت عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شاګردان په عراق کښ زیات وو، حضرت عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به په عراق کښ د قرآن کریم درس کولو.

د حضرت عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ معروف او مشهور شاګردان دا دي: علقمه ابن قیس رَحِمَهُ اللهُ مسروق رَحِمَهُ اللهُ عامر شعبي رَحِمَهُ اللهُ حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ قتاده ابن دعامة السدوسي رَحِمَهُ اللهُ او اسود ابن زید رَحِمَهُ اللهُ دا د حضرت عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په شاګردانو کښ په علم التفسیر کښ چند مشهور اشخاص دي.

Scanned by CamScanner

تر دغه دور پورې په علم التفسير، علوم القرآن کې چا ليکل نه وه کړي.

تفسير ابن عباس رضی الله عنه:

که څوك وايي چې تفسيرابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يا تفسير ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دی دا دهغوئ تفسير نه دی دهغه خپل ليکل نه دي، په وروسته دور کې څوسوه کاله بعد يوځوان ناست دی له مختلفو تفاسيرونه يې د حضرت عبدالله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اقوال راغونډ کړي دي داتفسير دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه دی ددې نوم دی.

(تنويرالمقباس عن تفسير ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ)

معنیٰ ډېر نوراني اخذ له تفسير د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

نو دا د حضرت عبدالله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تفسير نه دی، يعنې په دې معنیٰ خو نې تفسير دی چې د هغه اقوال په کې راجمع شوي دي خو ددې تفسير جامع يو بل کس دی.

يا تفسير ابن مسعود رضی الله عنه:

تفسير ابن مسعود چې دی نو هغه يعنې حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دې تفسير کې په خپله څه ليکل نه دي کړي، دا هم په وروسته زمن کې يو عالم د هغوئ اقوال رانقل کړي دي په يو جلد کې دوخيم تفسير دی د حضرت عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په نوم باندې، دغه زمن کې چا ليکل نه دي کړي، او دا چې ليکل يې نه دي کړي نه په احاديثو کې او نه په تفسير او نه په فقه کې نو دا

دليل ددې نه دى چې دوئ فقهاء نه وو يا مجتهدين نه وو، لکه بعض اهل الحديث په حضرت امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ باندې دا جرحه کوي چې دوئ صاحب يعنې امام صاحب په کتب حديث کې کتاب نه لري، نوداځه جرحه نه ده نوکه څوك داجرحه کوي په امام صاحب باندې نو وروستو صحابه کرامو سره به څه کوي.

حضرت عبدالله ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په کتب الحديث کې کوم کتاب ليکلى دى.

د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په کتب الحديث کې کوم کتاب ليکلى دى.

دخلفاء راشدينو په کتب الحديث کې کوم کتاب ليکل شوى دى.

صحابه کرامو رضى الله عنهم ولې ليکل نه کول؟

دا لکيل په قرون د صحابه کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ کې او په قرون د تابعينو کې د غبي (يعنې کمزوري سړي کار وه) دا سړى به ډېر غبي ګڼل کېدو، پنځه زره (۵۰۰۰) شاګردان به يو محدث ته ناست وو دوئ تولو به په خپل ذهن سره اخذ کولو او چې د کوم شاګرد په لاس کې به کتابچه او يا قلم ښکاره شول نو نورو به دسترګو په اشاره باندې په هغه پورې استهزاء ګانې کولې (يعنې خندل به يې) مسخرې به يې ورپورې کولې.

نو په زمن د صحابه کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ کې او په زمن د تابعينو کې دا ليکل عيب وه.

د حضرت امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ چې دا لیکل کم (لږ) دي، د هغې لویه وجه دا وه چې دغه لیکل عیب وه هغوئ اخذ په ذهن باندې کولو، نو عرض مې دا کولو چې د صحابه کرامو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ په زمن کې چا لیکل نه دي کړي.

نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ هم له دېنه منعه کړې وه.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَا تَكْتُبُوا عَنِّي، وَمَنْ كَتَبَ عَنِّي غَيْرَ الْقُرْآنِ فَلْيَمْحُهُ، الحديث. [۱]

ترجمه: له حضرت ابي سعید خدري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی فرمايي: چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ وفرمائیل: له مانه د قرآن کریم الفاظ ولیکئ له دېنه سوا ئیکل مه کوئ، چاچې له مانه سوا د قرآن کریم له الفاظو نه نور لیکلي دي نو وزان بې کړئ ختم یې کړئ.

دې احادیثوته هم بعضو صحابه کرامو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ کتل یا بعضي نور روایات دي.

دا بیا ډېر وروسته زمن کې تابعینو د تبع تابعینو دوره وه په دې وخت کې بیا علماء محدثین راجمع شول او وېې ویل: چې تاسي لیکل عیب گڼئ او د خلکو ذهنونه ورځ تر ورځې کمزوري کېدونکي دي، اختلاط راځي په خلکو ورځ تر ورځې، په یادو په ذهن کې درس زده کړې چې کورته لاړشي بیاچې څه پټ لکیل کوي نور څه یې لیکلي وي نوکه تاسې دا عیب گڼئ اوخلك منع کوئ

---
۱ - رواه مسلم: ۳۲۹۸/ ۴.

نو کېدای شي چې زمونږ په دین کې ډېر اختلاط راشي او نور څیزونه په کې داخل شي، راځئ چې په شریکه فتوی ورکړو چې لیکل دې وکړای شي، بیا محدثین رَحِمَهُمُ اللهُ کېناستل چې ددې لپاره د دلیل تالاش وکړي، دجواز څه دلیل دی چې د قرآن کریم له الفاظونه سوا لیکل جائز دي.

عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ يَعْنِي ابْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو هُرَيْرَةَ، قَالَ: لَمَّا فُتِحَتْ مَكَّةُ قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ الْخُطْبَةَ خُطْبَةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَقَامَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْيَمَنِ يُقَالُ لَهُ: أَبُو شَاهٍ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، اكْتُبُوا لِي، فَقَالَ: «اكْتُبُوا لِأَبِي شَاهٍ»، الحديث. (١)

نو بیا په دې کې روایت د حضرت ابو شاه صاحب پیدا شو چې په حجة الوداع کې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ تقریر وکړو، صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ زده کړو، ابوشاه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ یو صحابي وه عمر یې ضعیف وه هغه راغلو او نبی اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ ته وایي چې دا خبرې خو ټولې زما یادې نه شوې ماته یې لیکل پرې راکړه، نبی اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته امر کوي چې زما تقریر ابوشاه صاحب ته ولیکئ.

نو دلته د احادیثو په لیکلو باندې نبی اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ امر کړی دی نو محدثینو دا روایت پیدا کړو او استدلال یې ترې وکړو

١- سنن ابي داود ٣١٩/٣.

چې ليکل د کتب الحديث، کتب الفقه او کتب التفسير منع نه دي، له هغې نه بعد بيا ليکل شروع شول.

نو هر څوك چې دا عيب حضرت امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ ته منسوب کوي چې ده ليکل نه دي کړي، اول خو په کتب الحديث کې جامع المسانيد ابي حنيفه، د حضرت امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ چې پنځلس يا اولس مسندونه د احاديثو موجود دي او په هرمسند کې دوه سوه (۲۰۰) درې سوه (۳۰۰) او څلور سوه (۴۰۰) احاديث موجود دي، دا خو شته شاګردانو راجمع کړي دي خپله يې ليکل نه دي کړي شاګردانويې ليکل کړي دي، نو دغه دورکې ليکل ونشو له دېنه بعد بيا ليکل شروع شو، د تابعينو او تبع تابعينو له دور نه بعد بيا ليکل شروع شو، نو په احاديثو او فقه هرڅه کې ليکل شوي دي نو په علوم التفسير کې په اسباب النزول کې په اصول القرآن کې په دې هم ليکل شوي دي د هغه کتابونو نومونه چې ما له هغې نه څه ناڅه اخذ کړي دی هغه دادي.

د اسباب النزول کاتبين (ليکونکي)

اول ليکل په اسباب النزول:

اول ليکل په اسباب النزول باندې علي ابن مدني رَحِمَهُ اللَّهُ وکړل، علي ابن مدني رَحِمَهُ اللَّهُ شيخ البخاري دی، ده يو رساله وليکله، رسالة اسباب النزول، د هغې په مقدمه کې يې څه خبرې له اصول القرآن نه را اخستي دي.

دوهم ليکل په اسباب النزول:

دوهم ليکل په اسباب النزل باندې عبيد عبدالقاسم رَحِمَهُ اللهُ کړي دي په نوم د الناسخ والمنسوخ سره.

دريم ليکل په اسباب النزول:

دريم چې به دې فن کې ليکل کړي دي هغه ابن قتيبة رَحِمَهُ اللهُ ليکل کړي دي په نوم دی مشکل القرآن باندې د درې وارو علماو د قرن ثالث وه يعنې دې دور پورې وه.

څلورم ليکل په اسباب النزول:

څلورم قرن کې چې ليکل کړي دي، محمد ابن خلف ابن ميرزبان رَحِمَهُ اللهُ يو کتاب وليکلو په نوم د الحاوي في علوم القرآن، سره.

پنځم ليکل په اسباب النزول:

دارنګه ابوبکر محمد ابن قاسم الامباري رَحِمَهُ اللهُ په نوم د علوم القرآن باندې ليکل کړي دي.

شپږم ليکل په اسباب النزول:

دارنګه ابوبکر سجستاني رَحِمَهُ اللهُ ليکل کړي دي په نوم د غريب القرآن سره.

اووم ليکل په اسباب النزول:

محمد ابن علي رَحِمَهُ اللهُ ليکل کړي دي په نوم د الاستغناء في علوم القرآن سره.

Scanned by CamScanner

اتم لیکل په اسباب النزول:

ابوبکرباقلاني رَحِمَهُ ٱللَّهُ یو کتاب ولیکه په نوم د اعجازالقرآن باندي.

نهم لیکل په اسباب النزول:

الماوردي رَحِمَهُ ٱللَّهُ لیکل وکړل په نوم د امثال القرآن سره.

لسم لیکل په اسباب النزول:

عزب ابن عبدالسلام رَحِمَهُ ٱللَّهُ یوه رساله ولیکله په نوم د مجاز القرآن سره.

یولسم لیکل په اسباب النزول:

ابن قیم رَحِمَهُ ٱللَّهُ یوه رساله لیکلې ده په نوم د التبیان اقسام القرآن سره.

دا هغه کتب وو چې په دې کې ناسخ منسوخ یا اسباب النزول یا مکي مدني پېژندل کېده او له علوم القرآن سره یې تعلق دی.

د اصول القران کاتبین (لیکونکي)

یا مجازیات فی القرآن یا امثال یا انواع دا ټول ئې بیان کړي دي، خاصة په مقدمو او په اصولو د قرآن کریم کې چې لیکل شوي دي نو په هغې کې اول لیکل ابن جوزي کړي وه، ابو الفرج ابن الجوزي چې له ابن القیم رَحِمَهُ ٱللَّهُ نه (۹٦) کاله مخکې تیر شوی دی.

۱. څېل نوم یې عبدالرحمن دی، عبدالرحمن بن علي بن الجوزي رَحِمَهُ ٱللَّهُ، په نوم د فنون الافنان فی عجائب علوم القرآن سره.

Scanned by CamScanner

۲. بدرالدین الزرکشي رَحِمَهُ ٱللَّهُ په دې باندې لیکل کړي دي په نوم د البرهان فی علوم القرآن سره.

۳. جلال الدین البلقیني رَحِمَهُ ٱللَّهُ په دې باندې لیکل کړي دي په نوم د مواقع العلوم من مواقع النجوم سره.

۴. جلال الدین سیوطي رَحِمَهُ ٱللَّهُ په دې باندې لیکل کړي دي په نوم د الاتقان فی علوم القرآن سره.

۵. شیخ طاهرالجزائري رَحِمَهُ ٱللَّهُ د قریب عهد له معاصرینو نه دی لیکل یې کړي په نوم د التبیان فی علوم القرآن باندې.

۶. شیخ محمدعلي سلامت رَحِمَهُ ٱللَّهُ په دې لیکل کړي دي په نوم د منهج القرآن فی علوم القرآن سره.

۷. علامه زرقاني رَحِمَهُ ٱللَّهُ لیکل کړي دي په نوم د مناهل العرفان فی علوم القرآن سره.

۸. شیخ احمداحمدعلي رَحِمَهُ ٱللَّهُ په نوم باندې له معاصرینونه یو شخص لیکل کړي دي په نوم د مُذکّرة فی علوم القرآن سره.

۹. دکتور صبح صالح رَحِمَهُ ٱللَّهُ له معاصرینونه یو شخص لیکل کړي دي په نوم د مباحث فی علوم القرآن سره.

۱۰. مناع القتان رَحِمَهُ ٱللَّهُ لیکل کړي دي په نوم د مباحث فی علوم القرآن سره.

Scanned by CamScanner

دا تول هغه علماء وو چې هغوئ په دغه شق (فن) کې لیکل کړي دي او د هغوئ له کتابونونه مونږ خای په خای اخذ کړی دی، اوس په خپل درس کې شروع کوو.

المبحث الاول فی معني القران والتفسیر لغة واصطلاحاً.

اولاً دا پېژندل پکار دي چې علوم شرعیه دا څلور قسمونه لري:

۱- اصول دي.

۲- فروع دي.

۳- مقدمات دي.

۴- متممات دي.

۱- اصول:

په اصول فقه کې تاسې ویلي دي، کتاب الله، سنت رسول صلی الله علیه وسلم، اجماع الامة، قیاس المستندعلی تلك الاصول، هغه قیاس چې دي اصولوته استناد وي، کوم قیاس چې د هغې استناد دې اصولوته نه وي هغه دلیل نه دی.

۲- فروع:

مَافُهِمَ مِنْ تِلْكَ الْأُصُوْلِ مَا وَافَقَ لِأَقْوَالِ أَهْلِ السُّنَّةِ وَالْجَمَاعَةِ:

هغه چې له دې اصولونه رافهم کړی شي خو فهم به يې هرکجا خپل نه وي کړی، هغه فهم مجتهد کړی وي چې د هغه فهم شده فروعي

مسائل دا قوالو د اهل السنة والجماعة موافق وي دا له علوم الشرعيه و نه دي.

داسې خو به اهل البدعة هم خپل فروعي مسائل بناء کوي په دې اصولو باندې خو هغه علوم بيا د علوم الشرعيو نه نه ګرځي.

فروع په دوه قسمه دي

مَايَتَعَلَّقُ بِمَصَالِحِ الدُّنْيَوِيَّةِ وَالدِّيْنَوِيَّةِ وَتُسَمَّى بِعِلْمِ الْفِقْهِ.

يو نوع فروع هغه دي چې په هغې کې مصالح د دنيا او آخرت دواړه دي هغه مسمیٰ دي په علم الفقه سره.

علم الفقه په غټه اصطلاح کې يا له عباداتو نه بحث کوي او له معاملاتو نه بحث کوي.

که ناسې هدايه وګورئ اول جلد يې په عباداتو باندې لګيدلی دی وروسته دوهم جلديې په معاملاتو باندې لګيدلی دی، په فروعي مسائلو کې يو هغه دي چې تعلق لري په مصالح ديني او دنياوي دواړو پورې دا مسمیٰ دی په علم الفقه سره.

دوهم فروعي مسائل هغه دي، مَايَتَعَلَّقُ فِي مَصَالِحِ الْأُخْرَوِيَّةِ فَقَطْ: هغه چې تعلق لري په مصالح الاخروي پورې فقط او دا له علوم فرعيونه دي چې بناء دي په اصول الاربعه و باندې هغه علم التصوف دی چې عبارت دی له احوال القلب والنفس او له لطائف الباطن نه، نو د علوم الشرعيو اصول څلور شو، دوهم فروع شو، او دې فروعو نوعين پيدا کړل.

اول هغه چې دنيا او آخرت دواړو پورې تعلق لري.

Scanned by CamScanner

دوهم هغه چې صرف آخرت پورې تعلق لري فقط دنيا پورې ئې هيڅ تعلق د هغې نه وي.

اول علم الفقه، دوهم علم التصوف، دريم له علوم شرعيونه مقدمات دي.

٢- مقدمات:

مراد له مقدماتونه چې کوم دي: هى العلوم المقصودة للغير الاصولية: يعنې الفنون، که نحو ده که صرف دي که ادب دي که بيان دى که بديع دى که معاني دي.

دغه علوم مدون چې تاسې په مدارسو کې لولئ دا له علومو شرعيونه دي، خو دا نه اصول دي او نه فروع دي بلکه دا مقدمات دي يعنې علوم مقصوده للغير دي مقصود بذات نه دي.

په دې کې چې کوم حُسن دى حسن ذاتى نه دى حُسن للغير دى په نحو کې ذاتاً حُسن نشته دى، ولې صرف د علم دى په مالايعنى کې له ذکر نه يې ويستلى يې دنورو عبادتونه يې ويستلى يې پکار داده چې ماخستن تا مطالعه کمه کړې واى چې دشپې دې تهجد کړي واى نوهغه تا وخت په شرح جامي کې تير کړى دى تهجد پاتې شوې دې يعنې له ډېر عباداتونه ئې ويستلى يې نو مقاصد خونه دي حُسن په کې ذاتي بلکل نشته دى ذاتاً قبيح دي ځکه چې مالايعني کې وخت صرف کړل دي.

Scanned by CamScanner

حضرت بایزید بسطامي رحمه الله

حضرت بایزید بسطامي رَحِمَهُ اَللّٰهُ یو عالم ته لاړو نحومیر یا د نحوې کوم بل کتاب یې وروړی وو چې دا راته ووایه، هغه ورته کتاب شروع کړو، په درس کې یې ورته وویل: ضرب زید، زید وهل کړي دي، نو حضرت بایزید بسطامي رَحِمَهُ اَللّٰهُ ورته وفرمائیل چې وهلی یې دی؟ هغه ورته وفرمائیل: چې نه وهل یې نه دي کړي خوهسې مثال جوړه وو، حضرت بایزید بسطامي رَحِمَهُ اَللّٰهُ ورته وویل: نه دروغ دي؟ استاذ ورته وویل: چې ته عجیبه سړی یې دا ته څه خبرې کوې؟ هغه ورته وویل: چې دا خو هسې تمثیل دی، نو حضرت بایزید بسطامي رَحِمَهُ اَللّٰهُ وویل: چې دا دروغ دي که رښتیا دي؟ نو استاذ ورته وویل: چې داشوي نه دي خو مونږ هسې مثال جوړوو، هغه ورته وویل: یاره مولاناصاحب خفه نشې دا شی مې خوښ نه شو داخوهسې فضول خبرې دي ګپ شپ دی، لازم درنه ازار راته ونه کړې.

داخوهیڅ مقاصد نه دي کنه ذاتي حُسن په کې نشته که نه حسن بي للغیر دی، که داخوک ونه وایي نوځوک به نه په قرآن مجید پوهیږي اونه په حدیث باندې نه په فقه باندې پوهیږي نه په دین باندې پوهیږي اونه عقیده وزده کولی شي دغه علم هسې نافع نه جوړیږي څکه چې فنون بې نه یې ویلي اوقرآن مجید ته کیني دا د خلکو عقیدې ولې خرابې شوې ددې لویه وجه دا ده که اهل حدیث دي که اشاعة والا دي نودوی فنون نه لولي مدون فنونو کې دوی

د پر کمزوري دي چونکه دغه فنون يې ياونيلي وي يانه وي يا يې حفظ کړی وي يايې نه وي کړئ نوراشي ترجمې ته کښني نوهغه چې استاذ ورته څه زده کړل نوهغه دده زده وي بيايې هغه ترانه شي، نور په هيڅ باندې نه پوهيږي، عرض مې دا کولو چې درېم له علوم شرعيونه شرعي دي يعنې روا (جائز) علوم دي خو مقدمات دي نه اصول دي نه فروع دي خو مقدمات دي چې هغه علوم مقصود للغير دي يعنې قواعد فنون دي.

۴- متمّمات:

څلورم له علوم شرعيه و نه متممات دي، فنون مدونه وکې حسن للغير دي که چادا فنون د کتاب الله شريف، احاديثو او د فقه د خدمت لپاره ولوستل نو الله تعالی به دده عمر په مالايعني کې نه حسابه وي اجر اثواب به ورته ورکړي اوکه چېرته دده دغه فنون يې مقصود اصلي وګرځول او له اول نه تر اخره پورې يې درس کولو حتی چې په اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْن مشرف شو، او ټول عمريې په دې کې صرف کړو نه يې طالب ته ددې تلقين وکړو چې ګورئ چې دا مقصود اصلي نه دي دغيرلپاره پل دی، اونه ده په خپله پل وګرځولو نو دغه ټول عمر يې په مالايعني کې تيرشوی دی، اوکه دده داخيال وي چې مره يوسړی دی هغه تاټکی چلوي يا بله مزدوري کوي او پيسې پرې پيداکوي، اوکه ما په دې باندې پيداکړې نوڅه چل دی، نوبيا خير دی پيسې دې پرې پيداکوي خو د ثواب طمع دې نه کوي يو روزګاريې جوړ کړې دې تدريس باندې

تنخوا اخله او خپل کار پرې چلوه، نو دا فنون به مقاصد نه ګرځوې را به صرف د دې لپاره لولې چې زه به قرآن مجید باندې څنګه پوهه شم که دا ونه وایم نو په قرآن مجید باندې نه پوهېږم بلکه دا چې علم النحو ټوله مقصود اصلي نه ده دا د غیر لپاره جائز شوې ده.

نو چې علم النحو ټوله مقصود اصلي نه ده نو شرح جامي به څنګه مقصود اصلي شي.

طالبانو اوس علم نحو پرېښې (ترک) کړې ده دهغوئ په نزد باندې *مقصود اصلي اوس شرح جامي ګرځېدلې ده او هرطالب وايي چې زه به چېرته سخته شرح جامي پیدا کړم، طالب وايي زه فلانکي ځای کې کافيه وايم چې هلته يو ملاصاحب دی چې هغه په الکلمة کې دوه مياشتې بحث کوي، نو تاسې خو غټ غټ طالبان يئ چې الکلمة کې هم چېرته نحو شته دی؟ په کافيه کې له مرفوعاتو پورې يوه قاعده هم د نحوې نشته دی، له مرفوعاتونه اخوا بيا د نحوې قاعدې چالو (شروع) کېږي.

معربات څلورسوه اولس (۴۱۰) قاعدې لري، او څلورسوه لس قاعدې ټولې په کافيه کې پرتې دي خو اوله قاعده يې ده چې الفاعل مرفوع له دېنه مخکې چې يې څه لیکلي دي هغه د رښيي يعني دغه صاحب د کافي يې اصطلاح د نحوې درته د رښيي هغه مخکې خبرې چې ته يادې نه کړې نو بيا به هغه اصطلاح باندې نه پوهېږې د هر فن يوه ژبه وي، عوام خلك کلمه څه ته وايي: لااله الاالله محمدرسول الله ، نحويان کلمه څه ته وايي دا به ته يادوې کنه دا خو صرف ژبه درزده کوي تاته چې يو مُلا غريب لګيا وي به

الکلمة کې دوه میاشتې بحث کوي نو ته ووایه چې ده دا خپل عمر ضائع کړو نه؟

او د طالب عمر یې هم خراب کړو نحو مقصود اصلي نه ده نو دا لا پاتې کافیه شوه که دا نحو سړی په یادو یادولی شي د یو بل ملا له بوږ نه یا د مولا له تقریر نه نو دا کتب هیڅ مقاصد یعني هیڅ مقصد یې نشته، دا صرف د نحوې لپاره یُل دی او نحو د قرآن کریم او حدیث لپاره او د فقهې لپاره یُل دی.

نو دا مقاصد دي مقصودي اصلي نه وي، زما ټول مقصد دا دی چې طالبان غلط پوهول نه دي پکار علما، کیني او طالبانو ته وایي چې طالب له کور نه بهرشي نو فرښتي د رحمت وزرې ورته غوړوي او دی قدمونه د فرښتو په وزرو باندې لګوي.

هوښیك ده احادیثو کې راغلي دي خو دا چاته ګډي دتکملي طالب ته به ګډي څه چې قاضي او حمدالله وایي.

هغه ته هم دا فرښتې وزرې ګډي چې ټول عمر یې د الله تعالی په ذات او صفاتو کې بحث کړی دی اوشك یې په کې کړی وي، یا د امور عامې طالب ته هم فرښتې وزرې خوروي طالب ولې دا علماء غلط پوهوي، هغه خو هغه طالب علم دی چې هغه درس قرآن مجید ته ناست وي، یا درس فقه ته ناست وي درس د حدیث ته ناست وي، یا هغه طالب چې فنون مدون وایي خو ددې د خدمت لپاره ئي وایي، هغه هم طالب دی خو چې نیت خو دا وکړي، او که نیت یې دا نه وي کړی نو زه خو وایم چې د فرښتو وزرې خو ډېرې قیمتي دي، زه خو وایم چې دی دې داسې دعا کوي چې خدایا لعنت راباندې مه

اوروه کوم طالب چې دا فنون مقاصد ګرځوي دا اصلي مقصد مه ګرځوئ ګورئ ددې به رانه تپوس «پوښتنه» وشي زمونږ د ژوند لمحه لمحه قیمتي ده زمونږ له هلاکت نه دبچاو دوه ځیزونه دي یابه صالح جوړېږو یابه مصلح جوړېږو که دا دوه ارادې موکړې وي خو له هلاکت نه بچ شوو اوکه دا دوه ارادې نه وي نوکه د زمانې شیخ الحدیث وي نو په هلاکت کې راغلی دی.

صالح او مصلح:

وَالْعَصْرِ ۝ إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ ۝ إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ ۝ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ۝.[۱]

وَالْعَصْرِ ۝ إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ ۝ قسم مې دی وي په زمن چې یقیناً انسان چې دی لفي خسر داخومره تاکیدي خبره ده والعصر باندې قسم دی تاکید دی ان باندې بل تاکید دی لفي خسر کې لام تاکید یه بل راغي درې تاکید وسره رب کریم وایي:

إِنَّ الْإِنسَانَ لَفِي خُسْرٍ ۝ مستثنی خوك دی، إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ ،ووهم وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ۝ په حق باندې خلکوته وصیت او امر کوي حقه عقیده خلکوته ښائي له غلطو عقدې نه خلك بچ کوي نو دا سړی صالح مصلح جوړ شو لفي خسر نه خلاص دی دا خو د خدای تعالی نص دی.

---

۱ - سورة العصر آیة: ۱- الی آخر سورة.

نو دا مقصود دي څېزونه نه جوړوي نیت به په دې کې دا کوي چې کله زما مطالعه جاري شوه نو دابه په دیوال باندې ولم چې زما عمر یې خراب کړی دی، لس کاله یې زه له عبادت نه هم ویشتلی یم او له درس د قرآن مجید نه یې هم ویستلی یم.

نو درېم له علوم شرعیه و نه مقدمات دي، او څلورم له علوم شرعیونه متممات دي.

دا کومې خبرې چې زه کوم او کوم تقسیم چې مې روان کړی دی، نو امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ دا تقسیم په مقدمه د احیاء العلوم کې کړی دی.

څلورم له علوم شرعیه و نه متممات دي، مَابِهِ تَحْصُلُ الْمُحَافَظَةُ مِنَ الْآفَاتِ الْخَارِجِيَّةِ، دا هغه علوم دي چې په دې سره له خارجي آفتونونه ساتنه راځي، اهل السنة والجماعة دا یو پاك مسلك دی د دوه اویا جماعتونو لخوانه چې خارجي جماعتونه دي، اهل السنة باندې آفتونه دي په دوی باندې اعتراضات دي.

نو دلته څه علوم نور رواشوي دي چې علم الفلسفه والمنطق دي هغهددې لپاره رواشوي دي چې دغه اهل السنة ددغې علوم په قوت سره چې دذهن تشخیص په کې راشي د اهل زیغو دوه اویا جماعتونو مقابله وکړی شي په دې نیت باندې، نو منطق او فلسفه ناروا علوم دي قبیح ذاتي علوم دي خو په دې کې چې حُسن راغلی دی په دې وجه باندې چې دابه په دې نیت باندې استعمالوي چې بیا زه دا اهل زیغو په مقابله کې په دې مناظره وکړم که دا نیت دې

وي خو تيك ده اوكه دا نه وي نو په غلطو كارونو كې اخته شوى يې، دا څلور علوم شو، اصول، فروع، مقدمات، متممات.

اوس خپل درس ته راځو چې: المبحث الاول في معني القران والتفسير لغةً او اصطلاحاً دى.

د قرانكريم او تفسير لغوي او اصطلاحي معنىٰ

بحث الاول دى په معانيو د قرآن كريم او تفسيركې لغةً او اصطلاحاً، قرآن لغةً: په دې كې علماء څلور قوله لري.

اول مذهب: په معنى لغوي د قرآن كريم كې مذهب د امام اشعري رَحِمَهُ ٱللَّهُ دى:

دده په نزدباندې قرآن مصدر دى ماخوذ دى له قرن نه په معنى د ضم (پيوستوالي) سره راځي ځكه چې حروف بعضې بعضوته جمع شوي دې كلمې ترې جوړې دي كلمې بعضې بعضو ته جمع شوي دي نو كلامونه ترې جوړ دي، كلام بعضې بعضوته جمع شوي دي نو سور ترې جوړ دي، سور بعضې بعضوته جمع شوي دي نو منازل ترې جوړ دي، منازل بعضې بعضوته جمع شوي دي قرآن كريم ترې جوړ شوى دى، دا هغه مناسبت دى د معنى لغوي له وجهې د تسميې دكتاب سره په قرآن باندې.

دوهمه رايه: دوهمه رأيه په معنى لغوي د قرآن كريم كې د امام فراء رَحِمَهُ ٱللَّهُ ده:

هغه وايي چې قرآن ماخوذ دى له قرائن نه په معنى د شبهي (مشابهت) سره آياتونه يې خپلو كې مشابهت لري.

Scanned by CamScanner

لِأَنَّ الْأٰيَاتَ تُشْبِهُ بَعْضُهُ بَعْضًا. دا آیاتونه يې په خپلو کې مشابهت لري او د مشابهاتو قرآنيو زور قاريانو او حافظانو ته يې پته لګېږي کله چې ختم کوي او متشابه کې غلط شي په معمولي مشابهت سره بلخوا لا رشي.

په رأيه د امام فراء او اشعري رَحِمَهُمَااللّٰهُ په رأيه باندې نون په قرآن کې اصلي وګرځېد د غير زائد.

دريمه رايه: دريمه رأيه په معنی لغوي د قرآن کې د امام شافعي رَحِمَهُاللّٰهُ ده:

هغه وايي چې دا قران چې کوم دی، عَلَمٌ بِرَأْسِهٖ عَلَمٌ شَخْصِيٌّ لِكِتَابُ اللّٰهِ تَعَالٰى لَيْسَ بِمُشْتَقٍّ وَلَا مُشْتَقٌّ مِنْهُ.

څلورمه رايه: څلورمه رايه په معنی لغوي د قرآن کې رايه د جمهورو ده:

جمهور وايي چې دا مهموز دي، له قَرَءَ يَقْرَءُ قَرْءً وَقِرْءَةً وَقُرْءَانًا.

نه دا تول يې مصادر راځي.

نو په وزن د فعلان دي لکه غفران اوشکران مصدر دی له قرء مهموز اللام نه دي دليل ورباندې دا آيت کريمه دی:

إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُۥ وَقُرْءَانَهُۥ ۝ فَإِذَا قَرَأْنَٰهُ فَٱتَّبِعْ قُرْءَانَهُۥ ۝ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُۥ ۝ (۱)

---

۱ - سورة القيامة آية: ۱۹-۱۸-۱۷.

Scanned by CamScanner

نو دا فعلان وزن دی مصدر دی مبنی للمفعول به بې واخلې په معنی د مقروء سره لوستلی شوی.

إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ ۝ فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ ۝ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ ۝

اى وَقِرَاءَتَهُ فَإِذَا قَرَأْنَاهُ كله چې مونږ ولولو دې لره، فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ اى فَاتَّبِعْ مَقْرُوْءَاتِهِ، مَقْرُوْءَاة د جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ بيا راواخله درا خپل بې كړه.

د قران كريم اصطلاحي معنى:

د قرآن كريم اصطلاحي معنىٰ په نور الانوار كې په تفصيل سره ذكر شوې ده: هُوَ كَلَامُ اللهِ الْمُنَزَّلُ عَلَى مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِوَاسِطَةِ الْجِبْرَئِيْلِ: اَلْمُتَعَبَّدُ بِتِلَاوَتِهِ.

به داخل الصلوة كې ددې تلاوت عبادت گرځول شوی دی.

يُؤْمَرُ بِقِرَاءَتِهِ فِي الصَّلَاةِ وَغَيْرِهَا بِطَرِيْقِ الْعِبَادَةِ.

د قران كريم موضوع:

دقرآن كريم موضوع توحيد دی.

د موضوع ربط له معنى لغوي سره:

ربط بې له معنىٰ لغوي سره څنګه كېږي، هغه په دې معنى سره چې زمونږ ماخذ واخلو د امام اشعرى رَحِمَهُ اللهُ باندې له قرن په معنى د ضم چې جمع ته وايي او موضوع د قرآن مجيد هم توحيد

دی نو معنی دا شوه: اَلْجَامِعُ لِجَمِیْعِ الصِّفَاتِ الْکَمَالِ لِلّٰهِ تَعَالٰی هُوَالْفُرْقَان، هغه چې جامع دی تولو صفاتو کمالیه و د باري تعالی له هغه قرآن کریم دی، او قرآن کریم ته چې فرقان ونیلی کېږي نو معنی دا شوه چې فارق د قلب دی، عَمَّا سِوَی اللّٰهِ تَعَالٰی، زړه له ماسوی الله نه خالي کوي چې ظاهري توحید دی، له اعمالونه ریاء وېستل دا حقیقي توحید دی.

غرض د قران کریم:

اَلْاِجْتِنَابُ مِنَ الظُّلْمِ وَالْعَمَلُ بِالْعَدْلِ.

جمهور وایي: له ظلم نه ځان ساتل او په عدل باندې عمل کول دا غرض د قرآن کریم دی.

بعض علماء وایي: اَلْفَوْزُ وَالْفَلَاحُ فِي الدَّارَیْنِ بِالنَّعِیْم.

دا غرض د قرآن کریم دی.

دریم قول دا دی: اَلْاِتِّقَاءُ عَنِ الْجَهْلِ بِالْمَقَاصِدِ.

په مقصودي شیانو باندې ځان ساتل له جهل نه په قرآن کریم باندې غرض د قرآن کریم دی.

خو جمهور وایي: چې له ظلم نه ساتل او عدل باندې عمل کول دا غرض د قرآن کریم دی.

تعریف الظلم:

ظلم ویل کېږي: وَضْعُ شَيْئٍ فِي غَیْرِالْمَوْضِعِ لَه.

Scanned by CamScanner

دا تندی پکار دی چې خالق ته وضع کړئ شي عبادة سجده ولګېږي، دا ته راواخلي دا سجده په بل ځای کې یې استعمال کړې شرك راشي، إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ، څکه وضع د تندي دې په غیر موضع کې وکړه، دارنګه نور اعمال دي.

د تفسير لغوي معنی:

اول قول: په رأيه د جمهورو باندې دا باب تفعيل دی، فَسَّرَ يُفَسِّرُ تَفْسِيرًا په معنی د کشف بيان او اظهار سره لکه: جِئْنَاكَ بِالْحَقِّ وَأَحْسَنَ تَفْسِيرًا، بمعنی وضاحت، او تفسير هم معنی خفيه معلقه د قرآن رابښکاره کوي.

دوهم قول: دوهم قول په معنی لغوي د قرآن کې دا دی، چې دا ماخوذ دی له تفسيرې نه.

تفسيره په سين سره هغه دوربين ته وايي چې ډاکتر يې د مريض په سينه باندې لګوي، نو تفسير هم ماخوذ دی له هغه تفسيرې نه چې هغې آلې ته وتيلی شي دا هم معنی مخفيه معلقه راوباسي.

دريم قول: دريم في تفسيرکې دا دی تفسير لغة چې کوم دی دا مقلوب د سفر دی، او په حديث شريف کې دا الفاظ راغلي دي «اسفروا بالفجر» مراد ورنه روشنائي «رڼائي» ده.

عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «أَسْفِرُوا بِالفَجْرِ، فَإِنَّهُ أَعْظَمُ لِلأَجْرِ» الحديث (١)

---

١ - سنن الترمذي، ١/٢٨٩.

Scanned by CamScanner

ترجمه: له حضرت رافع بن خديج رضی الله عنه نه روايت دی فرمايي: ما په خپله له رسول الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَىٰ آلِهِ وَسَلَّمَ نه اورېدلي دي: چې فرمايل يې: د سهار لمونځ په رڼاني کې وکړئ ځکه چې دا رڼاني کول د سهار لمونځ په رڼاني کې اداء کول لوی اجر لري.

نو سفر په معنی د ضياء او روښنائي سره دی، او په تفسير کې هم د هغه مخفي معانيو رڼاني او وضاحت دی.

د تفسير اصطلاحي معنی:

په اصطلاحي معنی د تفسير کې مختلف اقوال شوي دي، خو يو معروف تعريف چې هغه محل د تفصيل دی هغه دا چې:

هُوَ عِلْمٌ يُبْحَثُ فِيْهِ عَنْ أَحْوَالِ الْكِتَابِ الْعَظِيْمِ مِنْ جِهَةِ نُزُوْلِهِ وَسَنَدِهِ وَآدَاءِ أَلْفَاظِهِ وَمَعَانِيْهِ الْمُتَعَلِّقَةِ بِالْأَلْفَاظِ وَالْأَحْكَامِ وَأَحْوَالِ النُّزُوْلِ.

دا يو علم دی چې په دې کې له احوالو د کتاب الله شريف نه بحث کېږي، د کتاب الله شريف مختلف حالات دي، لِكُلِّ آيَةٍ ظَهْرٌ وَبَطْنٌ، بطن ارخ ته وايي چې له هغې نه بحث کوي هغه بيا علم التصوف دی، ظاهر اړخونه چې بحث کوي له جهت د نزول نه چې دا آية کوم ځای نازل شوی دی سبب النزول ئې څه شی وه، وآداء الفاظه، علم قراءت ته اشاره ده، معانيه المعلقه بالالفاظ، علم لغة ته اشاره او علم صرف او نحو يې په کې داخل کړل، والاحکام، علم فقه يې په کې داخل کړه، احوال النزول.

Scanned by CamScanner

احوال د نزول ئې درې قسمه دي:

۱- اسباب النزول. ۲- امكنة النزول. ۳- ازمنة النزل.

اسباب النزول:

هرچې اسباب النزول دي، دا په تفسير کې لابدي ده له دېنه ځکه چې ډېر آياتونه د قرآن کريم داسې دي چې هلته د هغې صحيح معنی له شان النزول نه بغير نه معلومېږي.

سبب النزول او د دې معنی څه ده:

علماء کرام دا ليکي چې: أَنْ تُحْدَثَ حَادِثَةٌ فَيَتَنَزَّلَ الْقُرْآنَ الْكَرِيْم بِشَانِهَا: چې يوه حادثه نوې راپيداشي قرآن کريم د هغې دحل لپاره نازل شي دېته سبب النزول وائي ددې د سبب النزل لپاره خپل الفاظ دي، څه الفاظ صريحي دي په سبب النزول کې اوځه الفاظ محتمله دي.

صريحي صيغې په محتمله باندې مقدمې دي هغه الفاظ چې صريح دي په سبية کې دادي راوي ووايي چې: سبب النزول هذه الآية كذا، دا الفاظ چې کله راوي ووايي نو داصريح دی په سببية النزل کې.

دوهم سبب النزول کې چې صريح لفظ دی دُخول د فاء تعقيبي دی په واقعه باندې لکه مثلاً يو راوي وفرمائي چې: سُئِلَ رَسُوْلُ الله صلى الله عليه وسلم عَنْ كَذَا فَنَزَلَتْ، له رسول الله ﷺ نه ددې شي متعلق پرسان وشو فنزلت نو دا فاء تعقيبي داخلول په وروسته د واقعه او له بيان نه نو دا صريح دی په سبب النزول کې.

Scanned by CamScanner

دوهم صيغه محتمله وي بسبب النزول، دهغې لپاره دري الفاظ ذي، راويان يې وايي كله راوي وائي نزلت هذه الآية فى كذا، دا آية په فلانكي مسئله كې نازل دى، كله چې تفسير كې دې داسې عبارت وليده چې راوي داسې وويل نو دا صيغه محتمله لسببية ده متيقنه نه ده كېداى شي د سبب النزول بيانوي كېداى شي چې مسئله اجتهادي وي.

اوكه داسې يې وفرمائيل: چې سبب نزول هذه الآية كذا، يايې داسې وويل چې: سُئل رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلَىٰ آلِهِ وَسَلَّمَ فنزلت ,نو دا الفاظ صريحي دي په سبب النزول كې صيغه محتمله دوه شوې.

١- يو دا چې: نزلت هذه الاية فى كذا.

٢- احسب هذه الآية نزلت فى هذه كذا.

هسې گمان مې دى چې دا آية په دې كې نازل دى دا هم صيغه محتمله لسببية ده.

دريم: ما احسب هذه الآية نزلت الا فى كذا، گمان نه كوم چې دا آيت دې نازل وي مگر په فلانكي مسئله كې، دا دري الفاظ محتمله لسببية دي.

او كه يې وويل چې سئل عن رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلَىٰ آلِهِ وَسَلَّمَ فى كذا فنزلت، يا سئل عن رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلَىٰ آلِهِ وَسَلَّمَ كذا فنزلت، يا سبب نزول هذه الآية كذا دا الفاظ صريح دي په سببية النزول كې.

Scanned by CamScanner

ځلورم: که داسې ځای راغی چې اسباب د نزول مختلف شول نوبه دې وخت کې به دتطبیق څه لارې وي نو د تطبیق لپاره علماء کرام شپږ یا اووه وجهې ذکر کوي.

اوله طریقه د تطبیق:

وګوره چې سبب النزول کې دې روایتین ولیدل دا یو روایت کې الفاظ صریحي دي او دوهم کې الفاظ محتمل دي، نو الفاظ صریحي په الفاظ محتملوباندې مقدم دي هغه به را اخلې دوهم به ضعیف کنې مثلاً:

نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ ۖ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّىٰ شِئْتُمْ «الآیة»[1]

ددې په شان نزول کې اختلاف دی، دوه قوله دي.

۱- یوقول په کې د حضرت عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دی چې هغه روایت د بخاري شریف دی.

۲- دوهم روایت په کې د حضرت جابر ابن عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دی هغه هم روایت دبخاري شریف دی.

له حضرت عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نافع روایت کوي چې یوه ورځ مې د حضرت عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په وړاندې دا آیة: نساؤکم حرث لکم، آیة تلاوت کړو ماته حضرت عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمائیل چې: یَا نَافِعُ! أَتَدْرِي فِي مَا أُنْزِلَتْ هٰذِهِ الآیة: تاته معلومه ده چې دا آیت د څه شي باره کې نازل دی، نافع صاحب

---

۱ - سورة البقرة آیة: ۲۲۳.

Scanned by CamScanner

وايي: قلت لا، ما وويل: چې نه ماته پته نه لګي چې څه باره کې دا آية نازل شوی دی.

ماته يې وفرمائيل: نُزِلَتْ فِي إِتْيَانِ النِّسَآءِ فِي إِدْبَارِهِنَّ.

بيبيانوته راتلل في دبر په دې باره کې نازل دی، خلګ يې له دېنه منع کړي دي، ځکه اتيان في دبر چې کوم دی نو دا موضع د حرث نه دی، او فأتوا حرث باندې امر شوی دی، نو د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ له قول نه پته لګي چې په دې مسئله کې نازل شو، خو لفظ د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ غير صريح دی في السّببيّة، ځکه داسې يې ويلي دي: نزلت في اتيان النساء في ادبارهن، نزلت في كذا، صيغه غير محتمله ده، بالمقابل بخاري شريف کې شان نزول کې دوهم روايت د حضرت جابر ابن عبدالله رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دی، هغه ددې روايت داسې نقل کوي.

كَانَتِ الْيَهُودُ تَقُولُ: إِذَا جَامَعَهَا مِنْ وَرَائِهَا جَاءَ الْوَلَدُ أَحْوَلَ، فَنَزَلَتْ: {نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ} [البقرة:۲۲۳] ،(۱).

که يوسړی له خپلې بي بي سره د شاه لخوانه جماع وکړي او محل يې قبل هم وي نو ولد به يې احول (کوږ سترګی) راځي، نو دا آيت کريمه نازل شو.

{نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنَّى شِئْتُمْ}[البقرة:۲۲۳] ،(۲).

---

۱ - صحيح البخاري: ۲۹/۴.

۲ - صحيح البخاري: ۲۹/۴.

Scanned by CamScanner

ستاسې ښځې ستاسې کښتونه دي ستاسې خپله خوښه ده څنګه مو چې زړه غواړي هغه شان په خپل کښت کې تصرف وکړئ.

اوس دې صورت کې د دغه لفظ د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ صریح دی، فی سببیة النزول، فاء تعقیبي یې داخله کړې ده، فنزلت، او هغه روایت چې کوم دی محتمل دی، نزلت هذه الآیة فی اتیان النساء فی ادبارهنّ، نو دا آیة کریمه به په هغه دوهم آیت کریمه باندې مقدم وي.

نو کلام د حضرت عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: لَیْسَ بِنَصٍّ فَیُحْمَلُ عَلٰی اَنَّهٗ اِسْتِنْبَاطُهٗ وَتَفْسِیْرُهٗ.

اوس به داسې نه وایې چې د حضرت عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قول شان نزول دی، شان نزول نه دی، د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قول به په شان نزول کې نه راځلې، د حضرت عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قول به په استنباط او استخراج کې راځلي څکه هغه له دې آیت نه استخراج کړی دی، چې اتیان ښځیانو ته فی دبر ناروا دی دلیل یې دا آیت کریمه پیش کړی دی په آیت کریمه کې حرث راغلی دی او دبر حرث نه دی، په شان نزول باندې به د هغه قول نه حملېږي.

خلاصه دا کله چې د سببیتو نزول تعرض راشي نو د دفعې لپاره خو یوه طریقه دا شوه چې الفاظ صریحي به په غیر صریحي باندې مقدم کړي.

Scanned by CamScanner

دوهمه طریقه د تطبیق:

دوهم دا چې ته به سند ته ګورې که اسناد دده یو صحیح دی او دوهم ضعیف دی سند مجروح دی، نو اسناد صحیحه به په غیر باندې مقدم کړې، مثال بخاري او مسلم.

عَنِ الأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ، قَالَ: سَمِعْتُ جُنْدَبًا، يَقُولُ: «اشْتَكَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَقُمْ لَيْلَةً أَوْ لَيْلَتَيْنِ»، الحديث.(۱)

له حضرت اسود بن قیس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی فرمایي: چې ما له حضرت جندب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل: رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ بیمار وه د شپې به بیت الله شریف ته راتللو ورته اوږد قیام به یې کولو، دوه شپې مکه معظمه کې راتغلو دبیماري له وجهې نه، دمشرکینو یوه زنانه راغله او ورته یې وویل: يَا مُحَمَّدُ مَا أَرَى شَيْطَانَكَ إِلَّا قَدْ تَرَكَكَ الْعِيَاذُ بِاللهِ، بې ادبي یې وکړه، جبرئیل عَلَيْهِ السَّلَامُ ته یې د شیطان نسبت وکړو، تاته به یو شیطان راتللو خبرې به یې درته راوړلې څو ورځې کیږي چې هغه نه دی راغلی، نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ ته یې پیغور ورکړو.

فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى: وَالضُّحَىٰ ۝ وَاللَّيْلِ إِذَا سَجَىٰ ۝ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَىٰ ۝ وَلَلْآخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْأُولَىٰ ۝ وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰ ۝ أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَىٰ ۝ وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدَىٰ ۝ وَوَجَدَكَ

---

۱ - صحیح البخاري: ۲/۲۹.

عَآئِلًا فَاَغۡنٰى ۝ فَاَمَّا الۡيَتِيۡمَ فَلَا تَقۡهَرۡ ۝ وَ اَمَّا السَّآئِلَ فَلَا تَنۡهَرۡ ۝ وَ اَمَّا بِنِعۡمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثۡ ۝.(۱)

په ځابنت (رڼا ورځې) قسم، او په تياره شپې چې کله هغه له چوپتيا سره خوره شي، (اې پېغمبره!) ستا رب، ته هېڅکله نه يې پرېښي او نه هغه ناخوشې شوی دی، او اروړو ستا لپاره وروستی دور له لومړي دور څخه ډېر ښه دی، او ډېر ژر به ستا رب تاته دومره درکړي چې ته خوشحاله شې، آيا هغه ته يتيم ونه موندلې او بيا يې د اوسېدو ځای درته برابر کړ؟ او ته يې بې ماله وموندلې او بيا يې شتمن کړې، نو په يتيم باندې قهر مه کوه، او سوالگر مه رټه، او په ژبه د خپل رب د نعمت شکر اداکره.

نو په دې آيت کريمه کې د مسلم او بخاري په روايت د جندب البجلي په روايت سره دا دی چې يوې زنانه دا خبره رسول الله صلی الله عليه وسلم ته کړې وه چې: مَا أَرَى شَيْطَانَكَ إِلَّا قَدْ تَرَكَكَ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ، دا الفاظ صريحي فی السببية النزول دي، فاء تعقيبي وربانديې داخله ده، فانزل الله، دا الفاظ صريحي دي في السببية النزول، ليکن طبراني او مصنف ابن ابی شيبة د حفص ابن ميسره په روايت سره چې هغه له خپلې مور نه روايت کوي او هغه مور يې بيا له خپلې مور نه روايت کوي او دغه مور يې (کَانَتْ خَادِمَةُ رَسُوْلِ اللهِ) د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ خادمه وه.

۱ - سورة الضحى الى آخر سورة.

Scanned by CamScanner

إِنَّ جَرْوًا دَخَلَ بَيْتَ نَبِيِّ عَلَيْهِ السَّلَام فَدَخَلَتْ تَحْتَ سَرِيْرٍ.

کوکری (یعني دسپي بچی) د نبي اکريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ کوټې ته راغلی وه او دا څلور ورځې دلته پاتې شوی وه، وحی څلور ورځې نه راتله، نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ وفرمایيل:

يَا خَوْلَةُ مَا حَدَثَ فِي بَيْتِ رَسُولِ اللهِ جِبْرِيلُ لَا يَأْتِينِي؟.

چې زما دې کوټې کې څه چل شوی دی چې حضرت جبرئیل عَلَيْهِ السَّلَامُ نه راځي؟

نوبي بي وايي چې ما له ځان سره ووېل: که چېرته نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ بیرون (بهرته) لاړو نو زه به دا کور ښه صفا کړم چې څه شی په کې پاتې نه وي.

کله چې نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ بهر ته لاړو.

(فَقُلْتُ فِي نَفْسِي لَوْ هَيَّأْتُ الْبَيْتَ، وَكَنَسْتُهُ فَأَهْوَيْتُ بِالْمِكْنَسَةِ تَحْتَ السَّرِيرِ فَإِذَا شَيْءٌ ثَقِيلٌ فَلَمْ أَزَلْ حَتَّى أَخْرَجْتُهُ فَإِذَا بِجَرْوٍ مَيِّتٍ فَأَخَذْتُهُ بِيَدِي فَأَلْقَيْتُهُ خَلْفَ الدَّارِ فَجَاءَ نَبِيُّ اللهِ تَرْعَدُ لَحْيَيْهِ، وَكَانَ إِذَا أَتَاهُ الْوَحْيُ أَخَذَتْهُ الرِّعْدَةُ فَقَالَ: يَا خَوْلَةُ دَثِّرِينِي فَأَنْزَلَ اللهُ: {وَالضُّحَى، وَاللَّيْلِ إِذَا سَجَى، مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ، وَمَا قَلَى} [الضحى: ٢]).(١)

وايي: چې ما کله په کوټه کې جارو ووهله نو د کټ لاندې مې کوکری پیدا کړو، چې څنګه مې هغه بهرته وغورځولو نو نبی کریم

---

١ - المعجم الكبير للطبراني، ٢٤/٢٤٩.

ﷺ راغلو او د وحی دنزول اثر وربانديې دي دوارزه جامې وتنکې ېې رپېدې.

کله به چې نبی کریم ﷺ باندې وحی نازلېده نو لرزه به پرې راتله، ماته ېې وفرمائیل چې دثروني، پټ مې کره.

فانزل الله تعالی: سورة الضحی:

وَالضُّحٰى ۝ وَالَّيْلِ اِذَا سَجٰى ۝ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلٰى ۝

نو په دې شان نزول او هغې کې ډېر فرق دی دا هم صریح دی ف سببية النزول چې فانزل الله دی، او هغه هم صریح دی في سببية النزل چې فانزل الله دی، فاء تعقيبي ده، لېکن روایت د طبراني او مصنف ابن ابي شيبة يعني د (کوکري والا) روایت دا په نزد د شیخینو رَحِمَهُمَااللهُ باندې ضعیف دی هغه اول روایت به په سبب نزول کې بیانوې دوهم به پرېږدې.

ابن حجر رَحِمَهُاللهُ فرمايي:

قَالَ إِبْنِ حَجَرٍ فِي شَرْحِ الْبُخَارِي: (قِصَّةُ إِبْطَاءِ جِبْرِيْل بِسَبَبِ الْجَرْوِ مَشْهُوْرَةٌ؛ لٰكِنْ كَوْنُهَا سَبَبَ نُزُوْلِ الْآيَة غَرِيْبٌ، وَفِي إِسْنَادِهِ مَنْ لَا يُعْرَفُ، فَالْمُعْتَمَدُ مَا فِي الصَّحِيْحِ) .

قصه د وحی د زنډېدو د جبرئیل عَلَيْهِ السَّلَامُ له وجهې د کوکري د واقعې نه دا قصه خو مشهوره ده لېکن سند کې ېې داسې روات دي چې غير معروف دي معتمد به هغه سبب النزول وي چې کوم شیخینو ذکر کړی دی هغه اول روایت دی.

Scanned by CamScanner

چې: مَا أَرَى شَيْطَنَكَ إِلَّا قَدْ تَرَكَكَ، ألعياذ بالله، کومه خبره چې ورته زنانه کړې وه، بله طریقه دتطبیق داده چې سند ته به ځې اوهلته به تحقیق کوې.

دریمه طریقه د تطبیق:

دریمه طریقه چې سبب النزول کې یې تدافع راشي: دواړه صریح في السّببیّة راشي سند هم د دواړو صحیح وي نو بیا به ورسره څه کوې نو بیا طریقه داده چې دواړو رواتوته وګوره چې احدهما حاضر في الحادثه دی او اخر نه دی اوکوم چې حاضرفي الحادثه دی هغې ته ترجیح ورکړه مثلاً: ﴿وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي﴾ ددې په شان نزول کې دوه قوله دي:

۱ - کله چې د مکې معظمې مشرکان مدینې منورې ته راغلل دې وخت کې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ هجرت نه وه کړی او ورته یې وویل: چې مونږ ته داسې اعتراض وښایئ چې مونږ یې په خپل پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ باندې وکړو اوراګیر یې کړو.

یهودو مشرکانوته وویل: چې دا اعتراض پرې وکړئ چې روح څه څیز دی؟ که دا پیغمبر وي جواب به درکړي که نه وي نو بیا جواب نه شي ورکولی.

فانزل الله تعالى: ﴿وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي﴾.

دا روایت د حضرت عبدالله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دی اخراج ددې ترمذي کړی دی، او صریح في سببیة النزل دی.

بلمقابل بل روایت د حضرت عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دی چې دهغې اخراج بخاري کړی دی.

سند د ترمذي او بخاري دواړو صحیح دی صرف په دې باندې ترجیح نه شي ورکولی چې دا راجح ځکه دی چې. دابخاري ذکر کړی دی او دا بل ترمذي ذکر کړی دی دا د محققینو رایه نه ده، محققین رواتو ته ګوري کیدای شي چې په بخاري کې به وي د مسلم په نزد به ضعیف وي، په بخاري شریف کې په دوه اتیا(۸۲) احادیثو باندې جرحه شوې ده.

د مسلم شریف په یوسل او دوه اتیا (۱۸۲) احادیثو باندې جرحه شوې ده کېدای شي مسلم شریف کې به وي خوحدیث به یې په نسبت د ابوداود شریف ته ضعیف وي، دا خو د ظاهري اهل حدیثو رأیه ده چې حدیث په بخاري او مسلم کې وي نو دا به په نورو باندې بهتر وي، ابن حجر رَحِمَهُ اللهُ هم دېته میلان کوي، خو محققین علماء کرام دا نه وايي محققین وايي چې رواتو ته به کتل کېږي چې جارحي د هغوئ په حق کې څه وايي که بیا هر کتاب ذکر کړې وي، نو روایت دبخاري او ترمذي دواړه صحیح دي دواړه صریح دي في سببیة النزل، روایت د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه بخاري نقل کړی دی او روایت د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه ترمذي نقل کړی دی چې مشرکانو دا سوال له یهودو نه زده کړی وو، اودا آیت هم مکې کېدی قبل الهجرة نازل شوی دی.

Scanned by CamScanner

او روایت د حضرت عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ چې بخاري

نقل کړی دی هغه دا دی:

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: كُنْتُ أَمْشِي فِي حَرْثٍ بِالْمَدِينَةِ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَتَوَكَّأُ عَلَى عَسِيبٍ فَمَرَّ بِنَفَرٍ مِنْ يَهُودَ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ، لَوْ سَأَلْتُمُوهُ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: لَا تَسْأَلُوهُ فَيُسْمِعَكُمْ مَا تَكْرَهُونَ، فَقَامُوا إِلَيْهِ ، فَقَالُوا: يَا أَبَا الْقَاسِمِ أَخْبِرْنَا عَنِ الرُّوحِ، فَقَامَ سَاعَةً يَنْتَظِرُ الْوَحْيَ فَعَرَفْتُ أَنَّهُ يُوحَى إِلَيْهِ، فَتَأَخَّرْتُ عَنْهُ حَتَّى صَعِدَ الْوَحْيُ، ثُمَّ قَالَ: {وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي، وَمَا أُوتِيتُمْ مِنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا} [الإسراء: ٨٥] ، الحديث. (١)

له حضرت عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی فرمائي: چې زه له نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ سره په مدینه منوره کې روان وم، نو دیهودو په یوې ډلې باندې ورغلو ، نو وویل بعضو په دوئ کې چې کاش چې له ده نه مو پوښتنه کړې وای، نو علماء د یهودو راوړاندې شول او ویې ویل: چې مونږ ته ووایې چې روح څه څیز دی؟

نو حضرت نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ لګ ساعته پورې اودریدو او خپل سر مبارك یې اوچت کړو، حضرت عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمائي: چې زه پوهه شوم چې اوس ورته وحی نازلیږي تردې چې وحی راغله.

Scanned by CamScanner

قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي، وَمَا أُوتِيتُمْ مِنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا.

هغه هم صحيح دی د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د ترمذي روايت، دا هم صحيح دی هغه هم صريح دی چې فانزل الله او دا هم صريح دی چې: فَعَرَفْتُ أَنَّهُ يُوحَى إِلَيْهِ، فاء تعقيبي وربانديې داخله ده، خو د حضرت عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت په روايت د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ باندې راجح ځکه دی چې دی شاهد فی الحادثه دی دی وايي چې، كُنْتُ أَمْشِي فِي حَرْثٍ بِالْمَدِينَةِ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، زه له رسول الله صلى الله عليه وسلم روان ووم چې دا حادثه وشوه، او حضرت عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ شاهد فی الحادثه نه دی (هغه په دې واقعه کې موجود نه دی).

څلورمه طريقه د تطبيق

كه جمع ممكنه وه جمع په دواړوكې نو جمع دې وكړای شي مثلاً:

وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُن لَّهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ ○.[1]

هغه مثال د آية لعان دی:

وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُن لَّهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ ○.[2]

---

١ - سورة النور آية: ٦

Scanned by CamScanner

روایت دبخاري ترمذي ابن ماجه دی له حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه چې: إِنَّهَا نُزِلَتْ فِي هِلَالِ اِبْنِ أُمَيَّه، دا د هلال ابن امیه متعلق نازل دی، قَذَفَ إمراءتهُ عِنْدَ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، هلال ابن امیه نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ ته راغی او په خپله ښځه باندي یې تور ولګولو او ګواهان ورسره نه وه،آیت دلعان نازل شو جانبینو لعان وکړو جدائي راغله.

او روایت د مسلم د حضرت سهل ابن سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په روایت سره دا دی، چې عویمر ابن اسلمي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راغی او عاصم ابن علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته یې وویل: چې له نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ نه پوښتنه وکړه، چې یوسړی خپل کورته لاړشي او په کورکې له خپلې ښځې سره یو سړی ګیر کړي نوهغه به بهر چغې وهي چې راشئ د ګواهي لپاره که دی به یې قتل کوي؟ زما غیرت خو دا ته مني چې دی ژوندی پریږدم، نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ غصه شو او ویې فرمائیل: انا غیور والله اغیر مني؛ زه ډیر غیرتي یم خو الله تعالی له مانه ډیر غیرتي دی، چې شریعت داسې راغلی دی چې ګواهان په دې کې ضروري دي نوګواهان به لټوي ددې لپاره که ګواهان درسره نه وي او تور مو وتپو نو به دې صورت کې به بیا اتیا،(۸۰) دُرې د حد قذف خورئ.

کله چې دا عویمر ابن اسلمي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپل کورته لاړو نو په دې حادثه باندې وواښت، د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ ازار وهلی وه، نو بیا واپس نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ ته راغی چې

Scanned by CamScanner

له ماسره خو داسې معامله وشوه، بې بې بې راغله اولعان يې وکړو دواړه يې سره جدا کړل.

نو روايت د سهل ابن سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دې دال دی او مسلم او بخاري دواړو ذکرکړی دی چې دا روايت د عويمر ابن اسلمي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په باره کې نازل شوی دی:

وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُن لَّهُمْ شُهَدَاءُ إِلَّا أَنفُسُهُمْ فَشَهَادَةُ أَحَدِهِمْ أَرْبَعُ شَهَادَاتٍ بِاللَّهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ ۝ (١)

او روايت د بخاري ترمذي او ابن ماجه د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دادی چې هلال ابن اميه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خپلې بې بې باندې څه تور تپلی وه دا دهغې باره کې دی، دلته په منځ کې تطبيق په دې طريقه باندې کېږي چې اصلاً آية نازل دی په حادثې د هلال ابن اميه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کې نو اصلاً د هغوئ په باره کې دا مسئله شوې وه يعنې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ ته استفتاء راغلې وه او دغه وخت کې له عويمر اسلمي سره هم دغه معامله شوې وه نو د دواړو باره کې راغی هرڅه خپل ځيز ته عبارت کړی دی خو اصلاً آية نازل دی د هلال ابن اميه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د بې بې باره کې چې کوم لعان شوی دی، او دا دوهم خو اتفاقاً رامنځ ته شوی دی.

---

١ - سورة النور آية: ٢٢.

Scanned by CamScanner

بهر حال علماء د سبب النزول مطابق چې الفاظ صریحې څه دي او غیر صریح څه دي او بیا په هغې کې د تطبیقاتو څه قولونه ذکر کوي.

احوال النزول په درې قسمه دي:

نو تعریف د علم التفسیر مونږ کولو چې په هغې کې لابدي ده له معرفت د احوالو النزل نه او احوال النزول درې قسمه شول.

١- اسباب النزول.

٢- امکنة النزول.

٣- ازمنة النزول.

د امکنة النزول انواع:

دوهم لابدي له معرفة دامکنة النزول نه شوه، امکنة النزول کې قرآن کریم څوارلس (١٤) انواع لري چې دا بحث عبارت دی له معرفة المکي من المدمني نه، مکي له مدني نه جدا کول، او بحث د مکي او مدني چې دا څوارلس (١٤) مباحث لري.

١- ما نزل بمکة: هغه سورتونه او آیتونه چې په مکه معظمه کې نازل شوي دي.

٢- ما نزل بالمدینة: هغه سورتونه او آیتونه چې په مدینه منوره کې نازل شوي دي.

٣- ما اختلف فیه: چې اختلاف په کې شوی وي، چې مکه یا مدینه کې نازل شوي دي.

Scanned by CamScanner

۴- آيات المكية فى سورالمدنية: سورت مدني وي آيتونه يې په کې مکي راغلي وي.

۵- آيات المدنيه فى سورالمكي: آية مدني وي په مکي سورت نازل شوي وي.

۶- ما نزل بمكة وحكمه مدنية: په مكه معظمه کې نازل وي او حکم يې مدني وي.

۷- ما نزل بالمدينة وحكمه مكية: په مدينه منوره کې نازل وي او حکم يې مکي وي.

۸- مايشبه نزول المكى فى المدنية: مکي سورتونوکې مدني مشابه آيت راشي.

۹- مايشبه نزول المدني فى المكي: مدني آيتونه مشابه راشي په مکي آيتونوکې.

۱۰- ماحمل من مكة الى المدينة: هغه آيتونه چې مکې کې نازل دي مدينې ته وړل شوي دي.

۱۱- ماحمل من المدينة الى المكة: هغه آيتونه چې مدينه کې نازل دي مکې ته وړل شوي وي.

۱۲- ما نزل ليلا وما نزل نهاراً: په ورځ کې يا په شپه نازل وي.

۱۳- مانزل صيف ومانزل شتآة: په اوړي کې نازل وي يا په ژمي کې نازل وي.

Scanned by CamScanner

۱۴- مانزل في الحضر وما نزل في السفر: څه په حضر کې نازل دي او څه په سفر کې نازل دي.

دامسمی دی په علم المکي والمدني سره، معروف بس بحث دی د اصول التفسیر، علماء د مکي او مدني سورتونو باره کې ډېر اقوال لري راجح قول دادی چې سور مدني شل (۲۰) دي.

مدني سورتونه:

سورة البقرة، سورة المائده، سورة النور، سورة فتح، سورة مجادله، سورة ال عمران، سورة نساء، سورة انفال، سورة التوبة، سورة الاحزاب، سورة محمد، سورة حجرات، سورة الحديد، سورة الحشر، سورة الممتحنه، سورة الجمعه، سورة المنافقون، سورة طلاق، سورة تحريم، سورة النصر.

اختلافي سورتونه:

سور مختلف فيه چې څوک ئې مدني ګڼي اوڅوک يې مدني ګڼي هغه دولس (۱۲) دي.

سورة الفاتحه، سورة الرعد، سورة الرحمن، سورة صف، سورة تغابن، سورة التخفيف، سورة القدر، سورة البينة، سورة الزلزال، سورة الاخلاص، سورة الفلق، سورة الناس.

Scanned by CamScanner

مکي سورتونه:

دا دولس سور اختلافي دي سوا له دې دوه دیرشونه غیر چې نور خومره دي چې دوه اتيا (٨٢) سور جوړيږي هغه ټول مکي دي: مجموعه د سورو يوسل او څوارلس (١١٤) شو.

آيات مكيه في سور المدنيه لکه سورة الانفال مدني دی خو آيت دی:

وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ ۚ وَيَمْكُرُونَ وَيَمْكُرُ اللَّهُ ۖ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ ۝ (١)

ديرشم نمبر آيت سورة الانفال: دې آيت کريمه باره کې علماء کرام فرمايي چې دا آيت سورة الانفال کې مکي دی، مدني آيتونه په سور مکي کې لکه سورة الانعام، حضرت ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي: جمله واحده باندې مکه مکرمه کې نازل شوی دی، سورة مکي دی خو درې آيتونه په دې کې مدني دي.

چې: (١٥١/١٥٢/١٥٣) آيتونه دي:

قُلْ تَعَالَوْا أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ ۖ أَلَّا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا ۖ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا ۖ وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُم مِّنْ إِمْلَاقٍ ۖ نَّحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ ۖ وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ ۖ وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ ۚ ذَٰلِكُمْ وَصَّاكُم بِهِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ۝

Scanned by CamScanner

وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُ ۖ وَأَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ ۖ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ۖ وَإِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُوا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَىٰ ۖ وَبِعَهْدِ اللَّهِ أَوْفُوا ۚ ذَٰلِكُمْ وَصَّاكُم بِهِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿١٥٢﴾ وَأَنَّ هَٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ ۖ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِ ۚ ذَٰلِكُمْ وَصَّاكُم بِهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٥٣﴾ (١)

په مکه مکرمه کې نازل وي حکم يې مدني وي مثلاً سورة الحجرات، د يارلسم نمبر (۱۳) آيت:

يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا ۚ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ ﴿١٣﴾ (٢)

دا نازل شوی دی په مکه مکرمه کې په ورځ د فتحې باندې دی نو نازل مکه مکرمه کې دی او آيت مدنی دی، لِأَنَّهَا نُزِلَتْ بَعْدَ الْهِجْرَةِ، جمهور دمدني سورتونو دا تعريف کوي چې نازل بعدالهجرة وي او خطاب په کې په يآايهاالناس سره عامه وي، علماء کرام داسې آيت ته چې خطاب عامه وابي، نازل في مکان المکة وي او نازل بعدالهجرة وي نو ديته مانزل بمکة وحکمه مدني، مدني ځکه بعدالهجرة نازل دی.

---

١ - سورة الانعام آيات: ١٥١/١٥٢/١٥٣.

٢ - سورة الحجرات آية: ١٣.

Scanned by CamScanner

عکس ددې ما نزل بالمدينة وحکمه مکيّ، مثال ددې لپاره سورة براءة دی نازل په مدينه منوره کې دی اکثر خطابات په دې مشرکين مکه لره دي.

۸- مايشبه نزول المکي في المدني: مدني سورتونو کې نزول د مکي مشابه وي.

مثال د هغې دسورة الانفال دوه ديرشم (۳۲) نمبر آيت:

وَإِذْ قَالُوا اللَّهُمَّ إِن كَانَ هَٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِندِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا حِجَارَةً مِّنَ السَّمَاءِ أَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٢﴾ (۱).

سورة مدني دی بعد الهجرة نازل دی خو دغه آيت مشابه دی له مکي سورة سره ځکه استعجال دعذاب من الله دا جرئت د مشرکين مکه و دی.

۹- عکس ددې مايشبه نزول المدني في المکي: مکي سورتونو کې مشابه نزول د مدني سورتونو.

مثال د هغې سورة النجم آيت نمبر دوه ديرش (۳۲) دی.

الَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَائِرَ الْإِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ إِلَّا اللَّمَمَ (۲).

۱۰- ما حمل من مکة الی المدينة: هغه آيتونه چې په مکه معظمه کې نازل دي او مدينې منورې ته وړل شوي دي.

---

۱ - سورة الانفال آية: ۳۲.

۲ - سورة النجم آية: ۳۲.

Scanned by CamScanner

امثله د هغې اکثر قرآن کریم دي، ﴿سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى﴾ روایت دی بخاري شریف دی.

عَنِ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: أَوَّلُ مَنْ قَدِمَ عَلَيْنَا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ، وَابْنُ أُمِّ مَكْتُومٍ فَجَعَلَا يُقْرِئَانِنَا الْقُرْآنَ، ثُمَّ جَاءَ عَمَّارٌ، وَبِلَالٌ، وَسَعْدٌ ثُمَّ جَاءَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فِي عِشْرِينَ ثُمَّ جَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا رَأَيْتُ أَهْلَ الْمَدِينَةِ فَرِحُوا بِشَيْءٍ، فَرَحَهُمْ بِهِ حَتَّى رَأَيْتُ الْوَلَائِدَ وَالصِّبْيَانَ يَقُولُونَ: هَذَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ جَاءَ فَمَا جَاءَ، حَتَّى قَرَأْتُ: {سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى} [الأعلى: ١] فِي سُوَرٍ مِثْلِهَا .(١)

ترجمه: حضرت براء ابن عازب رضي الله عنه وايي چې اول مونږ ته مدینې منورې ته راغلل له اصحابو د رسول الله صلى الله عليه وعلى آله وسلم نه، مصعب ابن عمیر، ابن ام مکتوم، مونږ ته یې د قرآن کریم تلاوت کولو، بیا عمار، بلال، سعد او عمر رضي الله عنهم راغلل، بیا نبي کریم صلى الله عليه وعلى آله وسلم راغللو او مونږ ته یې {سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى} سورة تلاوت وفرمائیلو.

١١- ماحمل من المدينة الى المكة: هغه آیتونه چې نازل په مدینه منوره کې دي او مکې معظمې ته وړل شوي دي.

١- سورة النجم آية: ٣٢.

مثال له هغې نه سورة البرآءة دی: چې حضرت علي او حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ورکړی شو چې لاړشي او هلته يې اعلان کړي.

۱۲- مانُزّل ليلاً ومانُزّل نهاراً: هغه آيتونه چې د شپې نازل شوي دي او هغه آيتونه چې د ورځې نازل شوي دي:

اکثر قرآن کريم چې نازل شوی دی نهاراً، يعني د ورځې نازل شوی دی، هغه آيتونه چې د ورځې نازل شوي دي مثال د هغې:

وَ اللّٰهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۶۷﴾ (۱).

الله تعالی د خلکو له شر څخه ستا ژغورونکی دی، يقيناً الله تعالی به هېڅکله (ستا په مقابله کې) کافرانو ته د برې لاره ونه ښيي.

أَخْرَجَ إِبْنِ حَبَان فِي صَحِيْحِهِ، وَابْنِ الْمُنْذِر، وَإِبْنِ مَرْدَوَيه وَابْنَ أَبِي الدُّنْيَا عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا: أَنَّ بِلَالًا أَتَى النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُؤذنه لِصَلَاةِ الصُّبْحِ فَوَجَدَهُ يَبْكِي، فَقَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى الله عليه وسلم مَا يَبْكِيْكَ؟ قَالَ: وَمَا يَمْنَعُنِي أن أبكِي وَقَدْ أنزل عليَّ هٰذه الليلة:

إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَاٰيٰتٍ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ ﴿۱﴾.

ثم قال: وَيْلٌ لِمَنْ قَرَأَهَا، ثُمَّ لَمْ يَتَفَكَّرْ.

روایت د حضرت ابن حبان دی په صحیح کې او د حضرت ابن المنذر دی او د حضرت ابن مردویه دی او ابن ابی دنیا دی او د حضرت عائشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا په روایت سره چې حضرت بلال رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ ته راغی د سهار د اذان لپاره چې د سهار د لمونځ لپاره اذان وکړي «فَوَجَدَهُ يَبْكِي»ګوري چې نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ ژاړي، حضرت بلال رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ورته وویل: يَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى الله عليه وسلم مَا يُبْكِيكَ؟ څه شی دې ژړوي «ولې ژاړې؟» یا رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ؟

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: ولې به نه ژاړم نن شپه په ما باندې نازل شو.

إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَاٰيٰتٍ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ ﴿۲﴾.

بیا رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ وفرمایل:

---

۱ - سورة آل عمران آية: ۱۹۰.

۲ - سورة آل عمران آية: ۱۹۰.

Scanned by CamScanner

وَيْلٌ لِمَنْ قَرَأَهَا، ثُمَّ لَمْ يَتَفَكَّرْ.

هلاکت دی د هغه چا لپاره چې دا آیة لولي او تفکر په کې نه کوي.

او هغه چې د شپې نازل شوي دي له هغې نه مراد د سورة التوبة آيتونه دي.

وَعَلَى الثَّلَٰثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا (۱).

دا آیة کریمه د حضرت کعب ابن مالك، حضرت هلال ابن امیه او حضرت مراره بن ربیع رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ په حق کې نازل شوي وه.

۱۳- ما نزل صيفاً وما نزل شتاءً: هغه آيتونه چې په اوړي کې نازل دي او هغه آيتونه چې په ژمي کې نازل دي.

مثال د هغې لپاره د سورة النساء آخري آيت دی:

يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ (۲).

امام مسلم د حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په روایت باندې فرمائي: چې ما له نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ سره په یو آیت کې هم دومره مراجعه اوپوښتنې نه وې کړې څومره چې مې په مسئله دکلاله کې کړې وې، اوبیا فرمایي: وَمَا أَغْلَظَ لِي فِي شَيْءٍ مَا أَغْلَظَ لِي فِيهِ، چې ماته کله هم دومره هم دومره نه دی غصه شوی څومره چې دکلاله په مسئله کې ماته غصه شوی وه، حَتَّى طَعَنَ بِإِصْبَعِهِ فِي

۱- سورة التوبة آية: ۱۱۸.

۲- سورة النساء: آية ۱۷۶.

Scanned by CamScanner

صَدْرِي، هغه فرماني: چې ما به ترې باربار پوښتني کولې چې د کلاله باره کې دې پوره تفصيل ونه کړو، اخري وابي داسې دا ګوته يې زما په دې سينه کې راکړه په سينه کې يې ووهلم، دا د غصې وهل نه دې دا توجه ده، وَقَالَ: يَا عُمَرُ، أَلَا تَكْفِيكَ آيَةُ الصَّيْفِ الَّتِي فِي آخِرِ سُورَةِ النِّسَاءِ، اوبيا فرماني ماته يې وفرمائيلو: چې آيا تاته کافي نه دې هغه آيت داوړي چې په آخر د سورة النساء کې دې:

يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ (١).

نو دېته نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ آيت د صيف ووېل: يا هغه آيتونه چې په اوړي کې نازل شوي دي مثال د هغې هغه آيتونه دي چې په حق د غزوه تبوک کې نازل شوي دي چې سخته ګرمي وه او منافقانو چيغې وهلې:

لَا تَنْفِرُوا فِي الْحَرِّ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا لَوْ كَانُوا يَفْقَهُونَ (٢).

هغه آيتونه چې په سخت ژمي کې نازل دي، بخاري شريف له حضرت عائشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا روايت دې چې آيتونه زما د صفائي چې په سورة النور کې راغلي دې:

---

١ - سورة النساء: آية ١٧٦.

٢ - سورة التوبة آية: ٨١.

Scanned by CamScanner

﴿إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِّنكُمْ﴾ تر دي آيت پورې چې ﴿لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ﴾ [۱]، انها نزلت في يوم شات.

دغه آيتونه نازل شوي دي په سخته يخنۍ کې.

يا هغه آيتونه چې د غزوه خندق متعلق نازل شوي دي هغه هم په شديده يخنۍ کې نازل شوي دي.

۱٤- ما نزل فى الحضر وما نزل فى السفر: اکثر آيتونه نازل فى الحضر دي او بعضې آيتونه نازل فى السفر دي.

مثال لکه د سورة الحج لومړنی آيت.

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ ۚ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ﴾ [۲]،

عمران ابن حصين رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په روايت د حاکم ترمذي سره وايي چې انزلت هذه وهو فى السفر، دا د سفر په حال کې نازل شوی دی.

د مکي او مدني ايتونو په منځ کې فرق

د مکي او مدني آيتونو په منځ کې علماء کرام په درې قولونو باندې فرق کوي.

اول قول

اول قول د جمهورو علماو دی او دوه قولونو باندې بې څه جرحې شته دي.

---

۱ - سورة التوبة آية: ۸۱.

۲ - سورة النور آية: ۱-۲۴.

Scanned by CamScanner

اول قول دا دی چې اعتبار مخاطب لره دی.

مکي چاته وايي: ماكان فيه خطاب لاهل المكة: چې په هغه آيتونو کې اهل مکه و ته خطاب وي.

مدني چاته وايي: ماكان خطاب لاهل المدينة: هغه آيتونه چې په هغه آيتونو کې اهل مدينه و ته خطاب وي.

يعنې له اول نه تعبير په لفاظ عام سره کوي چې يا ايهاالناس دی، له دوهم نه تعبير کوي په لفظ خاص سره کوي چې: يا ايهاالذين امنوا دی، نو وايي چې کوم سورتونه چې په هغې کې تصدير يا په وسط وسط کې خطابونه په يا ايهاالذين سره دي دا مدني وي اوکه په يا ايهاالناس سره خطابونه دي نوبيا مکي دي دا د بعضو قول دی، خو دا قول په تعريف دمکي اومدني کې په تميز د مکي مدني کې صحيح نه دی شامل کل افرادونه نه دی، ځکه چې اعتراض پرې راځي په سورة البقرة باندې، سورة البقرة مدني دی اتفاقاً او سورة البقرة کې يا ايهاالناس اعبدوا ربكم الذي: خطاب عام موجود دی، که موږ د مکي سورتونو دا تعريف وکړو چې په وسط او ابتداء کې خطاب په يا ايهاالناس: سره وي نو پکار دا ده چې داسورة مکي شي او مدني نه شي حال دا دی چې دا سورت اتفاقاً مدني دی.

دارنګه په وسط د سورت بقره کې داهم راځي:

يَا أَيُّهَا النَّاسُ كُلُوا مِمَّا فِي الْأَرْضِ حَلَالًا طَيِّبًا وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿(١)﴾.

دارنګه سورة النساء مدني دی اتفاقاً.

خو د سورة النساء په اول کې تصدير راخي په يا ايهاالناس اتقوا سره دی اوبالعکس که دا ووايو چې يا ايهاالذين امنوا په مدني کې راخي نو منقوض به شي په سورة الحج سره چې مکي دی لیکن په وسط کې یې:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا وَاعْبُدُوا رَبَّكُمْ وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿(٢)﴾ راخي، نو دا فرق هم صحيح نه دی.

دوهم قول

بعض علماء وايي چې اعتبار مکان النزول ته دی.

مکي سورة چاته وايي: مانزل المکة وماجاورها، چې په مکه او ګاونډ کې نازل وي او مدني سورة چاته وايي: ما نزل المدينة وماجاورها، چې مدينه او ګاونډ د هغې کې نازل شوي وي، داقول هم صحيح نه دی ځکه چې حصر بياپه ثنيائيت دقسمت کې بيا صحيح نه شو، دا قول چې کل سور مکي يامدني دي دا صحيح نه شو ځکه چې داسې آيتونه شته چې نه مکه معظمه کې نازل شوي

---

١ – سورة البقرة آية: ١٦٨.

٢ – سورة الحج آية: ٧٧.

Scanned by CamScanner

اونه مدینه منوره کې نازل شوي دي دبدر په خواکې یا دتبوک په خواکې نازل شوي دي نو بیا به دهغې دوهم نوم څه څیز وي.

درېيم قول:

درېيم قول دجمهورو علماو دی چې هغوئ فرمائي: مانزل قبل الهجرة فهو مكية، مکي سورتونه هغې ته وایي چې مخکې له هجرت نه نازل دي، مانزل بعدالهجرة فهو مدنية، او مدني سورتونه هغه دي چې هغه له هجرت نه بعد نازل شوي دي.

قبل الهجرة چې نازل دي که هغه په هرځه کې وي بعدالهجرة چې نازل دي اګرکه په کعبه کې هم نازل دي هم مدني دي.

الفرق بين المكي والمدني:

۱- كل سورة فيها سجدة فهى مكية: په کوم سورت کې چې سجده تلاوت وي هغه مکي دي.

۲- كل سورة فيها لفظ كلا فهي مكية: په کوم سورت کې چې لفظ د کلا موجود وي هغه مکي دی.

پنځلس اولو سپاروکې لفظ د کلا نشته دی دا له پنځلسو نه بعد راغلی دی او په پنځلسو سپارو،سورو، تقریبا درې دیرش (۳۳) ځایه ذکر راغلی دی.

۳- هر هغه سورت چې په هغې کې خطاب د یاایهاالناس موجود وي خو د ایهاالذین امنوا موجود نه وي دا به مکي وي مدنیه به نه وي، سوا له سورة الحج نه دا یوه استثنا به کوي.

Scanned by CamScanner

۴. هر هغه سورت چې په هغې کې د قصص الانبياء والامم الغابرة، يعنې د پخوانيو امتونو قصص موجود وي نو دا سورت به مکي وي مدني به نه وي سوا له سورة البقرة نه ځکه چې هغه مدني دی، خو د حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ قصه په کې شته دی.

۵- كل سورة فيها واقعة ابليس مع آدم عليه السلام فهي المكية الاالبقرة:

هرسورة چې په هغې کې واقعه د ابليس عليه العنة او او ادم عَلَيْهِ السَّلَامُ راغلې وي هغه به مکي وي سوا له سورة بقره نه، دابليس او د ادم عَلَيْهِ السَّلَامُ واقعه په قرآن کريم کې اوه ځايه راغلې ده.

۶- كل سورة تفتتح بحروف التهجي فهي مكية الاالبقرة و آل عمران.

هرسورت چې د هغې افتتاح په حروف تهجي سره شوې وي هغه به مکي وي سوا له زهراوينو نه چې هغه سورة البقره دی او سورة آل عمران دی، چې مُصدر دي په الف لام ميم سره او دي مدني، که هغه الف لام ميم دی او که الراء دی که حم دی او مثل ددې نور دي .

دا شپږ مميزات المكي من المدني، چې هغې سره مکي سورتونه له مدني سورتونه معلوميږي.

Scanned by CamScanner

د مکي سورتونو خلاصه:

اربعة عظيم دعوي لري:

اوله لويه دعوی: اثبات التوحيد بالدلائل: چې په سلسلة الدلائل کې به د هغې تفصيل راشي چې دليل څه راځي، په هغې کې دليل نقلي هم راځي اوعقلي هم راځي، په عقلي کې بيا انفسي هم راځي خارجي هم راځي په خارجي کې بيا ارضي هم راځي سماوي هم راځي جموي هم راځي، مختلف قسم دلائل راځي.

دوهمه لويه دعوی: اثبات الرسالت: د رسالت اثبات.

دريمه لويه دعوی: صداقة القرآن بتسليم الدعوين: د نورو دوه دعوو د تسليم لپاره د قرآن کريم صداقت هم مکي سورو کې دي.

څلورمه لويه دعوی: مجادلة المشرکين بالبراهين العقلية: مناظره له مشرکينو سره په عقلي دلائلو سره، دا هم مکي سورتونو کې دي.

پنځمه لويه دعوی: دعوی البعث بعدالموت: چې مشرکين ددې منکرين وو.

شپږمه لويه دعوی: ذکرعذاب والنار لتخويف: د جهنم او او عذابونو ذکر لپاره د تخويف.

اوومه لويه دعوی: قصص الانبياء والامم الغابرة للوعظ والنصيحة ولمختلف المقاصد: خپل خپل ځای کې خپل مقصد لري.

Scanned by CamScanner

مميزات المدني من المكي

١- كل سورة فيها فريضة او حد فهي مدنية: په کوم سورت کې چې د پنځ بناء اسلام يوه فريضه راغله او يا په کې حد راغی نو دا مدني دی.

٢- كل سورة ذكر المنافقين سوى العنكبوت مدنية: په کوم سورت کې چې ذکر د منافقانو راغی سوی له سورت عنکبوت نه نو دا سورت به مدني وي.

٣- كل سورة فيها مجادلة اهل الكتاب فهي مدنية: په کوم سورت کې چې مجادله او مناظره د اهل کتابو راغله نو دا سورت به مدني وي.

۴- دعوى مبينة في سور المدنية: څه شی دي، اربعة دعه دعواګاني دي مجملې راغلي.

١- دعوت التوحيد.

٢- اثبات الرسالة.

٣- صداقة القرآن.

۴- بعث بعد الموت.

او ورسره دوه مشهورې دعوې نور په مدني سورو کې وي چې: جهاد في سبيل الله، او انفاق في سبيل الله دی.

تفصيلي مسائل چې راغلي، بيان العبادات الجزئيه، والمعاملات، والحدود في بقاء النظام، والمواريث، علاقات الدولية في الحروب، يعني مختلفو ملکونه سره به تعلقات او سفارتي اړيکې څنګه وي.

Scanned by CamScanner

دا په مدني سورتونو کې چېرل کیږي مخاطبت د اهل کتابو او یهودو او نصرانیانو او دعوت د هغوی اهل اسلام لره.

لکه چې مکي سورتونو کې دعوت مشرکینو ته وه اکثراً مدني سورتونو کې به اهل کتاب ته وي، الکشف عن سلوك المنافقين، دمشرکنیو رازونه افشاء کول.

طول المقاطع والآيات في أسلوب يقرر الشريعة ويظهر أحداثها ومراميها. انتهى

اوږده اوږده فاصلې او آیاتونه مکي سورتونو کې لنډ لنډ اعجاز القران ته اشاره وي مدني سورتونو کې اوږده اوږده وي.

تو مونږ تعریف د تفسیر اصطلاحاً په دې سره وکړو چې معرفة داحوال النزول په پېژنې او احوال النزول اسباب النزول امکنة النزول په دې کې لابدي ده یعني ضروري دي، نو په دې کې لابدي شوه له معرفة دمکي له مدني نه.

دریم ازمنة النزول:

چې داعبارت دی له معرفة د اول مانزل او آخر ما نزل نه، چې اول څه نازل او آخر څه نازل دي، اصح الاقاويل په اقوالو کې چې تقريباً شپږ (٦) قولونه شوي دي په اول مانزل کې خو اصح په اقوالو کې دا دی چې:

﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ ۝﴾ (١) اول مانزل دی.

---

١ - سورة العلق آية: ١.

دلیل وړاندې روایت د بخاري او مسلم شریف دی:

عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ أَنَّهَا قَالَتْ: أَوَّلُ مَا بُدِئَ بِهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْوَحْيِ الرُّؤْيَا الصَّالِحَةُ فِي النَّوْمِ، فَكَانَ لَا يَرَى رُؤْيَا إِلَّا جَاءَتْ مِثْلَ فَلَقِ الصُّبْحِ، ثُمَّ حُبِّبَ إِلَيْهِ الْخَلَاءُ، وَكَانَ يَخْلُو بِغَارِ حِرَاءٍ فَيَتَحَنَّثُ فِيهِ - وَهُوَ التَّعَبُّدُ - اللَّيَالِيَ ذَوَاتِ الْعَدَدِ قَبْلَ أَنْ يَنْزِعَ إِلَى أَهْلِهِ، وَيَتَزَوَّدُ لِذَلِكَ، ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى خَدِيجَةَ فَيَتَزَوَّدُ لِمِثْلِهَا، حَتَّى جَاءَهُ الْحَقُّ وَهُوَ فِي غَارِ حِرَاءٍ، فَجَاءَهُ الْمَلَكُ فَقَالَ: اقْرَأْ، قَالَ: «مَا أَنَا بِقَارِئٍ»، قَالَ: فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجَهْدَ ثُمَّ أَرْسَلَنِي فَقَالَ: اقْرَأْ، قُلْتُ: مَا أَنَا بِقَارِئٍ، فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّانِيَةَ حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجَهْدَ ثُمَّ أَرْسَلَنِي، فَقَالَ: اقْرَأْ، فَقُلْتُ: مَا أَنَا بِقَارِئٍ، فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّالِثَةَ ثُمَّ أَرْسَلَنِي، فَقَالَ: ﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ. خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ. اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ﴾ [العلق: ٢]الحديث.[١]

اول دلیل:

د حضرت بي بي عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا روایت دی هغه فرمائي چې نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ ماته وفرمائیل: چې اول د وحی له شروع نه مخکې به ما ښکلي خوبونه لیدل، اوچې کوم خوب به نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ لیدلو نو دصبا دڅاودلو په شان به صحیح ختلو، دې سره ورته خانته والی ډیرمحبوب شو، بیا به

١ - صحيح البخاري: ١/٧.

غار حراء ته تللو اوعبادت به یې کولو، حضرت عائشه رضي الله عنها ددې واقعې تفصیل بیانوي اوبیا آخرکې فرماني: چې نبي کریم صلى الله عليه وعلى آله وسلم ته په غار حراء کې جبرئیل علیه السلام راغی او ورته یې وفرمائیل: چې اقراء باسم ربك الذي خلق الخ، نو نبي کریم صلى الله عليه وعلى آله وسلم ورته وفرمائیل: چې ما انابقارئ، بیا جبرئیل علیه السلام خپلې سینې مبارکې ته رانژدې کړو او زور یې ورکړو تر دې پورې دغه شان معامله وه په خلورمه بار باندې نبي کریم صلى الله عليه وعلى آله وسلم وفرمائیل: اقرا باسم ربك الذي خلق نو حضرت عائشه رضي الله عنها فرماني چې اول سورة چې له آسمان نه نازل شوی دی هغه سورة العلق دی.

دوهم قول چې :اول مانازل سورة المدثر دی:

دا هم روایت د بخاري او مسلم دی:

وَحَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ، قَالَ: سَمِعْتُ يَحْيَى، يَقُولُ: سَأَلْتُ أَبَا سَلَمَةَ أَيُّ الْقُرْآنِ أُنْزِلَ قَبْلُ؟ قَالَ: يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ، فَقُلْتُ: أَوِ اقْرَأْ؟ فَقَالَ: سَأَلْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ أَيُّ الْقُرْآنِ أُنْزِلَ قَبْلُ؟ قَالَ: يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ، فَقُلْتُ: أَوِ اقْرَأْ؟ قَالَ جَابِرٌ: أُحَدِّثُكُمْ مَا حَدَّثَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: جَاوَرْتُ بِحِرَاءٍ شَهْرًا، فَلَمَّا قَضَيْتُ جِوَارِي نَزَلْتُ فَاسْتَبْطَنْتُ بَطْنَ الْوَادِي، فَنُودِيتُ فَنَظَرْتُ أَمَامِي وَخَلْفِي، وَعَنْ يَمِينِي، وَعَنْ شِمَالِي، فَلَمْ

Scanned by CamScanner

أَرَ أَحَدًا، ثُمَّ نُودِيتُ فَنَظَرْتُ فَلَمْ أَرَ أَحَدًا، ثُمَّ نُودِيتُ فَرَفَعْتُ رَأْسِي، فَإِذَا هُوَ عَلَى الْعَرْشِ فِي الْهَوَاءِ - يَعْنِي جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ - فَأَخَذَتْنِي رَجْفَةٌ شَدِيدَةٌ، فَأَتَيْتُ خَدِيجَةَ، فَقُلْتُ: دَثِّرُونِي، فَدَثَّرُونِي، فَصَبُّوا عَلَيَّ مَاءً، فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: {يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُمْ فَأَنْذِرْ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ} [المدثر: ۲] الحديث.(۱)

دوهم قول: چې اول مانزل سورة المدثر دی:

روايت د بخاري اومسلم شريف دی دحضرت جابر بن عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په روايت سره: سلمی ابن عبدالرحمن وايي چې ما له حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه پوښتنه وکړه چې اول کوم سورة دقران کريم نازل شوی دی، وايي هغه راته وفرمائيل: چې اول مانزل سورة المدثر يعني سورة مدثر اول نازل شوی دی، هغه فرمائي چې ما ورته وفرمائيل چې ما خواوريدلي دي اول اقراء باسم ربك الذى خلق دا اول نازل شوی دی،

نو وايي هغه راته وفرمائيل: چې هغه بيان درته کوم کوم بيان چې نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ مونږ ته کړی دی.

بيايې راته حديث بيان کړو چې نبی کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ راته وفرمائيل: چې زه به غار حراء ته تللم زه يوه ورځ له غار حراء نه راکوزيدم دخوئ او کندي خښتي ته چې راغلم نو آواز راته وشو، چې ما يو ځوا اوبلخوا وکتل نوهېڅوک په نظرباندې نه رانلل چې

1 - صحيح المسلم: ۱/۱۴۴.

پورته آسمان ته مې وکتل نو جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَام مې وليدو په مابانديې يخني راغله چې کورته راغلم نو حضرت خديجې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته مې ووايل: چې په مابانديې کمبل راواچوه، نو زه يې پټ کړم (فانزل الله يا ايها المدثر) (سورت مدثر).

دحضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دليل دادی چې اول سورة المدثر نازل شوی ددې دواړو په مينځ کې تطبيق داسې دی چې دحضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مقصد دادی چې اول ما نازل سورت تماماً وسورة چې تول په يو وخت کې نازل شوی دی هغه سورة المدثر دی.

او هغه دوهم روايت چې اقراء باسم ربك الذی خلق دی هغه کل سورت په يوځل باندې نازل شوی نه دی، دغه وخت کې صرف له علم الانسان مالم يعلم پورې نازل شوی دی داباقي آيتونه يې څوکاله وروسته نازل شوي دي.

ګوره راجح قول دادی چې په دولسم کال دبعثت باندې معراج شوی دی، نو ددغې حادثې نه دولس کاله بعد معراج وشو، په معراج کې پرې لمونځ فرض شو د لمونځ له فرضيت نه بعد به نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ حرم شريف ته دلمانځه لپاره تللو لمونځ به يې کولو، او ابوجهل لعين دا اراده وکړه چې داخل چې کله نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ مسجد نبوي ته لاړ شي او چې کله دی سجدې ته کوزيږي نو زه به خپله پښه راولم اوغټ غټ کاڼړو باندې دی مبارك ولو نو الله تعالی آيات نازل کړو:

كَلَّا لَئِن لَّمْ يَنتَهِ لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ ﴿١٥﴾ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ ﴿١٦﴾ فَلْيَدْعُ نَادِيَهُ ﴿١٧﴾ سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ ﴿١٨﴾ (١).

ترجمه: كه چېرته منع نه شو دا ابوجهل نو مونږ به دی دمخي له وېښتانو ونيسو، هغه چې صاحب يې دروغجن دی بيا دي خپل هم مجلس راوغواړي مونږ به د جهنم زبانيه فرښتې راوغواړو چې:

عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ ﴿٣٠﴾ (٢).

چې هغه نولس فرښتې دي.

نبي اكرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ فرماني: چې بيا ابوجهل له مانه بند شو بيابه نه راتلو كه ده زما په طرف باندې د كانړو ويشتلو اراده كړې واى نو يقيناً د جهنم هغه فرښتې به ښكاره راغلې وې او دى به يې ويشتلى واى، نو هغه هم ددې سورت آيتونه دي خو هغه بيا له دېنه دولس كاله بعد نازل شوي دي، د معراج له واقعې نه هم بعد نازل شوي دي.

اول تطبيق

اول تطبيق دادى چې دحضرت جابر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ مقصد دادى، اول مانازل سورة تماماً سورة المدثر دى، او روايت د بخاري شريف كې چې راغلي دي چې اول مانازل اقراء دى نو هغه يوڅو آيتونه دي كل سورت نه دى كل سورت بيا وروسته تمام شوى دى.

---

١ - سورة العلق آية: ١٥-١٨.

٢ - سورة المدثر آية: ٣٠.

Scanned by CamScanner

دوهم تطبيق

دوهم تطبيق چې اول مانزل دبخاري روايت دی چې اقراء دی او دبخاري او مسلم دوهم روايت حضرت جابر رضي الله عنه فرمايي چې سورة المدثر دی، نو دجابر رضي الله عنه د روايت مقصد دا دی چې اول مانزل بعد فطرة الوحی، اقراء سورت چې نازل شو بيا درې کاله وحی بنده شوه، نبي کريم صلی الله عليه وعلی آله وسلم به غار حراء ته تللو او راتللو دبرشېې به يې وکړې بيا به راتللو درې کالو پورې بيا وحی نه وه راغلې، درې کاله بعد بيا نبي اکرم صلی الله عليه وعلی آله وسلم دغار حراء نه راتللو او وادي ته راورسېدو نو آوز پرې کېږي او آسمان کې يې حضرت جبرئيل عليه السلام وليدو او سورت المدثر نازل شو، نو د حضرت جابر رضي الله عنه روايت علماء کرام حملوي په اول مانزل بعد فطرت الوحی باندې، چې وحی درې کاله بنده شوې وه له هغې نه بعد چې اول شروع شوه نو سورت المدثر نازل شو.

او هغه آيتونه چې په بخاري شريف کې دي، هغه حمل دي په دې چې اول نازل شوي آيتونه هغه دي، شمائل ترمذي کې له حضرت علی رضي الله عنه نه روايت دی هغه دنبي کريم صلی الله عليه وعلی آله وسلم عمر مبارك شماري چې بعثت په څلوېښت (٤٠) کاله کې وشو لس (١٠) کاله وحی مکه معظمه کې نازلېده لس (١٠) کاله مدينه منوره کې نازلېده، کان عمره ستين سنة: عمريې شپېته (٦٠) کاله وه، نو علماء کرام مورخين دلته وايي چې عمر دنبي کريم صلی الله عليه وعلی آله وسلم

Scanned by CamScanner

دري شپېته (۶۳) کاله وه نو څنګه حضرت علي کرم الله وجهه شپېته (۶۰) وایي؟ نو جواب داکوي چې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د عمر شمارلو کار نه کوي هغه دنبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ د وحی دنزول خبره کوي، نو د وحی نزول مکه او مدینه منوره کې لس (۱۰) کاله وه هغه درې (۳) کاله وحی نه نازلېده هلته وحی بنده شوې وه.

نو حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت به حمل کړو په اول مانزل بعد فطرة الوحی باندې دا دوهم تطبیق شو.

دریم تطبیق:

اول مانزل لنبوة سورت اقراء دی.

اول مانزل لرسالة هغه سورت المدثر دی.

نو اقراء سورت کې خو درسالت څه پیغام نه دی چې نوروته رسیده کړي وکړه او: قم فانذر وربك فکبر، هغه سورت المدثر کې ورته امر کېږي.

نو روایت د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اول مانزل رسالة دی.

او روایت دحضرت عائشه بي بي د بخاري شریف په روایت سره اول مانزل لنبوة، سورت الاقراء دی.

دریم قول:

دریم قول دادی چې اول مانزل سورة الفاتحه دی، عمده قول نه دی قائل یې معلوم نه دی، څه علماو نقل کړی دی جواب ترې داکېدای شي مطلب به دده داوي چې اول ما نزل سورة الکاملة وي.

Scanned by CamScanner

څلورم قول

څلورم قول دا دی چې اول ما نازل، بسم الله الرحمٰن الرحيم دی. دا دواړه روايات مرفوع روايت نه لري روايتين يې مرسله دي.

اخرمانزل کې مختلف اقوال دي

اول قول

امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په روايت سره دا ليکي چې آخر ما نازل هغه آيتونه د ربوا دي.

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ۝ (١).

دا اخر کې نازل شوي دي.

دوهم قول

دوهم چې احد ما نازل دا آيت دی.

وَاتَّقُوا يَوْمًا تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى اللَّهِ (٢).

دريم قول

اخرمانزل په روايت د سعيد ابن مسيب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې:

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا تَدَايَنْتُمْ بِدَيْنٍ إِلَى أَجَلٍ مُسَمًّى فَاكْتُبُوهُ الآية (٣).

---

١ - سورة البقرة آية: ٢٧٨.

٢ - سورة البقرة آية: ٢٨١.

٣ - سورة البقرة آية: ٢٨٢.

Scanned by CamScanner

دا هم د سورة البقرة آخري آیتونه دي، تطبیق د درې وارو اقوالو دا دی چې دا دوه قوله د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دي او یوقول دحضرت سعید ابن مسیب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تطبیق دادی چې دا درې واړه آیتونه اول ما نزل دي په اتفاق دعلماو باندې په دغه ترتیب نازل دی څنګه چې سورة بقرة کې دي.

څلورم قول:

بخاري اومسلم شریف د حضرت براء ابن مسیب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په روایت سره دی چې:

عَنِ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: آخِرُ آيَةٍ نَزَلَتْ خَاتِمَةُ سُورَةِ النِّسَاءِ: {يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ}[النساء: ۱۷۶] الحدیث.(۱)

دا آیت آخر ما نزل دی.

جواب:

مقصود دبراء ابن مسیب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دې سره چې اخرمانزل دا آیت دی نو اخرمانزل فی حق بیان المواریث دمیراث په مسائلو کې چې اول دا آیت نازل شوی دی حقیقت کې نه دی حقیقت کې هغه اقوال راجح دي کوم چې د سورة البقرې آیتونه دي هغه اخر مانزل دي.

پنځم قول:

اخر مانزل د سورة التوبة دا آخري آیتونه دي.

---

۱ - صحیح البخاري ۱۵۲/ ۸.

Scanned by CamScanner

لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ عَزِيْزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيْصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٢٨﴾.(١)

دا روایت د حاکم دی په مستدرك د ابی ابن کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په روایت سره چې دا اخر مانزل دی.

جواب

نعم دا اخر مانزل دی خو مراد د حضرت ابی ابن کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

یعني، اخرمانزل من سورة البراءت لامن جمیع القران.

دده دا قول حمل دی په دې سره چې د براءة له سورت نه اخر مانزل دا سورت دی.

شپږم قول

اخر مانزل سورة المائدة دی.

روایت د حاکم او ترمذي د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په روایت سره اخر مانزل سورة المائده دی.

جواب

اخر مانزل چې سورة المائدة ته حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وایي نو معنیٰ داده چې:

اخرسورت، نزلت في بیان الحلال والحرام: د حل او د حرمت په بیان کې چې سورت نازل هغه دا سورت دی او نسخ به کې راغلې نه ده.

---

١ - سورة التوبة آية : ١٢٨.

Scanned by CamScanner

اووم قول:

اخر ما نزل د سورت آل عمران د اخري رکوع آیتونه دي.

فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ اَنِّيْ لَآ اُضِيْعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنْكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى ۚ بَعْضُكُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ ۚ فَالَّذِيْنَ هَاجَرُوْا وَ اُخْرِجُوْا مِنْ دِيَارِهِمْ وَ اُوْذُوْا فِيْ سَبِيْلِيْ وَ قٰتَلُوْا وَ قُتِلُوْا لَاُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَ لَاُدْخِلَنَّهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ۚ ثَوَابًا مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۚ وَ اللّٰهُ عِنْدَهٗ حُسْنُ الثَّوَابِ ﴿۱۹۵﴾.(۱)

دا روایت د حضرت ام سلمه رضي الله عنها دی مسند ابن مردویه په روایت ؛ حضرت مجاهد رحمه الله سره له حضرت ام سلمه رضي الله عنها نه روایت کوي چې دا اخري آیتونه اخر ما نزل دي.

جواب:

اصلاً حضرت ام سلمه رضي الله عنها به نبي صلی الله علیه وعلی آله وسلم ته ویل: چې نارینه جهاد ته ځي د جُمعې لمانځه ته ځي د اختر لمانځه ته ځي د علم زده کړې پسې ځي دوی ته به څه اجر وي او مونږ ته داسې اجازتونه نه شته دی، پکار دا دي چې مونږ ته هم څه اجازت راکړی شي نو بیا ورته اول آیت نازل شو.

Scanned by CamScanner

وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللَّهُ بِهِ بَعْضَكُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۚ لِّلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُوا ۖ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ ۚ وَاسْأَلُوا اللَّهَ مِن فَضْلِهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ﴿٣٢﴾ (۱).

خدای تعالیٰ چې بعضو ته په بعضو نورو باندې فوقيت ورکړی دی لکه نارينه و ته يې په زنانه و باندې فوقيت ورکړی دی، نو دا ارزو مه کوئ له الله تعالی نه چې ويش او تقسيم دی هر چانه يې کتلي دي نو هغسې يې پيدا کړی دی، بيا حضرت ام سلمة رضي الله عنها غلې شوه.

بله ورځ بيا راغله او ويې ويل: چې هر مسئله کې: أَقِيمُوا الصَّلَاةَ کې نارينو ته خطاب دي آتُوا الزَّكَاةَ کې نارينو ته خطاب دی، ويې ويل: مونږ زنانه مسلمانان نه يو څه چې مونږ ته بلکل خطاب نه کيږي نو چې دا خبره يې وکړه نو دا آيت نازل شو چې:

إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْقَانِتِينَ وَالْقَانِتَاتِ وَالصَّادِقِينَ وَالصَّادِقَاتِ وَالصَّابِرِينَ وَالصَّابِرَاتِ وَالْخَاشِعِينَ وَالْخَاشِعَاتِ وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقَاتِ وَالصَّائِمِينَ وَالصَّائِمَاتِ وَالْحَافِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَالْحَافِظَاتِ وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا ﴿٣٥﴾ (۲).

---

۱ - سورة النساء آية: ۳۲.

۲ - سورة الاحزاب آية: ۳۵.

Scanned by CamScanner

نو چې دا آیت نازل شو نو حضرت ام سلمة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا خوشحاله شوه چې زمونږ ذکر هم په کې راغلی دی.

بله ورځ بیا راغلله اونبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ ته یې وویل چې: زمونږ اجر به له سړیو نه څه کم وي.

نو بیا آیت کریمه نازل شو چې:

فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ أَنِّي لَا أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنكُم مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَىٰ ۖ بَعْضُكُم مِّن بَعْضٍ ۖ فَالَّذِينَ هَاجَرُوا وَأُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِمْ وَأُوذُوا فِي سَبِيلِي وَقَاتَلُوا وَقُتِلُوا لَأُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَلَأُدْخِلَنَّهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ثَوَابًا مِّنْ عِندِ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ عِندَهُ حُسْنُ الثَّوَابِ ﴿١٩٥﴾ (١).

یعنې د سورت آل عمران اخري آیت نازل شو نو کوم چې حضرت ام سلمه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا ویلي دي چې اخر ما نزل مطلب دا دی چې اخر ما نزل فی حق النساء.

اتم قول:

امام بخاري له حضرت ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه نقل کړي دي چې اخر ما نزل: د سورة النساء دا آیت کریمه دی.

---

۱ - سورة آل عمران آية: ۱۹۵.

Scanned by CamScanner

وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُ جَهَنَّمُ خٰلِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَاَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا ﴿٩٣﴾ (١)

جواب:

د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مطلب له دېنه دادی چې دا اخر مانزل دی فی حکم القتل مؤمن عمداً، د مؤمن په حدودو کې دا آيت نازل شوی دی.

نهم قول:

امام مسلم له حضرت ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه نقل کړي چې اخر مانزل: سورة النصر دی:

اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ ﴿١﴾ وَرَاَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُوْنَ فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ اَفْوَاجًا ﴿٢﴾ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ ۚ اِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا ﴿٣﴾ (٢)

جواب:

نعم دا اخر مانزل دی خو سورت تماماً نه آية، دوهم دا چې دا اخر مانزل دی ښکه چې دا سورت مشعر دی په وفات د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهِ وَسَلَّمَ کې.

داچند اقوال په اول مانزل او اخر مانزل کې د علماء کرامو معروف وه.

---

١ - سورة النساء آية: ٩٣.

٢ - سورة النصر آية: ١-٣.

Scanned by CamScanner

د تفسير معروف تعريف:

هُوَ عِلْمٌ يُبْحَثُ فِيْهِ عَنْ أَحْوَالِ الْكِتَابِ الْعَظِيْمِ مِنْ جِهَةِ نُزُوْلِهِ وَسَنَدِهِ وَآدَاءِ أَلْفَاظِهِ وَمَعَانِيْهِ الْمُتَعَلِّقَةِ بِالْأَلْفَاظِ وَالْأَحْكَامِ وَأَحْوَالِ النُّزُوْلِ.

ترجمه: دا يو علم دی چې په دې کې له احوالو د قرآن کريم نه بحث کېږي له جهت د نزول نه، او له جهت اداء کولو د الفاظو او معانيو چې هغه متعلق وي تر الفاظو پورې، او احکامو او احوالو د نزول نه بحث کېږي.

تَرْجَمَ يُتَرْجِمُ تَرْجَمَةً فَعْلَلَ يُفَعْلِلُ فَعْلَلَةً.

څوک ورته تَرجُمه وايي څوک ورته تَرجمه وايي، په اصل کې دا تَرجَمَه ده د جيم په فتحې سره.

ترجمه په دوه قسمه ده:

۱- ترجمه حرفي. ۲- ترجمه تفسيريه.

ترجمه حرفي:

نَقْلُ الْأَلْفَاظِ مِنْ لُغَةٍ إِلَى لُغَةٍ بِحَيْثُ يَكُوْنُ النَّظْمُ مُوَافِقٌ لِلنَّظْمِ وَالتَّرْتِيْبِ مُوَافِقٌ لِلتَّرْتِيْبِ.

ترجمه: لفظ له يو لغت نه بل لغت ته نقل کول په داسې شان سره چې نظم يې له نظم سره موافق وي او ترتيب يې له ترتيب سره موافق وي.

ترجمه تفسريه (معنويه):

بَيَانُ مَعْنَى الْكَلَامِ بِلُغَةِ الْأَخرِ مِنْ غَيْرِ التَّرْتِيْبِ.

Scanned by CamScanner

ترجمه: د کلام معنی په بله ژبه کې کول، چې د ترتیب لحاظ ونه ساتي تقدیم او تاخیر په کې وکړای شي.

د قرانکریم اسامي (نوموونه)

پنځه پنځوس (۵۵) نوموونه د قرآن کریم معروف دي.

۱- مسمی دی په قرآن سره:

إِنَّ هَٰذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا ﴿۹﴾ (۱).

۲- مسمی دی په کتاب سره:

لَقَدْ أَنْزَلْنَا إِلَيْكُمْ كِتَابًا فِيهِ ذِكْرُكُمْ ۖ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿۱۰﴾ (۲).

۳- مسمی دی په فرقان سره:

تَبَارَكَ الَّذِي نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلَىٰ عَبْدِهِ لِيَكُونَ لِلْعَالَمِينَ نَذِيرًا ﴿۱﴾ (۳).

۴- مسمی دی په ذکر سره:

إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ﴿۹﴾ (۴).

---

۱ – سورة النساء آية: ۲۲.

۲ – سورة الانبياء آية: ۱۰.

۳ – سورة الفرقان آية: ۱.

۴ – سورة الحجر آية: ۹.

Scanned by CamScanner

۵- مسمی دی په تنزیل سره:

﴿وَإِنَّهُ لَتَنزِيلُ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ (١).

۶- مسمی دی په نور سره:

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَكُم بُرْهَانٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَأَنزَلْنَا إِلَيْكُمْ نُورًا مُّبِينًا﴾ (٢).

۷- مسمی دی په هدایت سره:

﴿وَلَقَدْ جِئْنَاهُم بِكِتَابٍ فَصَّلْنَاهُ عَلَىٰ عِلْمٍ هُدًى وَرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ﴾ (٣).

۸- مسمی دی په موعظة، شفاء، او رحمت سره:

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَتْكُم مَّوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَشِفَاءٌ لِّمَا فِي الصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ﴾ (٤).

۹- مسمی دی په رحمت سره:

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَتْكُم مَّوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَشِفَاءٌ لِّمَا فِي الصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ﴾ (٥).

---

١ - سورة النمل آية: ١٩٢.

٢ - سورة المائدة آية: ١٧٤.

٣ - سورة الاعراف آية: ٥٢.

٤ - سورة يونس آية: ٥٧.

٥ - سورة البقرة آية: ٦٤.

Scanned by CamScanner

٨- مسمى دى په موعظة سره:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَتْكُم مَّوْعِظَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَشِفَآءٌ لِّمَا فِى ٱلصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ﴾ (١).

٩- مسمى دى په مبارك سره:

﴿وَهَٰذَا كِتَٰبٌ أَنزَلْنَٰهُ مُبَارَكٌ فَٱتَّبِعُوهُ وَٱتَّقُوا۟ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾ (٢).

١٠- مسمى دى په مبين سره:

﴿وَمَا تَكُونُ فِى شَأْنٍ وَمَا تَتْلُوا۟ مِنْهُ مِن قُرْءَانٍ وَلَا تَعْمَلُونَ مِنْ عَمَلٍ إِلَّا كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُودًا إِذْ تُفِيضُونَ فِيهِ ۚ وَمَا يَعْزُبُ عَن رَّبِّكَ مِن مِّثْقَالِ ذَرَّةٍ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا فِى ٱلسَّمَآءِ وَلَآ أَصْغَرَ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكْبَرَ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مُّبِينٍ﴾ (٣).

١١- مسمى دى په بشير او نذير سره:

﴿بَشِيرًا وَنَذِيرًا فَأَعْرَضَ أَكْثَرُهُمْ فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ﴾ (٤).

---

١ - سورة البقرة آية: ٦٦.

٢ - سورة الانعام آية: ١٥٥.

٣ - سورة يونس آية: ٦١.

٤ - سورة حم سجدة آية: ٤.

Scanned by CamScanner

١٢ - مسمى دى په بشرى سره:

قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِجِبْرِيلَ فَإِنَّهُ نَزَّلَهُ عَلَىٰ قَلْبِكَ بِإِذْنِ اللَّهِ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَهُدًى وَبُشْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿﴾ (١).

١٣ - مسمى دى په عزيز سره:

إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِالذِّكْرِ لَمَّا جَاءَهُمْ ۖ وَإِنَّهُ لَكِتَابٌ عَزِيزٌ ﴿﴾ (٢).

١٤ - مسمى دى په مجيد سره:

بَلْ هُوَ قُرْآنٌ مَجِيدٌ ﴿﴾ (٣).

١٥ - مسمى دى په كريم سره:

قَالَتْ يَا أَيُّهَا الْمَلَأُ إِنِّي أُلْقِيَ إِلَيَّ كِتَابٌ كَرِيمٌ ﴿﴾ (٤).

١٦ - مسمى دى په عالي سره:

وَإِنَّهُ فِي أُمِّ الْكِتَابِ لَدَيْنَا لَعَلِيٌّ حَكِيمٌ ﴿﴾ (٥).

١٧ - مسمى دى په حكيم سره:

وَإِنَّهُ فِي أُمِّ الْكِتَابِ لَدَيْنَا لَعَلِيٌّ حَكِيمٌ ﴿﴾ (٦).

---

١ - سورة البقرة آية: ٩٧.

٢ - سورة الاحقاف آية: ٤١.

٣ - سورة الطارق آية: ٢١.

٤ - سورة النمل آية: ٢٩.

٥ - سورة الزخرف آية: ٤.

٦ - سورة الزخرف آية: ٤.

Scanned by CamScanner

۱۸ - مسمی دی په حکمت سره:

يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَنْ يَشَاءُ ۚ وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا ۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ ﴿٢٦٩﴾ (۱).

۱۹ - مسمی دی په مهیمن سره:

وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتَابِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ ۖ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ ۖ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ عَمَّا جَاءَكَ مِنَ الْحَقِّ ۚ لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا ۚ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَلَٰكِنْ لِيَبْلُوَكُمْ فِي مَا آتَاكُمْ ۖ فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ ۚ إِلَى اللَّهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿٤٨﴾ (۲).

۲۰ - مسمی دی په مصدق سره:

وَمِنْ قَبْلِهِ كِتَابُ مُوسَىٰ إِمَامًا وَرَحْمَةً ۚ وَهَٰذَا كِتَابٌ مُصَدِّقٌ لِسَانًا عَرَبِيًّا لِيُنْذِرَ الَّذِينَ ظَلَمُوا وَبُشْرَىٰ لِلْمُحْسِنِينَ ﴿١٢﴾ (۳).

۲۱ - مسمی دی په حبل سره:

وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا ۚ وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَ

---

١ - سورة البقرة آية: ٢٦٩.

٢ - سورة المائدة آية: ٤٨.

٣ - سورة الاحقاف آية: ١٢.

Scanned by CamScanner

كُنْتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِّنَ النَّارِ فَأَنْقَذَكُمْ مِّنْهَا ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ ﴿﴾.(۱)

۲۲- مسمى دى په صراط مستقيم سره:

لَقَدْ أَنْزَلْنَا آيَاتٍ مُّبَيِّنَاتٍ ۚ وَاللَّهُ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿﴾.(۲)

۲۳- مسمى دى په قيم سره:

فِيهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ ﴿﴾.(۳)

۲۴- مسمى دى په فصل سره:

إِنَّهُ لَقَوْلٌ فَصْلٌ ﴿﴾.(۴)

۲۵- مسمى دى په نباء عظيم سره:

قُلْ هُوَ نَبَأٌ عَظِيمٌ ﴿﴾.(۵)

۱- سورة آل عمران آية: ۱۰۳.

۲- سورة النور آية: ۴۶.

۳- سورة البينة آية: ۳.

۴- سورة الطارق آية: ۱۳.

۵- سورة ص آية: ۶۷.

Scanned by CamScanner

۲۶ - مسمی دی په احسن الحدیث سره:

اللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ الْحَدِيثِ كِتَابًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُودُ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ هُدَى اللَّهِ يَهْدِي بِهِ مَن يَشَاءُ ۚ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ ﴿﴾ (۱)

۲۷ - مسمی دی په متشابه سره:

اللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ الْحَدِيثِ كِتَابًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُودُ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ هُدَى اللَّهِ يَهْدِي بِهِ مَن يَشَاءُ ۚ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ ﴿﴾ (۲)

۲۸ - مسمی دی په مثاني سره:

اللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ الْحَدِيثِ كِتَابًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُودُ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ هُدَى اللَّهِ يَهْدِي بِهِ مَن يَشَاءُ ۚ وَمَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ هَادٍ ﴿﴾ (۳)

---

۱ - سورة الزمر آية: ۲۳.

۲ - سورة الزمر آية: ۲۳.

۳ - سورة الزمر آية: ۲۳.

Scanned by CamScanner

٢٩ . مسمى دى په روح سره:

قُلْ نَزَّلَهُ رُوحُ الْقُدُسِ مِن رَّبِّكَ بِالْحَقِّ لِيُثَبِّتَ الَّذِينَ آمَنُوا وَ
هُدًى وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ ۝ (١)

مسمى دى په وحى سره:

أَن يُقْضَىٰ إِلَيْكَ وَحْيُهُ ۖ وَقُل رَّبِّ زِدْنِي عِلْمًا ۝ (٢)

٣٠ . مسمى دى په عربي سره:

إِنَّا أَنزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ۝ (٣)

٣١ . مسمى دى په بصائر سره:

قَدْ جَاءَكُم بَصَائِرُ مِن رَّبِّكُمْ ۖ فَمَنْ أَبْصَرَ فَلِنَفْسِهِ ۖ وَمَنْ عَمِيَ
فَعَلَيْهَا ۚ وَمَا أَنَا عَلَيْكُم بِحَفِيظٍ ۝ (٤)

٣٢ . مسمى دى په بيان سره:

عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ۝ (٥)

---

١ - سورة النحل آية: ١٠٢.

٢ - سورة طه آية: ١١٤.

٣ - سورة الزخرف آية: ٢.

٤ - سورة الانعام آية: ١٠٤.

٥ - سورة الرحمن آية: ٤.

Scanned by CamScanner

۳۳- مسمی دی په علم سره:

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَكُمۡ تَفَسَّحُواْ فِي ٱلۡمَجَٰلِسِ فَٱفۡسَحُواْ يَفۡسَحِ ٱللَّهُ لَكُمۡۖ وَإِذَا قِيلَ ٱنشُزُواْ فَٱنشُزُواْ يَرۡفَعِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ دَرَجَٰتٖۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ۝ (۱).

۳۴- مسمی دی په حق سره:

وَإِنَّهُۥ لَحَقُّ ٱلۡيَقِينِ ۝ (۲).

۳۵- مسمی دی په هادي سره:

ذَٰلِكَ ٱلۡكِتَٰبُ لَا رَيۡبَۛ فِيهِۛ هُدٗى لِّلۡمُتَّقِينَ ۝ (۳).

۳۶- مسمی دی په عجب سره:

أَمۡ حَسِبۡتَ أَنَّ أَصۡحَٰبَ ٱلۡكَهۡفِ وَٱلرَّقِيمِ كَانُواْ مِنۡ ءَايَٰتِنَا عَجَبًا ۝ (۴).

۳۷- مسمی دی په تذکره سره:

إِلَّا تَذۡكِرَةٗ لِّمَن يَخۡشَىٰ ۝ (۵).

---

۱ - سورة المجادلة آية: ۱۱.

۲ - سورة المعارج آية: ۵۱.

۳ - سورة البقرة آية: ۲.

۴ - سورة الكهف آية: ۹.

۵ - سورة طه آية: ۳.

Scanned by CamScanner

٣٨- مسمى دى په عروت سره:

﴿لَآ إِكْرَاهَ فِى ٱلدِّينِ ۖ قَد تَّبَيَّنَ ٱلرُّشْدُ مِنَ ٱلْغَىِّ ۚ فَمَن يَكْفُرْ بِٱلطَّٰغُوتِ وَيُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسْتَمْسَكَ بِٱلْعُرْوَةِ ٱلْوُثْقَىٰ لَا ٱنفِصَامَ لَهَا ۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾[1].

٣٩- مسمى دى په الوثقىٰ سره:

﴿لَآ إِكْرَاهَ فِى ٱلدِّينِ ۖ قَد تَّبَيَّنَ ٱلرُّشْدُ مِنَ ٱلْغَىِّ ۚ فَمَن يَكْفُرْ بِٱلطَّٰغُوتِ وَيُؤْمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسْتَمْسَكَ بِٱلْعُرْوَةِ ٱلْوُثْقَىٰ لَا ٱنفِصَامَ لَهَا ۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾[2].

٤٠- مسمى دى په مناديِ سره:

﴿رَّبَّنَآ إِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُنَادِى لِلْإِيمَٰنِ أَنْ ءَامِنُوا۟ بِرَبِّكُمْ فَـَٔامَنَّا ۚ رَبَّنَا فَٱغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّـَٔاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ ٱلْأَبْرَارِ﴾[3].

٤١- مسمى دى په زبور سره:

﴿وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِى ٱلزَّبُورِ مِنۢ بَعْدِ ٱلذِّكْرِ أَنَّ ٱلْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِىَ ٱلصَّٰلِحُونَ﴾[4].

١- سورة البقرة آية: ٢٥٦.

٢- سورة البقرة آية: ٢٥٦.

٣- سورة ال عمران آية: ١٩٢.

٤- سورة الحج آية: ١٠٥.

Scanned by CamScanner

۴۲- مسمی دی په بلغ سره:

هَٰذَا بَلَٰغٌ لِّلنَّاسِ وَلِيُنذَرُوا بِهِ وَلِيَعْلَمُوا أَنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ وَلِيَذَّكَّرَ أُولُوا الْأَلْبَابِ (۱).

۴۳- مسمی دی په قصص سره:

إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ الْقَصَصُ الْحَقُّ ۚ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا اللَّهُ ۚ وَإِنَّ اللَّهَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ (۲).

۴۴- مسمی دی په صحف سره:

إِنَّ هَٰذَا لَفِي الصُّحُفِ الْأُولَىٰ (۳).

۴۵- مسمی دی په مکرم سره:

فِي صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ (۴).

۴۶- مسمی دی په مرفوع سره:

مَّرْفُوعَةٍ مُّطَهَّرَةٍ (۵).

---

۱ - سورة الحجر آية: ۵۲.

۲ - سورة آل عمران آية: ۶۲.

۳ - سورة الاعلى آية: ۱۸.

۴ - سورة العبس آية: ۱۳.

۵ - سورة العبس آية: ۱۴.

Scanned by CamScanner

۴۷. مسمی دی په مطهر سره:

﴿مَرْفُوْعَةٍ مُّطَهَّرَةٍ﴾ (۱).

دا ټول اسماء د قرآن مجید وه اتقان کې ورته جلال الدین سیوطي رَحِمَهُ اللهُ هم اشاره کړې ده، دا د قرآن مجید هغه مختصر اسامي وه.

المبحث ثاني في بيان الفرق بين تاويل والتفسير

دوهم مبحث په بیان د فرق دی په تاویل او په تفسیر کې.

دتفسیر لغوي معنی:

فسر یفسر تفسیرا بمعنی کشف بیان او اظهار دی.

اویا ماخوذ دی د تفسیرې نه آله د طبیب ده.

دوهم تاویل: دا له باب تفعیل نه دی، اول یاؤل تاویلاً له باب تفعیل نه په معنی د رجوع سره.

او شرع او اصطلاح ته دمتقدمینو مفسرینو په نزد باندې تاویل ونیلی شي:

رَجَعَ الأيَتِ إِلَى آحَدِ مَعَانِي مُحْتَمِلاً:

د یو آیات یا یو لغت دهر احتمالات وي آیات راجع کول په شتی متعدد د احتمالاتو کې یو احتمال لره.

د متاخرینو مفسرینو په نزد باندې تاویل شرعاً او اصطلاحاً چاته وایي:

صَرْفُ اللفظ عَنْ مَعْنَى الرَّاجِح عَنْ مَعْنَى الْمَرْجُوْح:

---

۱ - سورة العبس آية: ۱۴.

Scanned by CamScanner

له راجعې معنی نه مرجوح معنی ته رجع دلفظ او معنی دېته تاويل وايي، بغير له دليل نه به نه وي، يعنې متقدمين چې دي هغوئ تاويل په يو لفظ احتمالات متعددو کې تعين ديو احتمال ته وايي او راجع د آيت الا احد معنیٰ محتمله او متاخرين قيد د راجع او مرجوح معنوي لګوي.

رجع دلفظ او صرف دلفظ معنی راجعې ته معنی معنوي ته په دليل سره، علماء په فرق بين تاويل والتفسير کې متعدد اقوال لري.

اول قول په کې دجمهورو علماؤ دي، جمهور علماء وايي چې په منځ دتاويل اوتفسير کې فرق شته دی، اګرچې بعض علماء دتاويل اطلاق په تفسير باندې کوي او د تفسير اطلاق په تاويل باندې کوي او په منځ کې يې د مساوات او يوځايوالي قائل دي.

خو جمهور وايي چې په مابين ددې دواړو کې فرق شته.

جمهور په خپل منځ کې متعدد اقوال لري

اول قول په فرق کې د امام راغب الاصفهاني دی.

امام راغب الاصفهاني فرمايي: اَلْفَرْقُ بَيْنَ التَّأوِيْلِ وَالتَّفْسِيْرِ بِالْأَعَمِيَّةِ وَالْأَخَصِيَّةِ.

تاسې په منطق کې دا ويلي دي چې د دوه شيئينو په منځ کې لابدي ده له اربعة نسب نه ده.

۱. مساوات.

۲. تباين.

۳. عموم خصوص مطلق.

۴. عموم خصوص من وجه.

Scanned by CamScanner

هر دوه شيئينونه به د دي څلورو نسبتونو کې به له يو نه خالي نه وي، او بل دا هم تاسې به شرح تهذيب کې ويلي دي مساوات له جانبينونه چې موجبه کليه ورباندې صادقېږي، لکه ناطق او انسان، كُلُّ إِنْسَانٍ نَاطِقٌ، وَكُلُّ نَاطِقٍ إِنْسَانٌ.

تباين هغه نسبت دی چې له جانبينونه او شيئينونه پکې سالبه کليه صادقه کېږي لکه انسان، حجر، كُلُّ حَجَرٍ لَيْسَ بِإِنْسَانٍ، وَكُلُّ إِنْسَانٍ لَيْسَ بِحَجَرٍ.

عموم خصوص مطلق هغه دی چې له يوجانب نه موجبه کليه صاقېږي، او بل جانب ته موجبه جزئيه صادقېږي، لکه انسان او حيوان، كُلُّ إِنْسَانٍ حَيَوَانٌ، وَلَيْسَ كُلُّ حَيَوَانٍ بِإِنْسَانٍ، يا بَعْضُ الْحَيَوَانِ إِنْسَانٌ: موجبه جزئيه او سالبه جزئيه دواړه صاقې وي.

عموم اوخصوص من وجه دا هغه دی چې د دواړو جانبينونه سالبه کليه او موجبه جزئيه صادقې وي.

خو سالبه کليه او سالبه جزئيه له يوطرف نه هم صادقه نه وي لکه حجر او ابيض داسې نه شي ونيلی چې كُلُّ حَجَرٍ اَبْيَضُ، يا كُلُّ اَبْيَضَ حَجَرٌ، خو داسې هم نه شي ونيلی چې لَيْسَ كُلُّ حَجَرٍ بِاَبْيَضَ، لَيْسَ كُلُّ اَبْيَضَ بِحَجَرٍ، سالبه کليه موجبه کليه صادقې نه دي، خو سالبه جزئيه موجبه جزئيه له جانبينونه صادقې دي، ونيلی شي بَعْضُ الْحَجَرِ اَبْيَضُ، بَعْضُ الْاَبْيَضِ حَجَرٌ، سالبه جزئيه هم صادقه دي، لَيْسَ بَعْضُ الْحَجَرِ اَبْيَضُ وَلَيْسَ بَعْضُ الْاَبْيَضِ بِحَجَرٍ.

Scanned by CamScanner

نو ددلته د امام راغب الاصفهاني په نزد باندې فرق په مابين د تاويل او تفسير کې په عموم او خصوص سره دی،

يعنې اَلتَّفْسِيْرُ اَعَمُّ مِنَ التَّاوِيْلِ، نو کُلُّ تَاوِيْلٍ تَفْسِيْرٌ دی خو کل تفسير تاويل نه دی.

دوهم قول دا دی: تفسير وئيل کيږي، بَيَانُ مَعْنَى اللَّفْظِ بِحَيْثُ لَا يَحْتَمِلُ غَيْرَهُ.

او تاويل وئيل کيږي، صَرْفُ الْمَعْنٰى يا لَفْظِ إِلٰى إِحْتِمَالٍ وَاحِدٍ بَيْنَ الْاِحْتِمَالَاتِ الْمُتَعَدِّدَةِ.

دريم قول: د امام ابو منصور ماتوريدي رَحِمَهُ اللهُ دی:

امام ابو منصور ماتوريدي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې فرق په مابين د تاويل او تفسير کې دا دی چې: اَلتَّفْسِيْرُ اَلْقَطْعُ بِاَنَّ مُرَادَ اللهِ تَعَالٰى هُوَ هٰذَا بِعَيْنِهٖ.

تاويل: په تاويل کې قطعيت نه وي په دې باندې چې مراد الله هم دغه معنی مراد ده.

ددې او دمخکې قول په مابين کې څه خاص فرق نه دی راغلی هلته هم دغه دی چې صرف دلفظ معنی يوې معنې له چې بله معنی په کې څه وي احتمال په کې نه وي او تفسير وه نو ځکه قطعيت په کې راغلی، اوکه په آيات کې احتمالات متعدد وي او نه تعين د يو احتمال ورکوي او دا تاويل وه نو بيا ظن راغلی دی قطعيت نه دی دا اوس جاته پته نشته چې ثلثة قروء کې مراد دباري تعالیٰ حيض

Scanned by CamScanner

دی او طهر نه دی او دا هم نشته چې طهر دی حیض نه دی نوهلته قطعیت نشته دی په تاویل کې اوپه تفسیرکې قطعیت شته، یعنې الفاظ یې جداجدادي خوهغه مفهوم ئې یو جوړېږي.

څلورم قول

ابوطالب ثعلبي رَحِمَهُ اللهُ چې دی یوصوفي وه او مفسر او محقق هم وه هغه دتاویل اوتفسیر په مابین کې فرق کړی دی هغه یې د اهل التصوف په اصطلاح باندې کړی دی، هغه فرمایي چې:
اَلتَّفْسِيْرُ بَيَانُ ظَاهِرِاللَّفْظِ وَتَأْوِيْلُ بَيَانُ بَاطِنِ اللَّفْظِ.

د قرآن کریم د الفاظو ظاهري بیان او وضاحت کولوته تفسیر وایي، او د قرآن کریم د الفاظو باطني بیان او وضاحت کولوته تاویل ویل کېږي، لِكُلِّ آيَةٍ ظَهْرٌ وَبَطْنٌ، د هر آیت لپاره ظاهر او باطن وي، باطن چې کوم احتمالات دي نو دایې تاویلات دي.

یومثال: حضرت خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ چې کله ماشوم راونیوه او هغه یې قتل کړو نوحضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ پرې اعتراض وکړو اهل ظواهر چې کوم دي هغه وایي چې دا یو ماشوم وه په لار باندې روان وه او دایې قتل کړو او دا ماشوم مطبوع باالکفر وه په ده باندې دکفر طبع والی شوی وه حضرت خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ ته پته وه چې داکافر کېږي یاکافر دی او دا تاویلات کول چې دا ماشوم بالغ وه یاده قتل کړی وه دا په مستندوحوالو باندې ثابت نه دي، نودلته دا اعتراض ذهن ته راځي چې یوماشوم اوس ګناه نه ده کړې بیا وروسته غټېږي بیا کافر کېږي بیا مور پلار خراب کوي او ته یې له

اوس نه قتل کوې نو دا خو په یو دین کې هم جائز نه دي نو حضرت خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ داعمل ولې وکړو؟ د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَامُ اعتراض په ځای وه.

نوعلماء ظواهر چې کوم دي هغوئ دا آیات په ظاهر باندې حمل کوي چې دا یقیني یو غلام وه حضرت خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه قتل کړی وه.

علماء تصوف وايي: چې نه داخبره مورد د اعتراض ده ځکه چې یو هلك يې قتل کړو نوهلك يې ولې قتل کړو که مور اوپلار يې وروسته خراب کول نو اوس خویې خراب کړي نه دي، او دا خبره کول چې مخکې يې قتلونه کړي وه نوداخبره هم غلطه ده ځکه چې: موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته فرمائي:

أَقَتَلْتَ نَفْسًا زَكِيَّةً بِغَيْرِ نَفْسٍ

تا پاك نفس قتل کړو.

نو صوفیه دلته باطني معنی اخلي چې: لِكُلِّ آيَةٍ ظَهْرٌ وَبَطْنٌ، باطني معنی داسې کوي چې دا صورت د ماشوم وه خو درحقیقت دا نفس د انسان وه، وژل د ماشوم چې دي دا وژل د یونفس وو او دا مور او پلار د نفس لپاره چې دي په ډانچه د انسان کې یو قلب دی یو روح دی.

وَمَآ أُبَرِّئُ نَفۡسِيٓۚ إِنَّ ٱلنَّفۡسَ لَأَمَّارَةُۢ بِٱلسُّوٓءِ إِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّيٓۚ إِنَّ رَبِّي غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٥٣﴾.(١)

که نه یې تزکیه ونه کړي او مړ یې نه کړي نو دا قلب او روح دواړه خرابوي، نو دا حضرت خضر عَلَيۡهِ ٱلسَّلَامُ چې ماشوم قتل کړو دا اشاره ده یعنې اشاره فی الاشاره په حقیقت کې ماشوم قتل شوی نه دی نفس قتل شوی دی، او حضرت موسی عَلَيۡهِ ٱلسَّلَامُ ورته فرمایي چې دا نفس ولې وژنې داخو ظلم دی نو هغه ورته فرمایي چې دا ظلم نه دی.

دا نفس که زه مړ نه کړم نو دا بیا د انسان قلب او روح دواړه خرابوي، دا ټول بیا په ناروا ؤکې اخته کوي.

نو ابو طالب ثعلبي رَحِمَهُ ٱللَّهُ فرمایي: چې ظاهري لفظ پسې تلل او د هغې معنی کول دا تفسیر دی، او باطني اړخ ذکر کول دا تاویل دی، بیا ورسته ورته فرمایي چې:

فَأَرَدۡنَآ أَن يُبۡدِلَهُمَا رَبُّهُمَا خَيۡرٗا مِّنۡهُ زَكَوٰةٗ وَأَقۡرَبَ رُحۡمٗا ﴿٨١﴾.(٢)

ظاهري ترجمه (معنی) خو علماء کرام داسې کوي چې د هغه هلك په بدل کې یې مور او پلار ته الله تعالی لور ورکړه او د هغې په نسل کې الله تعالی اویا (٧٠) پیغمبران راولېږل.

---

١ - سورة یوسف آیة: ٥٣.

٢ - سورة کهف آیة: ٨١.

Scanned by CamScanner

ترجمه: چې بدل به ورکړي الله تعالی دوئ ته ډير غوره په پاکۍ کې او ډير رحيم تر به ورکړم ورته، علماء ظواهر وايي چې لورېږ ورته ورکړه.

صوفياکرام بيا څه وايي هغوئ وايي چې هغه نفس امارة بالسوء ورته مرکړو، ددې لپاره چې د قلب او روح ته په ډانچه د انسان کې يو نفس بل ورکړي چې هغه کوم نفس دی.

هغه نفس: خَيْرًا مِّنْهُ زَكٰوةً وَّ اَقْرَبَ رُحْمًا ۝

هغه چې د اماره نفس ته په تزکيه کې پاك دی.

وَنَفْسٍ وَّمَا سَوّٰىهَا ۝ فَاَلْهَمَهَا فُجُوْرَهَا وَتَقْوٰىهَا ۝ قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰىهَا ۝ (۱)

دا خيراً منه زكوة: کې پاك او زکي نفس ته اشاره ده.

وَّ اَقْرَبَ رُحْمًا ۝: داسې يو نفس ورته ورکړي چې هغه رحيم تر نفس ته قريب وي.

اِنَّ النَّفْسَ لَاَمَّارَةٌۢ بِالسُّوْٓءِ اِلَّا مَا رَحِمَ رَبِّيْ ؕ اِنَّ رَبِّيْ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ (۲)

دا هغه نفس دی چې ما رحم په خپله نه دی خو اقرب ما رحم ته دی.

---

۱ - سورة الشمس آية: ۷-۹.

۲ - سورة يوسف آية: ۵۳.

Scanned by CamScanner

ځکه نفوس د ما رحم چې کوم دي هغه نفوس د پېغمبرانو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ دی، د عامو خلکو نفوس دېته نه رسېږي، خو اقرب دي نفس ته ګرځي چې کوم پاك شي، دا تاويل دی.

ابوطالب ثعلبي رَحِمَهُ اللَّهُ وايي چې صوفيه کرام چې کومه معنی کوي دا تاويلات دي، تفسير نه دی، او علماء ظواهر چې کومه معنی کوي نو دا تفسيرات دي.

يا لکه د هغې کشتۍ مسئله:

علماء ظواهر وايي چې دا يو بادشاه اعلان کړی وه چې روغه کشتۍ نيسي، نو حضرت خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ دا کشتۍ سورۍ کړه ځکه چې مساکين به بيا خه شي ګټي، دا خو آله د سبب رزق وه، علماء صوفيه فرمايي: چې دا کشتۍ نه وه داکشتۍ چې کومه ده مراد له کشتۍ نه کشتۍ د عمل ته اشاره ده.

هغوئ فرمايي: چې داعمل وه عمل د انسان او په مخه کې چې کوم بادشاه غاصب وه، هغه شيطان ؤاکو دی، او دا ماتوالی د کشتۍ چې کوم دی دا کسر العمل دی، نو د حضرت خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ اشاره دېته ده چې ای انسانه! څومره عمل چې ته کوې دا عمل تا د نجات د عذاب الله نه بيوه کشتۍ جوړه کړې ده چې دا به ما د الله تعالی له عذاب نه خلاصوي خو په مخه کې درته شيطان ؤاکو ناست دی او په رياء کې دې اخته کوي دا توله ختمېږي، نو انسانه! دا خپله روغه کشتۍ له کبر نه ختمه کړه او منکسره ماته يې کړه يعنې په

خپل ذوق کې داخپل اعمال برباد حساب کړه، يعني انتهاء د تصوف څه شی دی؟ کسرالعمل، يعني دا خپل عمل خراب حسابول.

انتهاء د تصوف

امام رباني رَحِمَهُ ٱللَّهُ فرمايي: چې ربښتيني صوفي هغه دی چې په شلو کالو کې دده دچپې اوګې فرښته قلم هم پورته نه کړي، تول يې نېک اعمال وي بدي يې نه وي کړي خوشل کاله ورسته هم ورته په خپل ذوق کې ځان له کافر نه اونۍ ښکاري، دا وېره ورسره وي چې کېدای شي چې کافر اخيري وخت کې ايمان راوړي او زه له دنيا نه کافر لاړشم، نو صوفيه کرام فرمايي چې له کشتي نه مراد کسرالعمل دی.

او عمل ته ولې کشتي وويل شو ځکه چې کشتي سبب د نجات د بدن دی او عمل د نجات د اخرت د عذابونو نه دی نو دا تاويل شو.

ابو طالب ثعلبي رَحِمَهُ ٱللَّهُ فرمايي چې تفسير بيان ظاهر اللفظ او تاويل بيان باطن اللفظ.

پنځم قول:

د امام راغب الاصفهاني رَحِمَهُ ٱللَّهُ دی:

هغه له اصوليينو نه دی نو هغه خپله رأيه باندې تاويل او تفسير کې فرق ذکر کوي او فرمايي: چې د تفسير استعمال راځي په بيان د معانيو دکتاب الله شريف کې، بحسب معاني المشکل، او د تاويل استعمال راځي، بحسب معان المجمل، د مجملاتو وضاحت ته تاويل وايي، او د مشکلاتو وضاحت ته تفسير ويل کېږي.

Scanned by CamScanner

نهم قول:

اَلتَّفْسِيْرُ يَتَعَلَّقُ بِرِوَايَاتٍ، وَالتَّاوِيْلُ يَتَعَلَّقُ بِدِرَايَاتٍ:

تفسير تر روايات منصوصي تعلق لري چې يا خو بالقران وي يا به مرفوع روايت د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ وي، يا د صحابه كرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ تفسير به وي چې هغه حكم مرفوع حساب كېږي، او تاويلات چې كوم دی لكه قواعد د نحوې استعمال كړي قواعد دحروفو استعمال كړي معاني استعمال كړي اصول استعمال كړي اوله هغې نه يو څيز او يو تفسير راوړي.

لسم قول: د ابونظر الخشيري رَحِمَهُ اللهُ دی:

هغه فرمايي: اَلتَّفْسِيْرُ مَقْصُوْرٌ بِالْاِتِّبَاعِ وَالسَّمَاعِ، تفسير هغه دی چې مقصور وي په سماع پورې، وَالتَّاوِيْلُ مَايَتَعَلَّقُ بِالْاِجْتِهَادِ وَالْاِسْتِنْبَاطِ، او تاويل هغه دی چې تر اجتهاد او استنباط پورې تعلق لري.

اتم قول: د امام بغوي او د امام كواسي رَحِمَهُمَا اللهُ دی:

هغوئ فرمايي: تاويل صرف دآيات دی داسې معنی لره چې ماقبل له مابعد سره ولګېږي او تفسير په عكس ددې باندې، دا دجمهورو علماو اقاويل وه چې په منځ دتاويل او دتفسير كې دفرق قائل دي.

دريم يو څيز دی چې هغې ته تحريف وئل كېږي:

التحریف لغةً:

تحریف په لغت کې ماخوذ دی له حرف نه په معنی د طرف سره.

التحریف اصطلاحاً:

اصطلاحاً تحریف ځانته وايي: کلام الله شريف يو احتمال ته راجع کول چې په هغې کې دوه يادرې احتمالات نورهم وي، هغه احتمالات متروک شي او يوته يې راجع کړي.

د تحریف اقسام:

علامه قرطبي اوعلامه الوسي رَحِمَهُمَااللَّهُ دوئ فرمايي: چې تحريف په دوه قسمه باندې دی، تحريف معنوي او بل تحريف لفظي دی.

اول تحريف لفظي

تحريف لفظي چې کوم دی اهمال اللفظ، لفظ مهمل پرېښودل خو ددې دا معنی نه ده چې لکه بعضې متشابهاتو قرآنيو کې د سلفو رايه داده چې: لَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ، لکه يوسړی وايي: چې الله تعالی پوهه دی چې ددې به څه معنیٰ وي، نو بيا اهل الحديث اعتراض کوي وايي چې دوئ خو تحريف وکړو دا لفظ يې مهمل پرېښودو نه مهمل يې نه دی پرېښی داسې نه وايي چې ددې څه معاني نشته دی، معانی شته خو مراد د الله تعالی ترې څه دی تعين نشته دی.

Scanned by CamScanner

دوهم تحريف معنوي:

تحريف معنوي چې دی هغه عبارت دی اماله له معنی صریحې نه معنی غیرصریحي لره، او یا اجراء دکلام غیر مورد باندې.

یو آیات نازل وي په باره دمشرکینو کې او چسپان یې کړي په مسلمانانو باندې، او یا مورد د آیت یو ځای کې وي او ته یې په بل ځای کې استعمال کړې لکه: إِنِ الْحُكْمُ إِلاَّ لِلّهِ.

په ورځ د قیامت کې فیصله کُن نشته الاالله مگرصرف یو الله تعالی دی، اهل الحدیث راپورته شي وایي چې دې دنیا کې بل حاکم گڼل دا شرک دی، او په استدلال کې دا آیت کریمه پیش کوي:

وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ (المائدة:٤٤)

نو اجراء دکلام په غیرمورد کې: چې آیت څه خیز دی څه مسئله بیانوي ته هغه پرېږدې او ظاهري الفاظونه استدلال وکړې: لکه څنگه چې حضرت علی او حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا دوي دواړو حضرت ابو موسی اشعري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حاکم جوړ کړی وه نو بیا خوارج جدا شول او ویې ویل چې: إِنِ الْحُكْمُ إِلاَّ لِلّهِ، او دوي حاکم حضرت ابوموسی اشعري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ناکلی دی دواړه مشرکان شول دي العیاذ بالله، حضرت عبد الله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې کله له خوارجو سره مناظره کوله ابن الکوی د هغوی لوی مناظر وو، نو عبدالله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې ورغی نو هغوی ته فرمایي: چې تاسو ولې دحضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لښکر پرېښودلو؟ خوارج دولس

زره ۱۲۰۰۰، کسان وه، او دوی مبارکان دوه کسان ورغلي وه، یو کس شاګرد ورسره ده، دوی چې کله په هغه دبنه کې ور روان وو نو هغوی په حرورا مقام کې یوه لویه اجتماع جوړه کړې وه نو چې کله یې حضرت ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ولیدو نو ابن الکوی دې خپلو ملګروته وایي چې دغه مخامخ کس درنه دې اجماع ته رانشي له ماسره مناظره کوي خکه چې دا په قرآن کریم کې ډېر ماهر دی.

هغه خپلو کسانویې شور جوړ کړو چې ته به خامخا مناظره ورسره کوې او که ودې نه کړه نوموږ ستا ډله پرېږدو، ابن الکوی مجبور شو ویې ویل: راپرېږدئ. حضرت عبدالله ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ راغی فرمايي: ورته تا د حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ له کره ولې پرېښې دی؟ وایي ماخو خکه پرېښودو چې: ان الحکم الا لله، دوی حضرت ابوموسی اشعري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ولی مقرر کړی دی؟ هغه ورته فرمايي: چې داخو ورځ د قیامت کې حاکم یادوي دې دنیا کې حاکم جوړېدای شي نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَىٰ آلِهِ وَسَلَّمَ حاکم وه دنیا کې حاکم جوړول شرک نه دی هغه وویل داشرک دی.

نوحضرت ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ورته وویل: چې زه له تانه دا پوښتنه کوم چې کله دوه بادشاهان په جګړه باندې شي دا لوی اختلاف دی که ښځه او خاوند جګړه باندې شي دالوی اختلاف دی؟ نو هغه ورته وویل: چې د دوه بادشاهانو جګړه دا لوی اختلاف دی، نوحضرت عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ورته وفرمایل: چې الله تعالی فرمايي:

وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِّنْ أَهْلِهَا ۚ إِن يُرِيدَا إِصْلَاحًا يُوَفِّقِ اللَّهُ بَيْنَهُمَا ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا ﴿٣٥﴾ (۱)

چې کله د ښځې اوخاوند په منځ کې اختلاف راشي نو دوه حاکمان ورته مقررکړئ یو د ښځې له طرف نه او یو د سړي له طرف نه نو دا خو شرك نه دی.

څلور زره کسان په دې مناظرې د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره لښکر د خوارجو پرېښودو او له حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره یوځای واپس د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لښکرته راغلل بیا څه نور اعتراضات هم وه تقریباً دا څلویښت ورځې مناظره وه.

جلال الدین سیوطي رَحِمَهُ اللهُ په تاریخ الخلفاء کې څه حصې د هغې مناظرې ذکر کړې دي.

اجراء د کلام په غیرمورد باندې داتحریف معنوي دی.

په نن عصر کې اهل الحدیث او اشاعتیان دا څومره ولې چې دي دا ټول د اهل السنة والجماعة خلاف ولې دي هغوئ دا تحریف معنوي کوي، یو لفظي تحریف هغه دی کوم چې د قرآن کریم په لفظ کې تغیر راوستل دي، هغه خو قرآن کریم له دې تغیر او تحریف نه محفوظ دی.

---

(۱) - سورة النساء آية: ۳۵.

Scanned by CamScanner

﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ﴾ (۱).

یو لفظي تحریف دی په معنی د امالة الفظ سره او یو معنوي تحریف دی په اجراء د مورد سره، تحریف معنوي دومره په قرانی بیماني سره په دې امت کې روان دی چې دومره اختلاف نه چا په انجیل کې کړی دی اونه په زبور کې، څومره چې نن په قرآن کریم کې روان دی، دا دوهم مبحث وه فرق بین تاویل والتفسیر.

المبحث الثالث فی بیان الفرق بین الحدیث القُدسي والقران العظیم والحدیث النبوي صلی الله علیه وسلم

د حدیث لغوي معنی:

الْحَدِيثُ لُغَةً: ضِدُّ الْقَدِيمِ.

حدیث په لغت کې ضد د قدیم ته ویل کېږي، او هر هغه خیز چې جدید په جدید راپیدا کېږي او نقل کولی شي هغې ته حدیث ویل کېږي.

د حدیث اصطلاحي معنی:

وَاصْطِلَاحًا: مَا أُضِيفَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَوْلًا لَهُ أَوْ فِعْلًا أَوْ تَقْرِيرًا أَوْ صِفَةً.

او په اصطلاح کې حدیث هغه ته وایي چې اضافت یې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ ته کېږي برابره خبره ده که قول د نبي

---

۱ - سورة الحجر آیة: ۱۰.

Scanned by CamScanner

کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ وي او که فعل يې وي، يا د هغه په وړاندې يو عمل شوی وي خو چې د هغه له صفاتونه يو صفت وي.

مثال دقول: نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ. الحديث

مثال د فعل: نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ لمونځ او فرمايلو:

صَلُّوا كَمَا رَأَيْتُمُونِي أُصَلِّي.الحديث

مثال د تقرير: لکه سُنِّيَّةُ الأَذَانِ، چې په محضر د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ کې شوی دی.

مثال د صفت: چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ په اوصافو کې راځي:

عَنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ: قَالَ الْحُسَيْنُ: سَأَلْتُ أَبِي عَنْ سِيرَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جُلَسَائِهِ، فَقَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَائِمَ الْبِشْرِ، سَهْلَ الْخُلُقِ، لَيِّنَ الْجَانِبِ، لَيْسَ بِفَظٍّ وَلَا غَلِيظٍ، وَلَا صَخَّابٍ وَلَا فَحَّاشٍ، وَلَا عَيَّابٍ وَلَا مُشَاحٍ، الحديث.[1]

دوهم حديث قدسي:

د حديث قدسي لغوي معنی:

أَلْقُدْسِيُّ لُغَةً: نِسْبَةٌ إِلَى الْقُدْسِ، قدس ته يې تعظيماً نسبت کړی په معنی د تنزيه او تطهير سره.

---

1 - شمائل المحمدية: ۱/ ۲۹۰.

Scanned by CamScanner

د حديث قدسي اصطلاحي معنی:

اَلْقُدْسِي إِصْطِلَاحاً: مَايُضِيْفُ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى اللهِ تَعَالَى:

هغه حديث چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ يې الله تعالى ته مضاف كړي الفاظ يې درې دي.

١- چې صحابي وفرمايي: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَالَ اللهُ تَعَالَى.

٢- چې صحابي وفرمايي: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَقُوْلُ اللهُ عَزَّوَجَلَّ.

٣- چې صحابي وفرمايي: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فِي مَايَرْوِيْهِ عَنْ رَبِّهِ عَزَّوَجَلَّ.

فرق په مابين د قران كريم او حديث قدسي كې:

عام فرق: قرآن كريم بلفظ ومعنى من الله، وحى لفظ او معنى من الله وي نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ ته .

حديث قدسي: معنى دهغې من الله وي او الفاظ جوړ كړى شوي من عند رسول الله صلى الله عليه وسلم وي.

دوهم فرق: چې قرآن كريم باندې تحدي راغلې او په حديث قدسي كې تحدي نشته دى.

معنى د تحدي چې اعجاز د غير له جواب نه.

Scanned by CamScanner

قرآن کريم غير ته چلنج ورکوي: أَنْ يَأْتُوا بِمِثْلِ الْقُرْآنِ، او أَنْ يَأْتُوا بِعَشْرِ سُوَرٍ مِثْلِ هٰذَاالْقُرآن، او أَنْ يَأْتُوا بِسُورَةٍ مِنْ مِثْلِهِ.

درې چلنجه يې ورکړي دي: يا د تمام قرآن کريم مثل راوړئ، يا د لسو سورتونو مثل راوړئ، يا ديو آيت مثل راوړئ، دا درې چلنجه يې ورکړي دي، له هغې ورځې نه چې قرآن کريم نازل دی تا روز قيامت ددې چلنج جاري دی چا هم پوره کړی نه دی، نو قرآن کريم مُتَحَدّٰی بِهٖ دی، يعنې عاجز دي له جواب د هغې نه، او حديث قدسي مُتَحَدّٰی بِهٖ نه وي، د هغې غوندې الفاظ يو سړی له خانه جوړولی شي.

دريم فرق: قران کريم لَايُنْسَبُ إِلَّا إِلَى اللهِ.

او په حديث قدسي کې: تارةً يُنْسَبُ إِلَى اللهِ تَعَالٰى وَ تَارَةً يُنْسَبُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

اوحديث قدسي کې کله نسبت الله ته او کله نسبت نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ ته کولی شي.

څلورم فرق: قرآن کريم جميع چې کوم دی منقول الينا بنقل متواتر دی، منکر يې کافر دی.

او احاديث قُدسي چې کوم دي: ايصال د هغې مونږ لره په اخبار أحادو باندې دي په تواتر سره نه دي.

که له حديث قدسي نه يو کس انکار وکړي کفر نه دی په حديث قدسي کې ضعيف او صحيح دواړه شته دی حسن لذاته او حسن

Scanned by CamScanner

لغيره هم شته تول په کې شپاړس قسمونه جوړيږي، قرآن کريم کې
دا نشته هغه قطعي الثبوت الدلالت دی.

پنځم فرق: قرآن کريم متعبد بتلاوته دی اوحديث قدسي معبد
بتلاوته نه دی، داخل الصلوة خارج الصلوة د قرآن کريم لوستل عبادت
دی په هرلفظ کې بې اجر دی او حديث قدسي که هرڅومره ولولې په
لفظ کې بې هيڅ اجر نشته دی په معنی باندې بې چې کله ورباندې
عمل وکړې بيا پرې اجرشته خوتش په الفاظو باندې بې اجر نشته دی.

فرق په مابين د حديث قدسي او حديث نبوي کې:

اَلْفَرْقُ بَيَانُ الْحَدِيْثِ الْقُدْسِيِّ وَالنَّبَوِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ:

هر چې فرق دی په مابين د حديث قدسي او حديث نبوي
صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ کې په دې اشکال دی:

هر کله چې حديث قدسي هغه وه چې الفاظ بې من الله نه وو او
معنیٰ بې من الله نه وه نو په حديث نبوي کې هم معنی من الله وي
کنه نو بيا څه فرق راغی.

وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى ۝ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوْحٰى ۝ [1]

هغه له خپل خان نه خبرې نه کوي، دا خو ده ته وحی کيږي.

په احاديث نبوي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ او حديث قدسي دواړو
کې الفاظ من عند رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ جوړ کړل شوي وي
او معنی د دواړو من عندالله ده نو دې فرق کې اشکال شته دی،

---

[1] - سورة النجم آية: ۳-۴

Scanned by CamScanner

اشکال به په دې طريقه باندې موږ دفع کړو چې حديث نبوي ﷺ په دوه قسمه باندې دی:

د احاديث نبوي صلى الله عليه وسلم اقسام

١. حديث نبوي توقيفي. ٢- حديث نبوي توفيقي.

اول قسم حديث نبوي توقيفي

حديث توقيفي په دې باندې چې دا موقوف دي په شرع باندې اجتهاد او استنباط ته په کې څه دخل نه وي، دا هغه روايات دي چې د نبي کريم ﷺ اجتهادات نه دي او نه په هغې کې د عقل څه دخل وي.

لکه مثلاً اودس او لمونځ دی دا په استنباطاتو نه کېږي، کړې دې وي تش بول او وينځې پرې مخ لاس نو دلته خو عقل او استنباط دخل نه لري سوا له نقل نه ددې مطابق چې څومره روايات راغلي دي يا د لمونځ مطعلق يا دتکبير مطعلق يا د تقديرات شرعيو مطعلق يا زکوة کې تقديرات، عقل دلته کار نه کوي، نو دا اقسام توقيفي دي.

دوهم قسم حديث نبوي توفيقي

دا اقوال د نبي کريم ﷺ چې دي دا توقيفي دي په اجتهاد او استنباط د نبي کريم ﷺ باندې حمل دي، دا دوهم قسم چې احاديث نبوي توفيقي دي: لَيْسَ هٰذَا الْقِسْمُ كَلَامُ اللهِ تَعَالٰى قَطْعاً، داخو قطعاً د الله تعالى کلام نه وي، رسول الله

Scanned by CamScanner

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ له خان نه اجتهاد کړی دی، معنی یې هم له خان نه راویستې ده او الفاظ یې هم له خانه جوړ کړي دي.

هغه قسم چې حدیث نبوي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ دی خو توقیفي دی د هغې له حدیث قدسي سره اشکال راځي.

یو اشکال په دې باندې راځي چې حدیث نبوي وحی باالمعنی ده، او حدیث قدسي هم وحی باالمعنی ده نو ولې یوته حدیث قدسي ویل کېږي او دوهم ته حدیث قدسي نه ویل کېږي؟ نو د هغې جواب دادی چې حدیث قدسي چې کوم دي په طریقې د قطعیت سره وئیلی شو چې: إِنَّهُ مِنْ عِنْدِاللهِ عَزَّوَجَلَّ.

ځکه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ په کې دا ویلي وه: يَقُوْلُ اللهُ عَزَّوَجَلَّ یا قَالَ اللهُ عَزَّوَجَلَّ، یا راوي داسې ووایي چې قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ فِيْ مَا يَرْوِيْهِ عَنْ رَبِّيْ عَزَّوَجَلَّ، هلته قطعیت دی چې: أَنَّهُ مِنْ عِنْدِاللهِ عَزَّوَجَلَّ، او هرچې احادیث نبوي دي هلته قطعیت په دې باندې دی چې: أَنَّهُ مِنْ عِنْدِاللهِ عَزَّوَجَلَّ نشته دی، نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ خو هر حدیث کې داسې نه دي ویلي چې دا ماته القاء شوې ده، یعنې نص په دې خبره باندې چې دا معنی من عندالله په حدیث نبوي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ کې موجود نه وي او په حدیث قدسي کې نص موجود وي چې أَنَّهُ مِنْ عِنْدِاللهِ عَزَّوَجَلَّ.

دوهمه شبهه په کې دا راځي هر کله چې حدیث نبوي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ یا لفظ د حدیث قدسي چې دی من عند رسول

Scanned by CamScanner

الله جوړشوي دي بيا ولې ورته حديث قدسي وايي؟ د دې نسبت بيا ولې خالق ته کېږي؟

نو جواب دا دی: چې دا بناء دې په عرف د عربانو باندې او په عرف د اهل لسانو باندې، هر اهل لسان چې د يوبل چاقول په خپلو الفاظو باندې تعبيرکړي نو وايي چې فلان داسې ونيلي دي، مثلاً هو بهو خو هغه د فلان حکايت په هغه الفاظو باندې نه بيانېږي کوم چې هغوئ بيان کړې وي خوتاسې ترې يوه معنی جوړه کړئ او خپل ذهن کې بيا وايي چې فلان داسې وايي يالکه قرآن کريم کې چې دی يعني الله تعالیٰ په قرآن کريم کې دنمرود قصه ذکر کوي دفرعون قصه ذکرکوي.

مثلاً قال فرعون، فرعون وويل، نو فرعون په دې لفظ الاعجاز سره کله ونيلي دي، الفاظ د قرآن کريم معجز دي او الفاظ دفرعون غير معجز دي او دلته وايي، قال فرعون، فرعون داسې وايي نو د فرعون د قول معنی جوړه شوې وي، له دې معنی نه تعبير بيا رب کريم په تفسير جديد او اعجازي الفاظو سره کړی وي، اوبيا وايي قال فرعون دغه شان الفاظ دحديث قدسي من عند رسول الله دي من عند الله نه دي، نسبت يې چې هغه ته کېږي وجه دا ده چې دا بناء ده په عرف باندې په عرف او اصطلاح کې چې معنی دچا طرف ته دي اګرکه دغه لفظ د هغه نه وي خلك وايي فلاني داسې ونيلي دي، دا مبحث الثالث وه په فرق دبين الحديث القدسي والحديث النبوي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَىٰ آلِهِ وَسَلَّمَ کې.

Scanned by CamScanner

المبحث الرابع في تعریف الوحي واقسامه

وحی لغةً په دوه معنوباندې مستعمل کېږي.

۱ - په معنی دخفاء سره.

۲ - په معنی دسرعت سره.

چې په سریعې جلدې طریقې باندې په طریقې مخفي سره کلام یوچاته القاء شي، دغه وحی ده، دغه وحی یو استعمالیږي په معنی مصدري سره او بل استعمالیږي په معنی مبنی للمفعول موحا سره.

وحی لغة په معنی مصدري سره چې راواخلې استعمال په معنی مصدري سره، په معنی مصدري کې په پنځه معنو باندې مستعمل کېږي.

۱ - **الهام مصطلح**: یعني اِیْقَاعُ الْکَلَامِ فِي الْقَلْبِ سره کېږي دا هغه الهام مصطلح دی چې له هغې نه تعبیر په فهراست سره کېږي خاصانو صاحبانو او اولیاءکرامو ته د هغې القاء وي چې د هغې لپاره دوه شقین دي،(کشف،مکاشفه).

کشف او مکاشفه:

۱ - **کشف**: چې ورنه تعبیر کېږي په کشف سره په شیشې د قلب او زړه کې، کوم چې بې د نفس په شیشه کې لیدلي وي له هغې نه تعبیر کېږي په کشف سره په دې کې دخل شیطاني د بر زیات وي صرفې غریب خوشحاله وي چې ما باغونه ولیدل، کله کله ورنه تېکاري باغ او دی په دېران ناست وي.

Scanned by CamScanner

۲- **مکاشفه:** چې کوم ده هغه القاء ده په قلب کې، په هغې کې شیطاني دخل نه وي.

﴿مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى﴾.(۱)

زړه دنبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ په هغه څه کې چې لیدلو دروغ نه دي ونیلي زړه لره یو رؤیت دی.......

﴿أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَتَكُونَ لَهُمْ قُلُوبٌ يَعْقِلُونَ بِهَا أَوْ آذَانٌ يَسْمَعُونَ بِهَا ۖ فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى الْأَبْصَارُ وَلَٰكِن تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ﴾.(۲)

آیا دوی په ځمکه کې ګرځېدلي راګرځېدلي نه دي چې زړونه به یې پوهېدونکي او غوږونه به یې اورېدونکي شوي وای؟ حقیقت دادی چې سترګې نه ړندېږي خو هغه زړونه ړندېږي چې په سینو کې دي.

هغه زړه چې سینو کې پراته دي هغه رانده دي، دا دزړه شیشې وي هغه ړندې شي، نو کوم چې مکاشفه ده چې القاء فی القلب ده هغې کې بیا دخل شیطاني نه وي، هغه الهامات بیا صحیح وي، دا بیا جدا مسئله ده چې عندالله مسائل پرې استنباط کېږي اوکنه؟ شرح عقائد لیکلي دي چې عندالله مسائل وربانديې نه استنباط کېږي، دا په استدلال کې نه پیش کېږي، الهام که دلیل هم شي نو هغه شخص لره دی چې کوم کس ته الهام شوی دی، غیر لره دلائل نه جوړېږي.

---

۱ - سورة النجم آیة: ۱۱.

۲ - سورة القصص آیة: ۷.

Scanned by CamScanner

نو يو وحی راځي په الهام مصطلح سره چې هغه القاء الکلام فی القلب دی، لکه سورة القصص اووم نمبر(۷) آيت کې د حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ د مور په حقله داسې راځي چې:

﴿وَأَوْحَيْنَا إِلَىٰ أُمِّ مُوسَىٰ أَنْ أَرْضِعِيهِ﴾(۱).

وحی وکړه مونږ مور د حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته نو دلته وحی په معنی لغوي مصدري سره ده (أَلْهَمْنَا) په معنی د الهام سره ده، يعنې زړه ددې کې مونږ دا وحی واچوله.

﴿إِنَّا رَادُّوهُ إِلَيْكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ الْمُرْسَلِينَ﴾.

۲- **الهام فطري**: وحی په معنی مصدري سره راځي په الهام فطري معنی باندې، يو الهام مصطلح دی دوهم الهام فطري دی، طبعيت دانسان ته او طبعيت دحيوان ته کله کله بعضې القاګانې کېږي لکه سورة النحل اته شپېتم نمبر(٦٨) آيت کې راځي:

﴿وَأَوْحَىٰ رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ أَنِ اتَّخِذِي مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا وَمِنَ الشَّجَرِ وَمِمَّا يَعْرِشُونَ ۝﴾(۲).

نو د شاتو مچۍ خو ولي څه پيغمبره نه وه چې وحی ورته کېدله، نودا وحی مصطلح نه ده، کومه وحی چې پيغمبرانو ته کېږي هغه وحی په معنی لغوي نه ده هغه وحی مصدري معنی مبني

---

۱ - سورة الحج آية: ۴۶.

۲ - سورة النحل آية: ۶۸.

Scanned by CamScanner

للمفعول ده په معنیٰ دموحا سره کومه وحی چې لغوي مصدري معنی باندې ده هغه یا په معنی د الهام مصطلح سره ده فهراست ورته وایي.

یا په معنی دالهام الفطري للحیوان سره ده، لکه دې مخې ته چې شوې ده.

۲- **اشاره سریعه**: وحی په مصدري لغوي معنی سره په معنی د اشارې سریعې سره، اَلْإِشَارَةُ السَّرِيْعَةُ عَلٰى سَبِيْلِ الرَّمْزِ وَالْإِيْحَاءِ، جلته اشاره.

د سورة مریم یوولسم نمبر (۱۱) آیت.

فَخَرَجَ عَلٰى قَوْمِهٖ مِنَ الْمِحْرَابِ فَاَوْحٰى اِلَيْهِمْ اَنْ سَبِّحُوْا بُكْرَةً وَّ عَشِيًّا ۞.(۱)

د حضرت زکریا عَلَيْهِ السَّلَام په باره کې راغي: فَاَوْحٰى اِلَيْهِمْ نو معنی دا نه شوه چې وحی یې وکړه دې خلکوته، اوحیٰ معنی اشار اليهم سريعةً، سريعې جلتي سره یې دوی ته اشاره وکړه.

۴- **وسوسة الشيطن**: وحی یعنې وسوسه شیطان سره، یا تزین د شر په نفس د انسان کې:

لکه سورة الانعام یوسل یو ویشتم نمبر (۱۲۱) آیت راغي:

۱ - سورة مريم آية: ۱۱.

وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ إِلَىٰ أَوْلِيَائِهِمْ لِيُجَادِلُوكُمْ ۖ وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ ﴿۱۲۱﴾.(۱)

يقيناً چې شيطانان وحى كوي وحى نه مراد يُوَسْوِسُونَ، وَيُزَيِّنُونَ الشَّرَّ فِي أَنْفُسِهِمْ، په نفسونو ددې خپلو دوستانو کې بعض شرونه ورته ښائسته کوي او وسوسې ورته اچوي.

وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيَاطِينَ الْإِنْسِ وَالْجِنِّ يُوحِي بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ زُخْرُفَ الْقَوْلِ غُرُورًا ۚ وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوهُ ۖ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ ﴿۱۱۲﴾.(۲)

يُوحِي، وحى ورته کوي معنى: يُوَسْوِسُ وَزَيَّنَ الشَّرَّ فِي أَنْفُسِهِمْ، وسوسې ورته اچوي او ددوئ په نفسونو کې شرونه ښائسته کوي.

پنځم: وحى مصدري معنى لغوي: په معنى د القاء من الله فى قلوب الملائكة، دفرښتو په زړونو کې يوه خبره واچوي:

إِذْ يُوحِي رَبُّكَ إِلَى الْمَلَائِكَةِ أَنِّي مَعَكُمْ فَثَبِّتُوا الَّذِينَ آمَنُوا.(۳)

---

۱ - سورة الانعام آية: ۱۲۱.

۲ - سورة الانعام آية: ۱۱۲.

۳ - سورة الانعام آية: ۱۲۱.

Scanned by CamScanner

نو دا وحی دوئ ته داسې نه وي چې يوه بله فرښته بېې ورته رالېږلې وي دا د دوئ په زړونو کې القاء وکړي شي چې لاړې شئ دا پنځه واړه معنی د وحی مصدري معنی وه په لغوي معنی سره.

هرچې وحی مبني للمفعول واخلې په معنی د موحا سره د هغې معنی بیاخه شی ده:

كَلَامُ اللهِ الْمُنَزَّلُ عَلَى النَّبِيِّ مِّنْ أَنْبِيَائِهِ.

موحا: د موحا معنی وحی کرده شده د هغې اطلاق بیا په چا کېږي:

كَلَامُ اللهِ تَعَالٰى اَلْمُنَزَّلُ عَلٰى نَبِيٍّ مِّنْ أَنْبِيَائِهِ.

ددې اطلاق بيا په نورو باندې نه باندې نه کېږي ماسوی له مصطلحې وحی نه.

اوهغه وحی چې په معنی مصدري سره ده چې پنځو معانیو کې مستعمله وه، هغه اصطلاحاً او شرعاً چاته وايي:

إِعْلَامُ اللهِ تَعَالٰى مَنْ يَّصْطَفِيْهِ مِنْ عِبَادِهِ.

دخپل برګزيده او بهترو عبادو خپلونه په بعضې خيزونو باندې له جانب من الله اخبار ورکولو اعلام ورکولو، دا شو تعريف د وحی

او اقسام د وحی:

هرچې وحی ده يو انواع د وحی دي او بل صور د وحی دي:

Scanned by CamScanner

د وحي اقسام

وحيُ په درې قسمه ده:

۱. سِمَاعُ الْكَلَامِ الْقَدِيْم:

لکه سماع د حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَام او سماع د نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ په ليلة المعراج کې:

﴿تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۘ مِّنْهُم مَّن كَلَّمَ اللَّهُ ۖ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجَاتٍ﴾ [1].

حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَام ته دا آواز شوی وه:

﴿وَنَادَيْنَاهُ مِن جَانِبِ الطُّورِ الْأَيْمَنِ وَقَرَّبْنَاهُ نَجِيًّا﴾ [2].

او همدا رنګه:

﴿فَلَمَّا أَتَاهَا نُودِيَ يَا مُوسَىٰ ۝ إِنِّي أَنَا رَبُّكَ فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ ۖ إِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى ۝﴾ [3].

۲- وَحْيُ الرِّسَالَة: دا هغه وحی مصطلحه وه په معنی د موحا سره:

كَلَامُ اللهِ تَعَالَى الْمُنَزَّلُ عَلَى نَبِيٍّ مِّنْ أَنْبِيَائِهِ.

---

۱ - سورة البقرة آية: ۲۵۳.

۲ - سورة طه آية: ۱۱، ۱۲.

۳ - سورة طه آية: ۱۱، ۱۲.

Scanned by CamScanner

۳. وَحي تلقي بالقلب:

﴿فَتَلَقَّىٰٓ ءَادَمُ مِن رَّبِّهِۦ كَلِمَٰتٖ فَتَابَ عَلَيۡهِۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ۝﴾[۱].

دا تلقي بالقلب ده په زړه کې ورته واسې القاء وشوه.

صور د وحي:

صور د وحی اوه دي، په اوو طریقو باندې انبیاء کرامو عَلَيۡهِمُ ٱلسَّلَامُ ته وحی کېږي.

۱. **اول صورت د وحي:** حالة المنام.

په خوبونو کې ورته وحی وشي: خوبونه د عامو خلکو چې کوم دي، ظني الثبوت، مثبت د څه مسئلې نه شي جوړېدای، خکه چې خوبونه د انبیاء عَلَيۡهِمُ ٱلسَّلَامُ چې کوم دي هغه قطعي دي په هغې کې څه خلل نه وي، لکه خوب زما او ستا چې کوم دی دا په شیشه دنفس کې وي، او خوب د خاصانو العباد هغه په شیشه د قلب کې وي، شیشه د قلب مکاشفه ده، هلته دخل شیطاني نه وي، شیشه د نفس کې هلته دخل شیطاني وي، کېدای شي دا خوب دې شیطاني وي، او انبیاء عَلَيۡهِ ٱلسَّلَامُ هغوئ د نفس په شیشه کې کتل نه کوي هغوئ د قلب په شیشه کې کتل کوي.

---

۱ - سورة البقرة آية: ۳۷.

Scanned by CamScanner

اول حدیث شریف:

عَنْ أَبِي إِدْرِيسَ الْخَوْلَانِيِّ، عَنِ ابْنِ غَنْمٍ، قَالَ: نَزَلَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَشَقَّ بَطْنَهُ. ثُمَّ قَالَ جِبْرِيلُ: قَلْبٌ وَكِيعٌ فِيهِ أُذُنَانِ سَمِيعَتَانِ وَعَيْنَانِ بَصِيرَتَانِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ الْمُقَفِّي، الْحَاشِرُ، خُلُقُكَ قَيِّمٌ، وَلِسَانُكَ صَادِقٌ، وَنَفْسُكَ مُطْمَئِنَّةٌ، الحديث.[۱]

نه ګورې ته که خوب وویني او څوك په خوب کې درته ووايي چې خوی دې حلال کړه شرعاً که تا خوی حلال کړو نو ته مجرم یې، ته په دې خوب عمل نه شې کولی، حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ خوب لیدلی وو چې خوی دې حلال کړه سبا ورباندې عمل شروع کوي، د هغه خوب قطعي دی، اګرکه ذبحه کول د خوی په هیڅ کوم یو دین کې جائز نه وه او نه په دین د حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ کې جائز وه او نه په دین زمونږ کې دا ذبحه جائز وه، نو بیا ولې حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ دې خوب ته دومره زور ورکوي؟ جواب دا دی چې خوب د انبیاء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ له خوب د عوامو خلکو نه فرق لري، د هغوئ خوب قطعي دی هغه پشان د وحی دی مامور به دی په دې باندې چې دا کار به کوي.

---

۱ - سنن الدارمي، باب ما اعطى النبي صلى الله عليه وسلم، ۱۹۹/۱.

دوهم حديث شريف:

عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَوَّلُ مَا بُدِئَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرُّؤْيَا الصَّادِقَةُ جَاءَهُ الْمَلَكُ، فَقَالَ: ﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ، خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ. اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ﴾ [العلق: ۲]، الحديث.[1]

ترجمه: له حضرت عائشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نه روايت دی هغه وايي چې اول شروع د وحی د نبی کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ ښکلي ښکلي خوبه وه، جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته راغی او ويې فرمايل:

اِقْرَاْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِیْ خَلَقَ ۝ خَلَقَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ۝ اِقْرَاْ وَ رَبُّكَ الْاَكْرَمُ ۝ الَّذِیْ عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ۝.[2]

دوهم صورت دوحی: وَحْي مِثْلَ سِلْسِلَةِ الْجَرَسِ.

د ټالی د آواز پشان آواز وه، کوم چې حضرت ورقه بن نوفل رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ حکايت کوي چې مابه داسې څه آوازونه اوريدل.

دريم صورت دوحی: نَفْثُ الْكَلَامِ فِي رَوْعِهِ.

چې په زړه کې د يو کلام نقش راتلې.

څلورم صورت: تَمَثُّلُ الْمَلَكِ بَشَرًا.

---

۱ - رواه البخاري باب اقرا باسم ربك الذي خلق، ۶/ ۱۷۴.

۲ - سورة العلق آية: ۳.

Scanned by CamScanner

فرښته جبرئیل عَلَيْهِ السَّلَامُ د بشر په شکل باندې ورته هم مثل شو، فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا.

یابه اکثر د دحیة الکلبي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په شکل باندې به حضرت جبرئیل عَلَيْهِ السَّلَامُ نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ ته راتلو.

پنځم صورت: فِي صُورَةِ الْأَصْلِيَّةِ:

وحی د جبرئیل عَلَيْهِ السَّلَامُ په صورت اصلي خپل کې، د جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ وحی دا د نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ خصوصیت وه.

دغه شان وحی چې نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ ته یې خپل ځان ښودلی دی دایې یو پیغمبر ته هم نه دی ښودلی مګر صرف نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ ته یې ښودلی دی.

باقي تولوپیغمبرانو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ ته به جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ په شکل انساني باندې راتللو نو نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ تري مطالبه وکړه چې ماته خپل ځان وښایه؛

یو ځل مکه معظمه کې یې ورته ځان ښودلی وه:

وَلَقَدْ رَآهُ بِالْأُفُقِ الْمُبِينِ ﴿۲۳﴾ (۱).

خامخا لیدلی وه نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ دغه حضرت جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ، په کنارو د آسمان کې.

---

۱ - سورة التکویر آیة: ۲۳.

Scanned by CamScanner

چې ښکاره يې وليدو نو بېهوشي پرې راغله، چې کله ورته بېهوشي لاړه نو حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته د يو صحابي په شکل باندې ناست و.

بوځل يې ورته په سدرة المنتهیٰ کې وفرمائيل: چې ماته خپل ځان وښايه!

کله چې حضرت جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَامُ خپل ځان نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ ته وښوده نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ فرمايي: چې سر يې په سدرة المنتهیٰ کې وه او پښې يې له تحت السراء نه لاندې وې، او شپږ سوه وزرې يې وې، دوه وزرې يې خورې کړې چې مشرق او مغرب يې پرې پټ کړ، هلته هم په نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ باندې بېهوشي راغلې وه، نو دا وحی د حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ په صورة الاصليّة کې وه، په صورت اصلي کې يو پيغمبر ته هم نه وه شوې، صرف نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ ته دوه ځلې په صورت اصلي کې ښکاره شوی دی.

﴿وَلَقَدْ رَآهُ بِالْأُفُقِ الْمُبِينِ﴾[1].

﴿وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَىٰ ۝ عِندَ سِدْرَةِ الْمُنتَهَىٰ﴾[2].

شپږم صورت: يُكَلِّمُهُ اللهُ وَرَاءَ الْحِجَابِ.

---

[1] - سورة التكوير آية: ۲۳.

[2] - سورة النجم آية: ۱۳-۱۴.

Scanned by CamScanner

شپږم صورت د وحی دادی چې له حجاب نه اخوا ورسره خبرې وکړی شي.

اووم صورت دوحی: وَحْيُ إِسْرَافِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ:

اووم صورت وحی د اسرافیل عَلَيْهِ السَّلَامُ ده.

امام احمد رَحِمَهُ اللهُ په خپل مسند کې یو روایت ذکر کړی دی: چې اسرافیل عَلَيْهِ السَّلَامُ نبی کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ ته یوځل وحی راوړې وه نورو انبیاء کرامو ته د اسرافیل عَلَيْهِ السَّلَامُ راتلل نه دي شوي.

المبحث الخامس فی بیان تنزیلات الثلثة فی القران الکریم

قران کریم لره درې نزوله دي:

اول نزول يې: من جانب الله تعالى الى لوح المحفوظ.

بَلْ هُوَ قُرْآنٌ مَّجِيدٌ ﴿٢١﴾ فِي لَوْحٍ مَّحْفُوظٍ ﴿٢٢﴾.(١)

دوهم نزول يې: له لوح محفوظ نه بيت العزت لره چې په اول آسمان کې دی.

دا په يوه شپه کې شوی دی، هغه شپه کې علماء مختلف دي، جمهورعلماء وايي هغه شپه شپه دليلة القدر ده، اوبعضې وايي چې دغه شپه شپه د پنځلسم دشعبان ده، کوم علماء چې وايي چې دغه شپه شپه د پنځلسم د شعبان ده هغوئ دا دليل پيش کوي:

---

١ - سورة البروج آية: ٢١، ٢٢.

Scanned by CamScanner

إِنَّا أَنزَلْنَاهُ فِي لَيْلَةٍ مُّبَارَكَةٍ إِنَّا كُنَّا مُنذِرِينَ ۝ فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ ۝ ⁽¹⁾

په هغې کې هر هغه کارچې د هغې فيصله کولی شي راروان کاله پورې دهغې جدائي کيږي، دغه يفرق کل امر حکيم دی اکثره مفسرين وايي چې دغه شپه دپنځلسي دشعبان ده.

قرآن کريم له لوح محفوظ نه سماء دنياته په دفع واحد سره نازل شوی دی، يعنې له اول آسمان نه دې دنيا ته په يوځل باندې نازل شوی دی، په قرآن کريم کې هم له نورو کتابونو سره لفظ د أنزل وايي او له قرآن کريم سره لفظ د نزّل وايي.

ځکه چې تنزيل باب تفعيل دی يوه خاصه يې د تکسير ده، دا متعدد متکسر په دفعې دفعې سره نازل شوی دی، او نورکتب په دفعه واحدې سره نازل شوي دي، خو دا شبهه راځي چې بعضې بعضې اوقاتو کې قرآن کريم کې د قرآن کريم له نزول سره لفظ دانزال راغلی دی، چې دا په دفعې واحدې سره دی؟

نو د هغې لپاره به جواب به داوي چې قرآن کريم ته نزول او تنزيل دواړه شته دی.

او هر چې تنزيل دی، وَإِنَّهُ لَتَنزِيلُ رَبِّ الْعَالَمِينَ ۝ هغه له بيت العزت نه ځمکې ته دی.

¹ - سورة الدخان آية: ۳، ۴.

Scanned by CamScanner

إِنَّآ أَنزَلْنَٰهُ فِى لَيْلَةِ ٱلْقَدْرِ ۝ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا لَيْلَةُ ٱلْقَدْرِ ۝

د حضرت امام ابو حنیفه رَحِمَهُ ٱللَّهُ یو قول دادی چې شپه دلیلة القدر دا په رمضان کې منحصر نه ده، اکثر وقوع یې په رمضان کې دی، دا شپه په ټول کال کې ورکه ده، کله کله له رمضان اوځي په پنځلسم د شعبان کې راشي.

حضرت امام ابو حنیفه رَحِمَهُ ٱللَّهُ یوقول خاته لري چې په دې باندې لا د بل چا قول نشته، او د لیلة القدر شپه اکثر په رمضان کې وي او اکثر بیا په اخري عشره کې وي، نو دا بیا په ټول کال کې خوره ده، ځکه که د حضرت امام ابو حنیفه رَحِمَهُ ٱللَّهُ دې قول ته وکتل شي نو بیا هغه خبره چې دا دې په شپه دلیلة القدر کې هم نازل وي او په شپه د پنځلسي د شعبان کې دې هم نازل وي څه تطبیق یې کېدلی شي، خو له هغې سره یې تطبیق نه کېږي چې: شَهْرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِىٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلْقُرْءَانُ.

له دې آیت نه پته لګېږي چې لیلة القدر په دې رمضان کې دی، نو دا دوهم نزول شو.

دریم نزول یې: د قرآنکریم دریم نزول له سماءالدنیا نه بیت العزت نه ځمکې ته.

په دې کې د بعضو علماو قول دادی چې ځمکې ته هم په دفعې واحدې سره نازل شوی دی، او دا حضرت جبرائیل عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ چې به بار بار راتللو نو دا یې نبی کریم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَىٰ آلِهِ وَسَلَّمَ ته تذکیر کولو

دور یې ورسره کولو، ټول قرآن کریم ورته یاد وه خو د دور لپاره به تانم په تانم (وخت په وخت) حضرت جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَام راتللو.

دوهم قول دادی: چې په شلوکالوکې نازل شوی دی، خو راروان کال کې چې به څومره نازلېدو هغه به ټول په رمضان کې نازل شو او بیا را روان کال په منځ کې به دهغه آیاتونو دتذکیر لپاره جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَام راتلو دا دواړه اقوال د جمهورو نه دي.

دریم قول دادی: چې نه په شلوکالوکې یاکه فطرت د وحی حساب شي په درویشت کالوکې نَجْمًا نَجْمًا تَدْرِيجًا تَدْرِيجًا (درجه په درجه) د حاجت موافق نازل شوی دی، جانبین ادله په دې وایي خو د جمهورو لپاره په تنجیم دقرآن کریم دنزول دبیت العزت نه څمکې ته دوه دلائل قویه شته دي.

یو دلیل دا چې:

وَقُرْآنًا فَرَقْنَاهُ لِتَقْرَأَهُ عَلَى النَّاسِ عَلَىٰ مُكْثٍ وَنَزَّلْنَاهُ تَنْزِيلًا ﴿۱﴾.

قرآن کریم مونږ جدا جدا نازل کړی دی ځکه چې ته ولولې دا خلکوته په درنګ او ښه په اطمنان سره، نو دا آیة کریمه دلیل دتنجیم دی.

او دوهم دلیل دادی: که چېرې قرآن کریم په دفعې واحد باندې نازل وای نوبیا منکرینو اعتراض ولې کولو چې:

---

۱ – سورة الاسراء آیة: ۱۰۶.

Scanned by CamScanner

لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْاٰنُ جُمْلَةً وَّاحِدَةً ۚ كَذٰلِكَ ۚ لِنُثَبِّتَ بِهٖ فُؤَادَكَ وَ رَتَّلْنٰهُ تَرْتِيْلًا ﴿۳۲﴾ (۱).

ولې په يو دفعه کې قرآن کريم نه نازلېږي، نو دا اعتراض دمشرکينو چې قرآن کريم يې نقل کوي دا ښکاره دليل ددې دی چې ددې نزول نجماً نجماً وه په دفع واحدې نه وه.

المبحث السادس فی بيان القواعد التي تحتاج اليه المفسر

چند قواعد دي چې د هغې پېژندل د ترجمه کوونکي لپاره ضروري دي، اول له هغې نه لابدي ده هر طالب لره چې هغه علم النحو کې ضمائر وپېژني، ځکه چې قرآن کريم يو ډېر اجمالي کتاب دی او په زياتو ځايونو کې تعبير له يو لوی جماعت نه په يو ضمير سره کوي، ضمائر دخطاب او دتکلم چې دي دمشار اليه حال له وجهې نه مرجع نه غواړي، هرچې ضمير غائبه دی هغې کې لابدي له مرجع نه وي، مقصود له ضمائرو نه چې ولې ضمير راځي قرآن کريم کې اختصار دی.

هرځای کې چې په لسان عربي کې ضمير راځي نو مطلب يې اختصار وي مثلاً:

اِنَّ الْمُسْلِمِيْنَ وَ الْمُسْلِمٰتِ وَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَ الْمُؤْمِنٰتِ وَ الْقٰنِتِيْنَ وَ الْقٰنِتٰتِ وَ الصّٰدِقِيْنَ وَ الصّٰدِقٰتِ وَ الصّٰبِرِيْنَ وَ الصّٰبِرٰتِ وَ الْخٰشِعِيْنَ وَ

---

۱ - سورة الفرقان آية: ۳۲.

Scanned by CamScanner

الْخٰشِعٰتِ وَ الْمُتَصَدِّقِيْنَ وَ الْمُتَصَدِّقٰتِ وَ الصَّآئِمِيْنَ وَ الصّٰٓئِمٰتِ وَ الْحٰفِظِيْنَ فُرُوْجَهُمْ وَ الْحٰفِظٰتِ وَ الذّٰكِرِيْنَ اللّٰهَ كَثِيْرًا وَّ الذّٰكِرٰتِ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ مَّغْفِرَةً وَّ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿٣٥﴾.(١)

تقريباً دې آيت کې شل نوعې ذکرشوي دي لس مذکر او لس مؤنث له دې تولونه تعبير په اَعَدَّاللّٰهُ لَهُمْ په لَهُمْ سره کوي، اوس که دا ضمير کې اختصار نه واى نوبيابه دې داسې ويل چې:

أَعَدَّاللّٰهُ لِلْمُسْلِمِيْنَ، وَأَعَدَّاللّٰهُ لِلْمُسْلِمَاتِ، وَأَعَدَّاللّٰهُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَأَعَدَّاللّٰهُ لِلْمُؤْمِنَاتِ،...............دې شلو الفاظونه په يو ځل سره تعبير وشو، نو په دې کې لابدي وي له مرجع نه دغه مرجع چې مخکې ذکر وي، يابه مسبوقه ملفوظه وي مخکې به لفظاً ذکر وي.

مثلاً:

وَ نَادٰى نُوْحُ ابْنَهٗ وَ كَانَ فِيْ مَعْزِلٍ يّٰبُنَيَّ ارْكَبْ مَّعَنَا وَ لَا تَكُنْ مَّعَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٤٢﴾.(٢)

آواز وکړو نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ خوى خپل لره.

ضمير د انه غائب ته مرجع موجوده ده، نادٰى نوح ضمير هغه ته راجع دى، کله به دامرجع ماسبق کې ذکر وي معنى ضمناً، ضمناً

---

١ - سورة الاحزاب آية: ٣٥.

٢ - سورة هود آية: ٤٢.

Scanned by CamScanner

معناً مطلب دادی چې په معنی تضمني سره مطابقي تضمني التزامي کله به دا مرجع معنا ذکر وي خو په معنی تضمني سره.
مثلاً:

اِعۡدِلُوۡا ۟ هُوَ اَقۡرَبُ لِلتَّقۡوٰی ۫ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ خَبِیۡرٌۢ بِمَا تَعۡمَلُوۡنَ ۞ .(١)

دا هو ضمیر عدل ته راجع دی، عدل ماسبق کې نه شته دی خو په ضمن د اعدلوا کې پروت دی، اعدلوا مشتقي دی کنه صدق د مشتقي تقاضا دمبدې کوي مبدي عدل دی ضمناً به کې پروت دی، کله به مرجع ذکر وي معنیٰ خو التزاماً.

فَمَنۡ عُفِیَ لَهٗ مِنۡ اَخِیۡهِ شَیۡءٌ فَاتِّبَاعٌۢ بِالۡمَعۡرُوۡفِ وَ اَدَآءٌ اِلَیۡهِ بِاِحۡسَانٍ ؕ ذٰلِكَ تَخۡفِیۡفٌ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ وَ رَحۡمَةٌ ؕ فَمَنِ اعۡتَدٰی بَعۡدَ ذٰلِكَ فَلَهٗ عَذَابٌ اَلِیۡمٌ ۞ .(٢)

اَدَآءٌ اِلَیۡهِ به وي عافي لره، نو عافي مخکې نه شته دی، خو مخکې فَمَنۡ عُفِيَ لَهٗ چاته چې عفه وکړی شوه، مِنۡ دَمِ اَخِیۡهِ الۡمَقۡتُوۡلِ شَيۡءٌ بس اتباع لازم ده باالمعروف او اداء لازم ده دې عافي لره، نو دلته دې عافي ته راجع دی او عافي عفي له لره لازم دی په التزام طریقه پروت دی.

---

١ – سورة المائده آية: ٨.

٢ – سورة البقرة آية: ١٨٧.

Scanned by CamScanner

کله به مرجع متاخره وي خو لفظاً دون رتبةً رتبه به يې مقدم وي خو لفظ به متاخر وي مثلاً:

﴿فَأَوْجَسَ فِي نَفْسِهِ خِيفَةً مُّوسَىٰ﴾ (۱)

نو اصل خو موسیٰ فاعل د اوجس دی، لکه کاوجس موسی خيفةً فی نفسه نو دا فی نفسه ضمير راجع دی موسیٰ له ظرف لغو دی، ددې درجه او رتبه وروسته ده اګر که موسیٰ فاعل دی رتبه يې مقدمه ده لفظاً مؤخر رتبةً مقدم دی، او کله مرجع متاخره وي، لفظاً رتبةً لکه ضمير شان او ضمير قصه.

شعر

اضمار قبل ذکر په پنځه خايه روا دی

اوله تنازع ده بل د ربّ حکم دا دی

دنعم په ضمير کې څلورم ضمير شان دی

پنځم هغه ضمير دی چې بدل وي ترې ظاهر

دا پنځه خايونه دي چې هلته اضمار قبل ذکر روا او جائز دی.

لکه: ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ﴾ (۲)

يا لکه: ﴿فَإِذَا هِيَ شَاخِصَةٌ أَبْصَارُ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ (۳)

ذاهي ضمير قصه دی.

---

۱ - سورة طه آيه: ۶۷.

۲ - سورة الاخلاص آيه: ۱.

۳ - سورة الانبياء آيه: ۹۷.

Scanned by CamScanner

یا لکه:

بِئۡسَ لِلظّٰلِمِيۡنَ بَدَلًا ﴿٥٠﴾ (۱).

یا لکه:

سَآءَ مَثَلًا اِلۡقَوۡمُ الَّذِيۡنَ كَذَّبُوۡا بِاٰيٰتِنَا وَ اَنۡفُسَهُمۡ كَانُوۡا يَظۡلِمُوۡنَ ﴿١٧٧﴾ (۲).

کله به ضمیر داسې وي چې متاخر به وي یعنې مرجع به نه وي، خو وروسته به یو لفظ وربانديې دال وي.

لکه:

فَلَوۡلَاۤ اِذَا بَلَغَتِ الۡحُلۡقُوۡمَ ﴿٨٣﴾ (۳).

إِذَابَلَغَتِ الْحُلْقُوْمَ ای إِذَا بَلَغَتِ الرُّوْحُ الْحُلْقُوْمَ، روح مخکې ذکر نه دی خو حلقوم پرې دال دی چې ستوني کې اوخې او ننوخي هغه دا روح وي، کله به ضمیر کې مرجع ذکر نه وي خو د سیاق اوسباق نه به يې پته لګېږي.

مثلاً:

كُلُّ مَنۡ عَلَيۡهَا فَانٍ ﴿٢٦﴾ (٤).

علیها په دې ځمکه ته ځمکه خو مخکې ذکر نه ده سیاق او سباق نه يې پته لګېږي.

---

۱ - سورة الكهف آية: ۵۰.

۲ - سورة الاعراف آية: ۱۷۷.

۳ - سورة الواقعة آية: ۸۳.

٤ - سورة الرحمان آية: ۲۶.

Scanned by CamScanner

یالکه:

﴿إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةِ ٱلۡقَدۡرِ ۝١﴾ (۱).

د ہُ ضمیر راجع دی قرآن کریم ته ما سبق کې نشته دی.

یالکه:

﴿عَبَسَ وَتَوَلَّىٰٓ ۝١﴾ (۲).

نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهِ وَسَلَّمَ مخ مبارك وګرځولو نو ضمیر د عبس او تَوَلّٰی نبی کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى آلِهِ وَسَلَّمَ ته راجع دی دا شان نزول سباق سیاق نه پته لګېږي.

یا لکه:

﴿أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۖ﴾ (۳).

ضمیر دیقولون دجمعې ضمیر مشرکینوته راجع دی، نو دا له سیاق سباق نه پته لګېږي.

کله کله داسې وي چې لفظ دمرجع مراد نه وي معنی مراد وي، ضمیر لفظ ته راجع شي خوهغه مراد نه وي معنی مراد وي.

مثلاً:

﴿مَا يُعَمَّرُ مِن مُّعَمَّرٖ وَلَا يُنقَصُ مِنۡ عُمُرِهِۦٓ إِلَّا فِي كِتَٰبٍۚ﴾ (۴).

---

۱ - سورة القدر آية: ۱.

۲ - سورة العبس آية: ۱.

۳ - سورة يونس آية: ۳۸.

۴ - سورة فاطر آية: ۱۱.

Scanned by CamScanner

هغه چې عمر ورکولی شي يو معمر لره، يا عمر نه شي ورکولی يو معمر لره، او د هغه له عمر نه څه کمولی نه شي، إِلَّا فِي كِتَابٍ، نو اوس دلته ضمير د من عمره راجع معمر ته دی خو هغه معمر نه دی مراد، ځکه هلته خو ما يعمر من معمر، مزيد عمر ورکولی شي، او دلته لاينقص من عمره دی، نو مراد دا دی چې، ولاينقص من عمره من معمر اخر: لفظ د معمرته ضمير راجع دی خو معنی کې هغه معمر نه دی مراد چې کوم چاته زيادت عمر دی.

که تا ددې په ځای باندې وئيلي وای چې، ولا ينقص من عمر معمر، که معمر دې هم وئيلي وای، او بل معمر دې ترې مراد کولی هم بل معمر به دې راوړلی کنه نو ضمير يې معمرته راجع کړو خو هغه معمر نه دی چې مزيد ته يې عمر يوبل معمر ترې مراد دی، دا په ضمائرو کې اصطلاحات دي او په قرآن کريم کې ددې استعمال ډېر زيات دی، کله داسې وي چې دوه څيزونه ته ضمير دتثنې راجع شي خو مراد ترې يو وي.

مثلاً:

يَخْرُجُ مِنْهُمَا اللُّؤْلُؤُ وَالْمَرْجَانُ ۝ (۱)

نو دا له دواړونه نه راووځي دا له مالح نه راوځي.

منهما دوه بحرونو کې دواړونه ملغلرې نه وي له مالح نه وي.

ضمير دتثنيې دی مراد ترېنه يو دی.

---

۱ - سورة الرحمان آية: ۲۲.

Scanned by CamScanner

دا هغه تعریف په ضمائرو سره وه کله بیا تعریف راځي په علمیت سره، تعریف په ضمائرو سره چې راځي د هغې مقصد اختصار وي کله بیا تعریف راځي په علمیت سره.

تعریف باالعلمیة کې مقصود څه شی وي.

إِحْضَار بِعَيْنِهِ فِي ذِهْنِ السَّامِعِ لِتَعْظِيمِ.

چې د هغه سړي بعینه ذات د هغه ذهن کې کېنولی شي لپاره دتعظیم.

لکه:

مُحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ ۚ (١).

تصریح په اسم علمیت سره ولې وشوه تعظیماً چې دده ذات په ذهن کې کېنولی شي، کله په علمیت باندې تعریف وکړی شي قرآن کریم کې مقصود ورنه احضار د عین وي په ذهن د سامع کې للاهانة.

لکه:

تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ ۝ (٢).

نو ابولهب نوم یې د تعظیم لپاره نه دی راوړی د اهانت لپاره راوړی دی، کله تعریف راځي په اشارې سره، اسم اشارې باندې.

تعریف په اسم اشارې سره: لبیان حاله فی القرب، نزدیکت ته اشاره وي.

---

١ – سورة محمد صلى الله عليه وسلم آية: ٩.

٢ – سورة لهب آية: ١.

Scanned by CamScanner

لکه:

﴿هَٰذَا خَلْقُ اللَّهِ فَأَرُونِي مَاذَا خَلَقَ الَّذِينَ مِن دُونِهِ﴾ (۱).

کله اسم اشاره راځي لبیان حاله في البعد.

لکه:

﴿وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾ (۲).

کله اسم اشاره راشي خو په دې قرب کې تحقیر ته اشاره وي.

لکه:

﴿وَمَا هَٰذِهِ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا لَهْوٌ وَلَعِبٌ ۚ وَإِنَّ الدَّارَ الْآخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ ۚ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ﴾ (۳).

کله کله په بعد کې اشاره تعظیم ته وي.

لکه:

﴿ذَٰلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ ۛ فِيهِ ۛ هُدًى لِّلْمُتَّقِينَ﴾ (۴).

کله تعریف راځي په موصول سره، مقصود یې په قرآن کریم کې ستر دی پرده اچوي.

لکه: ﴿وَرَاوَدَتْهُ الَّتِي هُوَ فِي بَيْتِهَا﴾ (۵).

---

۱ - سورة لقمان آية: ۱۱.

۲ - سورة البقرة آية: ۵.

۳ - سورة الروم آية: ۶۴.

٤ - سورة البقرة آية: ۲.

۵ - سورة يوسف آية: ۲۳.

Scanned by CamScanner

مطالبه بده وکړه ده له حضرت یوسف عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ نه رجا وکړه؟
هغه زنانه چې یوسف عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ په کور د هغې کې وه، اوس دا خومره لویه قصه یې راواخسته، له دینه لنډه قصه خو داسې جوړیده، راودته زلیخا، دا ورنه خومره لنډه وه، ٱلَّتِي هُوَ فِي بَيْتِهَا، دا صله مع الموصول چې له یوې ښځې نه تعبیر کېږي دا دومره لوی لفظ ته څه ضرورت وه، ستراً کار بېکاره کار وه نوڅکه یې دومره اوګده قصه راواخسته نو پرده ورباندې اچوي.
نو چې هرکله الله تعالی د زلیخې بي بي دومره ستر او پرده ساتي چې د معجز کتاب چې د پنځ بناء اسلام کې د لمونځ خومره لویه بناء ده خو له دې تول لمونځ نه تعبیر کوي تاته په اقیموالصلوٰة سره، نور تفصیل په احادیثو کې لټوه، نو دا دومره مجمل کتاب دی په دې دومره مجمل کتاب کې د راودته زلیخا په ځای باندې، رَٰوَدَتۡهُ ٱلَّتِي هُوَ فِي بَيْتِهَا، دا دومره یې اوګده وي په قیمتي کلام کې د ٱلَّتِي هُوَ فِي بَيْتِهَا سَتْرًا عَلَيْهَا، بعضې وهابیان د زلیخا بي بي په حق کې بر سبک الفاظ استعمالوي چې دا زناکاره وه او دا داسې داسې وه، دا الفاظ استعمالول لویه ګستاخي او بې ادبي ده، داچې د زلیخا بي بي له حضرت یوسف عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ سره ورستو بیانکاح شوې ده کنه په دې کې اختلاف دی خو وروسته بیا هغه مسلمانه شوې ده.
نو موصول باندې تعریف چې راځي کله سترا وي پرده ورباندې اچوي، اوکله ارادة العموم، موصولات راځي اراده یې عموم وي.

Scanned by CamScanner

مثلاً:

وَ الَّذِیۡنَ جَاهَدُوۡا فِیۡنَا لَنَهۡدِیَنَّهُمۡ سُبُلَنَا ؕ وَ اِنَّ اللّٰهَ لَمَعَ الۡمُحۡسِنِیۡنَ ﴿۶۹﴾ (۱)

هغه کسان: جَاهَدُوْ فِيْنَا فِي طَلَبِ مَعْرِفَتِنَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا، یا جَاهَدُوْ فِيْنَا فِي إِعْلَاءِ كَلِمَتِنَا، نو دا به جهاد ظاهري شي هغه به جاهد مع النفس شي، دواړه تاویله مراد دي نو دلته ارادة العموم دی.

کله اراده اختصار وي:

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا لَا تَکُوۡنُوۡا کَالَّذِیۡنَ اٰذَوۡا مُوۡسٰی فَبَرَّاَهُ اللّٰهُ مِمَّا قَالُوۡا ؕ وَ کَانَ عِنۡدَ اللّٰهِ وَجِیۡهًا ﴿۶۹﴾ (۲)

لکه د حضرت موسی عَلَیْهِ السَّلَامُ قومیان په زرګونو خلك وه تولو ورته تکلیف رسولی وه، نو د هریو نوم نه اخلي نو قصه اوګدیږي نو له تولو نه تعبیر کوي په الذین اذو موسیٰ سره اختصاراً.

تنکیر:

هرچې تنکیر دی، نکره چې راځي او تنوین پرې راوړي تنکیر د اتو فائدو لپاره قرآن کې مستعمل کیږي.

۱ - کله ترې مراد له تنکیر وحدت وي.

وَجَآءَ رَجُلٌ مِّنۡ اَقۡصَا الۡمَدِیۡنَةِ یَسۡعٰی (۳)

---

۱ - سورة العنکبوت آیة: ۶۹.

۲ - سورة الاحزاب آیة: ۶۹.

۳ - سورة القصص آیة: ۲۰.

Scanned by CamScanner

دا منکر دی لکه: جَآءَ رَجُلٌ وَاحِدٌ. نه

۲. کله له تنکیر نه مراد ارادة النوع، نوع مقصد وي:

وَ لَتَجِدَنَّهُمْ اَحْرَصَ النَّاسِ عَلٰى حَيٰوةٍ ۚ (۱).

اى عَلٰى نَوْعٍ مِّنَ الْحَيٰوةِ.

۳- اراده د معنيينو هم وحدت وي هم نوعيت وي.

وَاللّٰهُ خَلَقَ كُلَّ دَآبَّةٍ مِّنْ مَّآءٍ ۚ (۲).

اى خَلَقَ كُلَّ نَوْعٍ مِّنْ اَنْوَاعِ دَابَّةٍ مِّنْ نَوْعٍ مِّنْ اَنْوَاعِ الْمَاءِ وَكُلَّ فَرْدٍ مِّنْ هٰذَا دَآبَّةٍ مِّنْ فَرْدٍ مِّنْ اَفْرَادِ الْمَاءِ.

هم وحدت مراد دی هم نوعيت مراد دی.

۴- کله تنوين راځي لپاره د تعظيم.

مثلاً:

فَاِنْ لَّمْ تَفْعَلُوْا فَاْذَنُوْا بِحَرْبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَ رَسُوْلِهٖ ۚ (۳).

اى بِحَرْبٍ عَظِيْمٍ مِّنَ اللّٰهِ.

---

۱ - سورة البقرة آية ۹۶.

۲ - سورة النور آية ۴۵.

۳ - سورة البقرة آية: ۲۷۹.

Scanned by CamScanner

۵- کله تنوين راځي لتکثير، لپاره د تکثير.

مثلاً:

فَلَمَّا جَآءَ السَّحَرَةُ قَالُوا لِفِرْعَوْنَ أَئِنَّ لَنَا لَأَجْرًا إِن كُنَّا نَحْنُ الْغَالِبِينَ ﴿٤١﴾ (۱).

اى أئِنَّ لَنَا لَأَجْراً كَثِيراً.

۶- کله د تعظيم او تکثير دواړه لپاره راځي.

وَإِن يُكَذِّبُوكَ فَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّن قَبْلِكَ ۚ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿٤﴾ (۲).

رسول معنى رُسُلٌ عِظَامٌ، اويل رسول معنى رُسُلٌ ذُوعَدَدٍ كَثِيرٍ، هم د كثرت لپاره هم د تعظيم لپاره.

۷- کله تنوين راځي لپاره د تحقير.

مِنْ أَيِّ شَيْءٍ خَلَقَهُ ﴿١٨﴾ (۳).

اى مِنْ أَىِّ شَيْءٍ حَقِيرٍ خَلَقَهُ مِن نُّطْفَةٍ.

۸- کله تنوين راځي لپاره د تقليل.

وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللَّهِ أَكْبَرُ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ ﴿٧٢﴾ (٤).

---

۱ - سورة النمل آية: ٤١.

۲ - سورة فاطر آية: ٤.

۳ - سورة العبس آية: ۱۸.

٤ - سورة الصف آية: ۷۲.

Scanned by CamScanner

اى وَرِضْوَانٌ قَلِيلٌ مِّنَ اللهِ أَكْبَرُ، دا د معرفې او نکرې متعلق
چند اوصول وه.

بیا په قرآن کریم کې او عام اصطلاحاتو عربیه وکې کله معرفه معاد یږي معرفه کله نکره معاد یږي نکره، کله معرفه معاده شي نکره کله نکره معاده شي معرفه ، دا څلور صور دي.

١ - معرفه چې معاده شي معرفه نوثاني عین اولی وي اتفاقاً.

مثلاً:

إِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ۝ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ [١]

نو الصراط المستقيم، الصراط معرفه باالف لام دی، صراط الذين انعمت عليهم كې الذين اسم موصول انعمت عليهم صله د موصول، موصول سره له صلې نه مضاف اليه د صراط دلته تعريف باالاضافت دی، نو صراط ثاني معرفه بالاضافة او صراط اول معرفه بالالف ولام سره نو معرفه معاده شوه معرفه ثانيه عين اولی ده تغير نشته.

٢ - نکره چې معاده شي نکره ثاني غير اولی وي.

مثلاً:

اَللّٰهُ الَّذِیْ خَلَقَكُمْ مِّنْ ضُعْفٍ ثُمَّ جَعَلَ مِنْۢ بَعْدِ ضُعْفٍ قُوَّةً ثُمَّ جَعَلَ مِنْۢ بَعْدِ قُوَّةٍ ضُعْفًا وَّ شَیْبَةً ؕ یَخْلُقُ مَا یَشَآءُ ۚ وَ هُوَ الْعَلِیْمُ الْقَدِیْرُ ۝ [٢]

---

١ – سورة الفاتحة آية: ٥، ٦.

٢ – سورة الروم آية: ٥٤

Scanned by CamScanner

به دې کې درې ضعفاً راغلل مکرر شول خو هرځای کې بې خپله خپله معنیٰ ده.

مراد له ضعف اول نه نطفه ده.

مراد له ضعف ثاني نه طفوليت دی.

مراد له ضعف ثالث نه شيخوخت دی.

اَللّٰهُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِّنْ ضَعْفٍ، ای مِنْ نُطْفَةٍ، ثُمَّ جَعَلَ مِنْ بَعْدِ ضَعْفٍ قُوَّةً، ای مِنْ طُفُوْلِيَّةٍ قُوَّةً، ثُمَّ جَعَلَ مِنْ بَعْدِ قُوَّةٍ ضَعْفاً، ای مِنْ بَعْدِ قُوَّةٍ شَيْخُوْخَةً.

نو دا نکره معاد شوه نکره ثانيه غير اولیٰ شوه.

۳. نکره معاده شي معرفه ثاني عين اولیٰ وي بيا، ځکه چې معرفه معاد شوه نو ثاني کې دې الف لام راغلل الف لام به عهدي واخلي معهود به يکې هغه نکره شي چې مخکې ذکر وي.

مثلاً:

إِنَّآ أَرْسَلْنَآ إِلَيْكُمْ رَسُولًا شَٰهِدًا عَلَيْكُمْ كَمَآ أَرْسَلْنَآ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ رَسُولًا ﴿١٥﴾.(١)

رسولاً منکر فعصى فرعون الرسول نه الرسول معرفه مراد له الرسول نه هغه رسولا دی، هغه موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ترې مراد دی.

۴. چې اوله معرفه ثاني نکره راشي.

ولته خو عام تاسو اوربدلي نورالانوار وغيره والیکلي دي چې اوله معرفه ثاني نکره ثاني غيراولی وي، خو داسې نه دی به دې کې تحقيق دی له قرينو نه به يې پته لګېږي.

---

١ - سورة المدثر آية: ١٥.

Scanned by CamScanner

کله ثاني عين اولى وي، کله ثاني غيراولى وي مثال هغه چې ثاني غير اولى وي.

وَ يَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ يُقْسِمُ الْمُجْرِمُوْنَ ۙ مَا لَبِثُوْا غَيْرَ سَاعَةٍ ؕ كَذٰلِكَ كَانُوْا يُؤْفَكُوْنَ ﴿۵۵﴾.(۱)

ساعة معرفه ذکر ده، ما لبثوا غیر ساعة نکره ذکر ده نو دا ثاني غير اولى دى.

هلته له ساعة نه قيامت مراد دی او دلته له ساعة نه مراد لږ غونډي تائم دی او کله کله قرينه د اتحاد وي نو بيا هلته اتحاد مراد دی.

مثلاً:

وَ لَقَدْ ضَرَبْنَا لِلنَّاسِ فِيْ هٰذَا الْقُرْاٰنِ مِنْ كُلِّ مَثَلٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿ۚ۲۷﴾ قُرْاٰنًا عَرَبِيًّا غَيْرَ ذِيْ عِوَجٍ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿۲۸﴾.(۲)

نو اوس دا قرآناً منكر راغلی دی او مخکې معرفه راغله في هذا القرآن دی، خو ثاني غير اولى دی.

دوهم بحث چې قرآن کریم کې مستعملېږي هغه افراد او جمعيت دی.

خو عادت د باری تعالی په دې باندې جاري دی چې بعض الفاظ دي چې له هغې نه تعبير په جمعې سره کوي خو د هغې چې کوم مفرد دی هغه نه مستعمل کوي، مفرد د هغې مترادف راوړي بيا

---

۱ - سورة الروم آية: ۵۵.

۲ - سورة الزمر آية: ۲۷.

Scanned by CamScanner

لکه: الالباب، الالباب دعقل خاوندان دي، مفرد يې لب دی خو تمام قرآن مجيد کې دانه دی مستعمل شوی، په لب سره نه مستعمل کېږي بلکه بيا ترې تعبير په قلب سره کوي.

لکه:

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَذِكْرَىٰ لِمَن كَانَ لَهُ قَلْبٌ أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيدٌ ﴿٣٧﴾.(١)

نو الالباب په جمع سره ترې تعبير کوي خو په مفرد لب سره ترې تعبير نه کوي، تعبير ترې بيا په قلب باندې کوي.

يا من جمله له هغې نه واکواب موضوعه مفرد يې کوب راځي خو قرآن کريم کې د کوب استعمال نشته دی.

يامنجمله له هغې نه داسې دي چې مفرد راوړي جمع يې نه مستعمل کوي، لکه: الارض تمام قرآن کريم کې اووه ځمکې ذکر دي خو له هغې نه تعبير په ارض سره نشته دی، جمع شاذ ده نه يې مستعمل کوي.

اَللّٰهُ الَّذِي خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ وَّمِنَ الْاَرْضِ مِثْلَهُنَّ ۖ.(٢)

منجمله بيا داسې الفاظ دي چې هغه جمع هم مستعمل دي مفرد هم مستعمل دي خو په جمع کې خاتته معنی مراد وي مفرد کې خاتته معنی مراد وي، لکه: ريح کله چې جمعې سره راشي رياح

١ - سورة ق آية: ٣٧.

٢ - سورة الطلاق آية: ١٢.

Scanned by CamScanner

نو مراد ترې د رحمت بادونه وي اوکه مفرد باندې راشي نو مراد ترې دعذاب بادونه وي.

المبحث السابع فی اعجازالقران وبیان سبعة احرف

اعجاز الالقران

دا واضحه خبره ده چې قرآن کريم معجزه د نبي کريم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَىٰ آلِهِ وَسَلَّمَ ده.

معجزات د انبياء عَلَيْهِمُ ٱلسَّلَامُ څه معنوي دي، او څه حسي دي، د نورو انبياء عَلَيْهِمُ ٱلسَّلَامُ معجزات حسي وه، د حضرت نبي کريم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَىٰ آلِهِ وَسَلَّمَ معجزې حسي هم وې خو ډيرې معجزې بې عقلي وې منجمله له هغې نه قرآن کريم دی.

فرق دحسي اومعنوي داوي، چې حسي معجزه زياته مؤثره وي ظاهراً خو په وفات دشخص سره ختم کېدونکي وي د نورو انبياء عَلَيْهِمُ ٱلسَّلَامُ چې څومره معجزات وه هغه په وفات د هغوئ عَلَيْهِمُ ٱلسَّلَامُ سره ختم شو.

اګرکه بعدالوفات انبياء عَلَيْهِمُ ٱلسَّلَامُ ته دهغوئ امت کې نور معجزات وي چې په لاسونو داولياو کرامات صادرشي دمعجزه دنبي وي خو د دوئ معجزات به ختم شو.

هرچې معجزه عقلي ده معني دا، هغه په وفات سره نه ختم کېږي، لکه قرآن کريم معجزه دنبي کريم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَىٰ آلِهِ وَسَلَّمَ ده چې چيلنج بې ورکړی دی چې: فاتو بسورة من مثله، چاېې چيلنج قبول نه کړو

هغوئ مبارکان له دنیا نه لاړو خو اوس یې هم چیلنج قبول کړی نه دی
تر قیامته پورې یې نه شي قبلولی، دا معجزه حسیاً او عقلاً ده.

په قران کریم کې د اعجاز وجوه:

وجوه د اعجاز په قرآن کریم کې اووه دي.

١ - حُسْنُ الْأُسْلُوْبِ: ښکلي طرز او طریقه.

٢ - كَمَالُ الْبَلَاغَةِ.

لَبِيْد بِنْ رَبِيْعَةَ

لبید بن ربیعه د جاهلت په زمانه کې هغه معروف شاعر وه چې
امام شافعي رَحِمَهُ ٱللَّهُ د ده حق کې فرمایي:

قولُ الإمام الشافعي:

وَلَوْلاَ الشِّعْرُ بِالعُلَمَاءِ يُزْرِي
لَكُنْتُ الْيَوْمَ أَشْعَرَ مِنْ لَبِيدِ

ترجمه: که چېرته شاعري کول له علماو سره عیب نه ګڼل
کېدای، نو زه به له لبید لوی شاعر وم.

لبید بن ربیعه دومره ماهر وه په شعر کې چې د ده نارینه بچي نه
وه، دوه لورګاني یې درلودې د ده لورګانې هم په شاعري کې ماهرې
وې، یو خل چېرته په سفر باندې له ملګرو سره تللو دی ډېر مالدار هم
وه نو په خان باندې ویریده چې دا خلك ما مړ نه کړي نودې لورګانو
ته یې یوه قطعه نیم بیته ولیکله او لاړو ترې دایې ورته لیکلي وه:

يَا بِنْتَا لَبِيْدٍ إِنَّ أَبَا كُمَا

ترجمه: ای دلبید لورګانو یقیناً ستاسي پلار چې دی.

څنګه چې دی نو نوریې هیڅ هم نه وه لیکلي مرکب غیر مفید یې راوړی وه.

نوچې کله دی له خپلو ملګروسره شام ته ورسیدو نو هغه ملګري یې اوس دی وژني، دی ورته وایي مامه وژنئ هیڅوک نه لرم هغوئ ورته وویل نه تاسره ډېرې پیسې دي نو لبید ورته وایي چې زه بس یو چیټهې درکوم هغه زما لورګانو ته بیا ورکړئ، هغوئ ورته وویل هسې نه چې زمونږ نوم پکې ولیکې، لبید ورته وویل: که ستاسې نوم مې پکې ولیکه نوبیایې مه ورکوئ.

نو ده په هغه چیټهې (خط) باندې ولیکل چې:

يَا بِنْتَا لَبِيْدٍ إِنَّ أَبَاكُمَا

صرف دغه یوه کرښه یې دې خپلو قاتلانوته ورکړه، قاتلانو وویل: چې دې کې خو دهیڅا نوم هم نشته مرکب غیر مفید دی.

سرې یې قتل کړو لبید یې مړ کړو، نو دا قاتلان راغلل او دروازه د لورانو یې وټکوله ورته وایي چې پلار دې مړ شو او مونږ ته یې دا خط راکړی دی.

هغه لورګانې یې دومره ماهرانې وې چې کله یې خط وکتلو نو کلک یې دواړه ونیول ویې ویل: تاسو زمونږ د پلار قاتلان یئ، قاضي ته یې پیش کړل، قاضي ورته وویل: چې دلیل څه څیز دی چې تاسو پرې دعوی کوئ.

Scanned by CamScanner

هغوئ ورته وایي چې دپلار له خوا نه مونږ ته یوه چیتهی
رخط، راغلی دی خوهغه چیتهی کې یې نیمه کړی لیکلې ده،
رانیمه کړی دتمام عرب شاعران راجمع کړئ له دې سره مونږ یوه
بله کړی لګوو ددې له دېنه بیا ثابتېږي چې قاتلان دوئ دي، اوکه
بله کړی ورسره چا برابره کړه او جوړه یې کړه خوبیاصحیح ده، او
دا داسې بیت دی چې بلکه کړی ورسره نه لګېږي، نو قاضي ورته
وایي چې تاسې څنګه جواب لیکئ ددې کړی.
هغوئ ورته وویل چې مونږ دا جواب لیکو چې:

شعر

یَا بِنْتَا لَبِیْدٍ إِنَّ أَبَاکُمَا

قَدْ قُتِلَ وَقَاتِلَا أَنْتُمَا

ترجمه: ای د لبید لورګانو بیشکه پلارستاسې چې دی قتل
شوی دی او قاتلان دواړه درغلي دي.
وایي مونږ دا جواب لیکو که تاسې وایئ چې ددې دا جواب
ټهیك نه دی، نوشاعران راغوند کړئ چې بله کړی ورسره ولګوي،
لبید په دې شعرکې دومره کمال کړی وه چې دتمام عرب شاعرانو
ورسره بله کړی نه شوه لګولی، هغه دواړه یې پاتسي کړل بیا، نو له
دومره مهارت سره ورته خلکو وویل: چې ته دقرآن کریم جواب وکړه.
لبید له وېر کوښښ نه بعد چې یو کال جیله یې ورته ویستلې وه
پس دومره یې ولیکل چې:

إِنَّآ أَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَ ۝ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَ انْحَرْ ۝ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ ۝.[۱]

آخركې يې وليكل چې:

وَاللهِ مَاهٰذَا قَوْلُ الْبَشَرِ.

نوبيا يې وويل: چې نور زما هيڅ وس نه كېږي ځوك وايي چې لبيد كړې دې اوځوك وايي چې لوړګانو يې كړې دي.

۳. آنْجَعِيَة معنوي: جامع الكلم دى لوى بحر نه په يوځو تكوكې بحث كوي.

۴. اعجاز دى په شفاء روحي جسمي كې روحي شفاء وركوي جسمي شفاء وركوي نورو الفاظوكې دا تاثير نه وي.

فاتحه شريفه چې يوصحيح اجازې والا سړى وليكي مريض ته يې وركړي هغه پرې ښه شي، ډاكټر دوابي وركوي كه ډاكټر تش كاغذ وركړي هغه پرې نه ښه كېږي.

قرآن كريم كې اعجاز چې كوم دى هغه په شفاء ظاهري جسمي روحي كې دى چې دا په بل هيڅ ځيز كې نشته دى.

۵. صداقت اخباري: كومه واقعه چې يې بيان كړې دې هغه شان هوبهو حقيقت دى.

۶. دقّت ربط: ربط يې ډېر باريك دى هركس يې نه شي كولى.

۷. قوانين كليه.

---

۱ - سورة ق آية:۳۷.

المبحث الثامن في بيان المضامين المبينة فى القرآن

اقسام علوم القران:

اول: قرآن كريم كې شپږ قسمه علوم چېرل كېږي.

۱- اعتقاديات، ۲- عبادات، ۳- مشتهيات، ٤- معاملات، ٥- زواجر، ٦- آداب الخلقية.

۱- اعتقاديات:

چې بحث ورنه كوي، امنت بالله او د هغې مضمون دى، اثبات الوحدانيت، اثبات الرسالة، هغې كې صداقت كتاب چې په هغې كې امنت بالله وملئكته وكتبه ورسوله او د هغې بحث بعدالموت واليوم الاخر او مسئله د تقدير چېږي.

۲- عبادات:

عبادات چې دي لكه: پنج بناء اسلام او له هغې سره جهاد لپاره د نفاذ ددې قوانينو او انفاق دا مسئلې راځي.

۳- مشتهيات:

مراد له مشتهياتونه ماكولات مشروبات ملبوسات او منكوحات دي.

نكاح به له چاسره كوې چاسره به يې نه كوې په دې باندې تفصيل په سورة النساء كې لګيدلی دی.

ياملبوسات دي او مشروبات څه روادي څه ناروا دي.

یا ماکولاتو کې څه روا دي څه ناروا دي د هغې بیان پکې کېږي،
خو په غته کې له دېنه تعبیر په مشتهیاتو باندې کېږي.

۴. **معاملات**:

بیع او اجارات مسئلې د مداینت دا ټول کېږي.
یا معاملاتو کې مخاصمات دا هم ذکر کېږي، یا ادا د اماناتو یا
ترکات د میراث مسئلې دا ټول په معاملاتو کې شامل دي.

۵. **زواجر**:

پنځم په قرآن کریم کې بحث کوي له زواجرو نه، د زواجرو
مقاصد دي کله زجر راځي لحفظ النفس نو په هغې کې د قصاص
بیان راځي.

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى﴾.(۱)

اول: دا زجر دی خو زجر لحفظ النفس دی ساتنه د خلکو یې
کېږي.

﴿وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ يَاأُولِي الْأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾.(۲)

دوهم: زواجر راځي لحفظ الاعراض:
د خلکو حیثیت او عرض ساتل دي پکې.
لکه حد الزنا والرجم لپاره دې چې د خلکو نام ونسب او
د هغوی ذات وساتلی شي.

---

۱ – سورة البقرة آية: ۱۷۸.

۲ – سورة البقرة آية: ۱۷۹.

Scanned by CamScanner

نو مراد له هغې نه حدالقذف شو چې هغه زجر وي لحِفْظِ الْعَرْضِ حِفْظِ الْأَعْرَاضِ دا حدالقذف شو.

كله زجر وي لپاره د حفظ الانساب نسبونه ساتي لكه جلدرجم چې خلط په نسب كې رانشي.

خلورم: زواجر دي لحفظ الاموال: لكه لاس كټ كول له غل نه، رجم راخي لپاره د حفظ د شان اوشوكت اسلامي لكه قتل د مرتد.

۶ - اداب خلقيه:

اوبل په قرآن كريم كې اداب خلقيه دي:

۱ - اصلاح د نفس وي.

۲ - اصلاح د معاشرې وي.

۳ - سياست مدنيه د هغې بيان.

د قرانكريم اجمال

بعضې علماو د قرآن كريم اجمال په دې طريقه ونيلی دی، مضامين مبينه فی القرآن يې سته كرخولي دي.

۱ - آداب خلقيه،

۲ - زواجر،

۳ - معاملات،

۴ - مشتهيات،

۵ - عبادات،

۶ - اعتقاديات،

دوهم: قول دادی چې مضامين مبينه فی القرآن هغه پنځه دي.

Scanned by CamScanner

۱- علم المخاصمه: مباحثه له مشرکینو له قتالو سره به په خو طریقه وي.

۲- علم الاحکام من قسمي العبادات والمعاملات.

۳- علم التذکیر باعلاء الله: د الله تعالی د نعمتونو یادګیرنه.

۴- علم التذکیر بایّام الله: واقعات د ماسبق بیانوي.

۵- علم التذکیر الموت بعدالموت.

دریم قول: بعضو اجمال د قرآن کریم په دې طریقه باندې وئیلی دی، چې مضامین مبینه فی القرآن څلور دي.

۱- علم الاصول.

۲- علم الفروع.

۳- علم القصص والامثال.

۴- علم السلوک لاصلاح الباطن.

څلورم قول: چې مضامین مبینه فی القرآن ثلثه دي.

۱- صلاح العلم.

۲- صلاح العمل.

۳- الترغیب والترهیب.

دا د ټول قرآن کریم اجمال دی.

پنځم قول: پنځم قول دا دی چې مضامین مبینه فی القرآن دوه دي.

۱- التخلیه بمایرضی به الله.

۲- التخلیه عما نهی الله: کوم نه چې الله تعالی منعه کړې ده.

د شاه منصور باباجي رَحِمَهُ اللهُ به ویل چې مضامین مبینه فی القرآن شپږ دي.

۱ - اثبات التوحيد.

۲ - بشارت.

۳ - رسالت.

۴ - تخویفات.

۵ - جهاد.

۶ - انفاق.

او کله به یې فرمائیل چې څلور دي.

۱ - خالقیة.

۲ - تربیة.

۳ - احوال البرکة.

۴ - احوال القیامة.

المبحث التاسع فی بیان السلسلة السبعة فی القران

په قرآن کریم کې د اوو(۷) سلسلو ذکر دی.

د دعوي اقسام:

۱ - سلسلة الدعوی:

و ابین فیها اربعة مقصاصد في ضمن الدعوی.

د دعوي په ضمن کې څلور مقاصد راځي.

۱ - دعوی التوحید.

۲ - دعوی صداقت القران.

۳ - دعوی رسالة.

Scanned by CamScanner

۴. دعوی بعث بعدالموت.

دا لومړۍ دعوی د مکي سورتونو دي.

مدني سورو کې انفاق او جهاد لپاره د نفاذ د دغې دعوي و

هغه هم ذکر کېږي.

د قرانکریم د دلائلو اقسام:

۲. سلسلة الدلائل:

څلور قسمه دلائل قرآن کريم کې راځي.

۱. دلائل عقليه.

۲. دلائل نقليه.

۳. دلائل وحييه.

۴. دلائل استقرائيه.

اقسام دلائل:

دليل عقلي دوه قسمه قرآن کريم کې راځي، دلائل عقليه افاقيه، دلائل عقليه نفسيه، تعبير قرآن کريم کې په دې سره کېږي چې کله استدلال کې عالم صغير پيش کېږي، کله عالم کبير پيش کېږي، علم صغير وانچه د انسان ده.

وَفِيٓ أَنفُسِكُمۡۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ ۝ .(۱)

عالم کبير عام کائنات دي عام ځمکه آسمان دي، نو کله دلائل انفسي کله افاقي دي.

---

۱ - سورة الذاريات آية: ۲۱.

Scanned by CamScanner

دلائل انفسي داشان دنفس پیش کېږي.

﴿سَنُرِيهِمْ آيَاتِنَا فِي الْآفَاقِ وَفِي أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ ۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ﴾. (۱)

دلائل عقلي، افاقي اقسام

دلائل عقلي افاقي بيا درې قسمه دي.

۱- سفلي، ۲- علوي، ۳- جوي.

نو دې آيت مبارك کې د هغې خلاصه پرته ده.

﴿الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ فِرَاشًا وَالسَّمَاءَ بِنَاءً وَأَنزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۖ فَلَا تَجْعَلُوا لِلَّهِ أَندَادًا وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ﴾. (۲)

نو السماء بناءً علوي، افاقي او عقلي دليل دی.

والارض فراشاً سفلي، افاقي او عقلي دليل دی.

وانزل من السماء ماءً، علوي، جويي او افاقي دليل دی.

هرچې دليل عقلي انفسي دی:

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾. (۳)

۱- سورة حم السجدة (فصلت) آية: ۵۳

۲- سورة البقرة آية: ۲۲.

۳- سورة البقرة آية: ۲۱.

Scanned by CamScanner

د خَلَقَكُمْ إِذْهُوَ خَلَقَكُمْ په دعوی باندې دلیل دی.

۳. سلسلة الشکایات:

لَقَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ فَقِيرٌ وَنَحْنُ أَغْنِيَاءُ ۘ سَنَكْتُبُ مَا قَالُوا وَقَتْلَهُمُ الْأَنْبِيَاءَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَنَقُولُ ذُوقُوا عَذَابَ الْحَرِيقِ ۝ .(۱)

د اشکایت کوي خلکو ته، یا په لفظ د فلاینظرون سره شکایت کوي، دوی نه ګوري دا شکایت دی، یا په لفظ د فلا ینظر سره دا له شکایت نه تعبیر کیږي، افلا ینظر الانسان الی طعامه.

۴. سلسلة ازالة الشبهات:

د رسالت له دعوی نه یهودو ولې انکار کولو، ځکه چې دوی به دا ویل چې ده ته جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ وحی راوړي، هو عدونا ،دا خو زمونږ دښمن دی، ولې میکائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وحی نه راوړي؟ دا په رسالت باندې شبهه ده:

قُلْ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِجِبْرِيلَ فَإِنَّهُ نَزَّلَهُ عَلَىٰ قَلْبِكَ بِإِذْنِ اللَّهِ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَهُدًى وَبُشْرَىٰ لِلْمُؤْمِنِينَ ۝ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِلَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَرُسُلِهِ وَجِبْرِيلَ وَمِيكَالَ فَإِنَّ اللَّهَ عَدُوٌّ لِلْكَافِرِينَ ۝ .(۲)

---

۱ - سورة آل عمران آية: ۱۸۱.

۲ - سورة البقرة آية: ۹۷-۹۸.

Scanned by CamScanner

د انکار د رسالت لپاره الله تعالی د هغوئ د بنمن دی، بیابه یې څه ویل چې مونږ څکه ایمان نه راوړو چې دی یوطرفته سُلیمان عَلَیۡهِ ٱلسَّلَامُ ته لوی شخصیت وایي، او بیا بل ته وایي چې سحر ناروا دی هغه خولوی ساحر وه.

وَمَا كَفَرَ سُلَيۡمَٰنُ وَلَٰكِنَّ ٱلشَّيَٰطِينَ كَفَرُواْ يُعَلِّمُونَ ٱلنَّاسَ ٱلسِّحۡرَ وَمَآ أُنزِلَ عَلَى ٱلۡمَلَكَيۡنِ بِبَابِلَ هَٰرُوتَ وَمَٰرُوتَۚ وَمَا يُعَلِّمَانِ مِنۡ أَحَدٍ حَتَّىٰ يَقُولَآ إِنَّمَا نَحۡنُ فِتۡنَةٞ فَلَا تَكۡفُرۡۖ فَيَتَعَلَّمُونَ مِنۡهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِۦ بَيۡنَ ٱلۡمَرۡءِ وَزَوۡجِهِۦۚ وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ مِنۡ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمۡ وَلَا يَنفَعُهُمۡۚ وَلَقَدۡ عَلِمُواْ لَمَنِ ٱشۡتَرَىٰهُ مَا لَهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنۡ خَلَٰقٖۚ وَلَبِئۡسَ مَا شَرَوۡاْ بِهِۦٓ أَنفُسَهُمۡۚ لَوۡ كَانُواْ يَعۡلَمُونَ ۝. (۱)

حضرت سلیمان عَلَیۡهِ ٱلسَّلَامُ کفر نه دی کړی دا شبهه ده په اثبات د رسالت باندې هغوئ اعتراض کړی دی، بیابه یې څه ویل چې مونږ څکه ایمان نه راوړو چې دی سهارکې یوه خبره کوي اوماښام بله خبره کوي اوبیا وایي چې هغه زړه خبره مې ختمه کړه، داڅنګه قانون دی چې منسوخ کیږي.

جواب راځي:

---

۱ - سورة البقرة آية:۱۰۲.

Scanned by CamScanner

مَا نَنْسَخْ مِنْ اٰيَةٍ اَوْ نُنْسِهَا نَاْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَآ اَوْ مِثْلِهَا ۗ اَلَمْ تَعْلَمْ

اَنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٠٦﴾.(١)

بيابه يې څه ويل چې رسالت څکه نشو منلی چې دده ملګري يې بې ادبي کوي کنه خپل ملګري يې ورته وايي چې راعينا زمونږ شپونکی، نو مونږ څنګه شپونکي پسې لاړ شو، اوبيابه يې خپلې ژبې ته واړوله چې زمونږ په ژبه کې خو راعينا احمق ته وايي.

جواب راغی چې:

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقُوْلُوْا رَاعِنَا وَ قُوْلُوا انْظُرْنَا وَ اسْمَعُوْا ۗ وَ

لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿١٠٤﴾.(٢)

بيابه يې ويل بيت المقدس يې ولې پرېښی دی.

وَ لِلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَ الْمَغْرِبُ ۗ فَاَيْنَمَا تُوَلُّوْا فَثَمَّ وَجْهُ اللّٰهِ ۗ اِنَّ اللّٰهَ

وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿١١٥﴾.(٣)

دېته سلسله د ازالة الشبهات وايي:

اعتراضات کېږي او د هغې جوابات کېږي.

---

١ - سورة البقرة آية: ١٠٦.

٢ - سورة البقرة آية: ١٠٤.

٣ - سورة البقرة آية: ١١٥.

Scanned by CamScanner

۵- سلسلة التخویفات:

اول ترې شکایت او ګیله وکړي او بیا د مغې شبهات دفع کړي، عقلي افاقي دلائل ورته ووابي پیش کړي، چې بیا هم نه صحیح کېږي نو بیا ورته تخویف راوړي.

سلسله د تخویفاتو کله دنیاوي وي کله اخروي وي،دنیاوي په ذکر دهلاکت دقومونو سره وي.

لکه قوم د حضرت نوح عَلَیْهِ السَّلَامُ، قوم د حضرت موسی عَلَیْهِ السَّلَامُ، دا سلسله په مکي سورو کې ډېره استعمال شوې ده، که په دې باندې ونشي بیا تخویف اخروي راشي:

﴿فَإِذَا جَاءَتِ الصَّاخَّةُ ۞ يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ ۞ وَأُمِّهِ وَأَبِيهِ ۞ وَصَاحِبَتِهِ وَبَنِيهِ ۞ لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ ۞ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ مُّسْفِرَةٌ ۞ ضَاحِكَةٌ مُّسْتَبْشِرَةٌ ۞ وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ ۞ تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ ۞ أُولَٰئِكَ هُمُ الْكَفَرَةُ الْفَجَرَةُ ۞﴾[۱].

دا سلسله دتخویفاتو اخروي شروع شي.

۶- سلسلة التسلیات:

کله نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ ته تسلي وي، کله یې امت ته تسلي وي.

---

۱ - سورة العبس ۳۳، الی اخره.

Scanned by CamScanner

مثلاً:

﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّن قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ أَزْوَاجًا وَذُرِّيَّةً ۚ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأْتِيَ بِآيَةٍ إِلَّا بِإِذْنِ اللَّهِ ۗ لِكُلِّ أَجَلٍ كِتَابٌ﴾.(۱)

ستانه مخکې موږ رسول لېږلي دي، هغوی باندې هم دا تکاليف راغلي دي.

کله امت ته تسلي وي، او دا امت ته تسلي د پيغور په شکل باندې اکثرا وي.

مثلاً:

﴿أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُم مَّثَلُ الَّذِينَ خَلَوْا مِن قَبْلِكُم ۖ مَّسَّتْهُمُ الْبَأْسَاءُ وَالضَّرَّاءُ وَزُلْزِلُوا حَتَّىٰ يَقُولَ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ مَتَىٰ نَصْرُ اللَّهِ ۗ أَلَا إِنَّ نَصْرَ اللَّهِ قَرِيبٌ﴾.(۲)

هغه مخکې خلکو باندې چې کوم حالات راغلي تاسې باندې به هغه نه راځي او جنت ته به څنګه دا به راځي درباندې.

دا چند سلسلې په قرآن کريم کې بيانېږي.

---

۱ - سورة الرعد آية: ۳۸.

۲ - سورة البقرة آية: ۲۱۴.

Scanned by CamScanner

المبحث العاشر فی تقدیم الفاتحة علی جمیع القران

وجه دتقدیم دسورة فاتحه شریف په ټول قرآن کریم باندې.

سورة الفاتحة (الحمد لله شریف) اګر که په مصحف عثماني کې ترتیباً اول سرکې پرته ده، خو دا په ترتیب نزولي کې په پنځمه درجه کې نازل شوې ده.

نو ولې حضرت عثمان رضي الله عنه په اول د قرآن کریم کې وضع کړه؟ وجه د تقدیم د سورة الفاتحې په جمیع قرآن کریم باندې، نو علماء کرام د هغې لپاره درې وجهې بیانوي.

١ - اوله وجه:

اوله وجه مرجوحه ده هغه داچې ترتیب عثماني چې کوم دی دا موافق له لوح محفوظ سره دی، اګرچې بعضې سورتونه به وروسته نازل شوي وي، خو لوح محفوظ کې قرآن کریم په دغه ترتیب پروت دی په کوم ترتیب باندې چې حضرت عثمان رضي الله عنه را جمع کړی دی.

نو یا وجه د تقدیم د سورة فاتحې موافقت له لوح محفوظ سره دی خو دا راجح قول نه دی ځکه په دې کې مرفوع نص نشته دی، او دا قول حمل دی په القاءګانو او الهاماتو د بعضې مشائخو باندې.

دوهم قول:

علماء کرام هغه اجمال او تفصیل بیان کوي چې سورة الفاتحة د تمام قرآن کریم لپاره اجمال دی، او تمام کتاب الله ددې لپاره تفصیل دی.

Scanned by CamScanner

اودا واضحه ده چې اجمال مقدم وي په تفصيل باندې، اصول د شرعې تاسې وابن چې اربعة دي.

كتاب الله، سنة الرسول، اجماع او قياس.

فالكتاب: في الكتاب سره تفصيل د شي بيانېږي نو دا تفصيل سبق اجمال غواړي.

نو سورة الفاتحة دتمام قرآن كريم لپاره اجمال وه، داچې سورة الفاتحة دتمام قرآن كريم لپاره اجمال دی نودا په دوه يا درې طريقو باندې علماء كرامو ذكر كړي دی.

يوه طريقه بې داده چې قرآن كريم اووه منزله دي، دا موافق له تلاوت د صحابه كرامو سره چې د هغوئ معمول وو چې يو يو منزل به بې تلاوت كولو، او قرآن كريم كې هم اووه انواع د علومو بيانېږي اجمالاً. يا له اوو څيزونونه بحث كوي اجمالاً، يو قرآن كريم اثبات د ربوبيت كوي لله تعالى چې دا دعوى د اثبات التوحيد ده.

٢- بيان الرحمة قرآن كريم كې ذكر كېږي چې رب ذالجلال رحمت عامه او رحمت خاصه لري.

٣- كله چې دنيا دارالامتحان ختم شي نو په يوم القضاء رب ذوالجلال قاضي جوړېږي.

٤- قرآن كريم كې مسئله د عباداتو چونكې نفس او شيطان د انسان دشمن دي انسان عبادت ته نه پرېږدي لابدي ده پكې استعانت من الله نه، نو مسائل دعباداتو او په عباداتو كې غوښتل دتوفيق من الله دا قرآن كريم كې بيانېږي.

Scanned by CamScanner

۵- قرآن کریم اوامر لري په تضرعاتوعاجزي دعاګانوباندې چې باربار رب کریم نه دنیکې لارې دعاغواړي.

۶- ذکر د خلق النعیم چې رب کریم د مخلوق لپاره ډېر زیات انعامات پیدا کړي دي، نو هغه به کله په انعام باندې پیش کېږي او کله به په شکل د دلیل باندې راوړل کېږي.

۷- اثبات د توحید چې وشي د توحید د عقیدې منکر د رسالت منکر او د بعث بعد الموت منکر لپاره تخویفات اخرویه دي چې هغه له غضب دباري تعالیٰ نه عبارت دي.

نو قرآن کریم کې دا اووه قسمه اشیاء او له هغې نه بحث کوي، مسئله د عقیدې د توحید ده، بیان الرحمة العامة والخاصة، بیان العبادت والاستعانة، تضرع الی الله، د صراط مستقیم دعاګانې، او ذکر د انعاماتو او دارنګه ذکر د قهر خداوندي د هغه چا لپاره چې د دعوو منکر وي.

سورة الفاتحه شریفه کې دا اووه آیاتونه دي او قرآن کریم اووه منزله دي، هر یو آیات د سورة الفاتحه کې یو د هغه اوو معنی ګانونه یوه معنی پرته ده چې کوم ما اوس اجمال ذکر کړل.

او په هر یو منزل کې بیا د هغې آیت تفصیل پروت دی.

اول چې کلام الله شریف بحث کوي، اثبات الوحدانیة والربوبیة لله تعالی، الله تعالی خالق دی واحد لاشریک دی او دی مربي د عالم دی، ددې دعوې اجمال دی په الحمدلله رب العالمین کې.

Scanned by CamScanner

ددي تفصيل دسورة البقرې له سرنه شروع کېږي تر سورة المائدې پورې.

له سورة المائدة نه بعد بیا دوهم منزل شروع کېږي، په دې سورتونو کې که بیا تاسې تلاش وکړئ نو د رب ذوالجلال نه به تعبير په رب سره کېږي، ځکه دلته دعوې د اثبات الربوبية لله تعالی ده.

په دې اول سپارو کې زیاتر راخي مثلاً:

﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝﴾.(١)

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ۝﴾.(٢)

دسورة المائدې پورې دسورة الفاتحې تفصيل پروت دی.

دوهم قرآن کریم کې بیان الرحمة العامة والخاصة عام رحمت او خاص رحمت دهغې ذکر دی.

﴿ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝﴾.(٣)

چې دسورة الفاتحې دوهم آيات دی د اجمال ددې معنی دی دهغې تفصيل دسورة المائدې نه شروع کېږي تر سورة یونس پورې.

دریم چې قرآن کریم له هغې نه بحث کوي، یوم الجزاء کې مالکیت او قضاء دباری تعالیٰ ده، دا په طریقې د تنبيه او تخويف

---

١ - سورة الفاتحة: آية: ١.

٢ - سورة البقرة: آية: ٢١.

٣ - سورة الفاتحة: آية: ٢.

Scanned by CamScanner

سره ذکر کیږي چې داسې ورځ ده چې کوم نې قرآن کریم دباري تعالی د قضاء ذکر راشي نو دا يواځې نذارت نه وي دا اجتماع د بشارت او نذارت وي، انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ او اولياء كراموته تبشير دى هغوئ ته زيرى وركوي چې هغه څوك قاضي دى په دغه ورځ باندې چې ستاسې دوست دى، انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ او اولياء كرام خو له الله تعالى سره دوستانه لري، او چې كله ستا په قضاء كې او عدالت يو لانجه پېښه شي اوتاته څوك ووايي چې ستا هغه نبردې دوست قاضي شوى دى خطر مه لره نو انسان ته دا ډېره لويه تسلي ده.

نو د انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ او اولياء كرامو لپاره لفظ د مالك يوم الدين تخويف نه دى، دا د هغوئ لپاره تبشير دى، الهي العالمين قاضي دى هغه خو ډېر عادل دى هم دغه آيات مبارك بيا د ډېريانو لپاره تخويف دى چاچې د رب ذوالجلال مخالفتونه كړي دي عقيدة حملاً د هغه لپاره مالك يوم الدين تخويف او تنذير دى نظارت دى چې هغه ويرېږي چې ماخو په ټول عمر كې يوه خبره د رب ذوالجلال نه ده منلې چې زما له پاسه جج اوقاضي راشي نو زه به څه كوم زما به څه حال وي.

دريم آيت د سورت فاتحې مالك يوم الدين دا دې لره اجمال دى او د هغې تفصيل شروع كېږي له سورة يونس نه تر سورة بنى اسرائيل پورې.

څلورم په سورة الفاتحة كې بيان العبادات والاستعانة.

Scanned by CamScanner

﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ۝﴾ (۱)

دا په ټولو عباداتو کې يو لوی مضمون دی چې څېړل کېږي اجمال دی.

څلورم آيت د سورة الفاتحة دې څلورم مضمون لره اجمال دی تفصيل د هغې له سورة بنی اسرائيل نه تر سورة الشعرى پورې.

پنځم قرآن کريم کې تضرع الى الله ده.

رب کريم ته عاجزي کول او دعاګانې غوښتل دي، ترڅو چې په دغه عباداتو کې استقامت راشي.

﴿اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ۝﴾ (۲)

د هغې تعليم ورکوي، نو پنځم نمبر آيت د سورة فاتحې اجمال دی مضمون لره، چې تضرع الى الله ده رب کريم ته عاجزي کول او دعاګانې غوښتل دي، تفصيل د هغې له سورة الشعراء نه تر سورة الصافات پورې دی.

﴿صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ﴾ (۳)

شپږم قرآن کريم کې ذکر خلق النعيم د نعمتونو د پيدائش ذکر دی چې دغه فوائدو لپاره دی.

---

۱ - سورة الفاتحة: آية: ۴.

۲ - سورة الفاتحة: آية: ۵.

۳ - سورة الفاتحة: آية: ۶.

Scanned by CamScanner

صِرَاطَ الَّذِینَ اَنْعَمْتَ عَلَیْهِمْ آیت نمبر شپږم د سورة فاتحې دې مضمون لره اجمال دی.

تفصیل د دې سورة له سورة الصفات نه تر سورة ق پورې.

اووم دعوی د ربوبیت اومنئ ځکه چې دغه ذات رحمان او رحیم دی، وه یې منئ ګنې یوه ورځ راروانه ده چې بیا دی مالك یوم الدین دی، دوستي ورسره وکړئ، عبادت یې وکړئ، استعانت ورنه وغواړئ، د سمې لارې د استقامت دعاګانې وکړئ، ځکه چې دا هغه لوی ذات دی چې دی دنیاوي نعمتونه کفارو او منکرینو ته ورکوي نو مؤمنانو، دوستانو او اولیاو ته به د آخرت نعمتونه ځنګه نه ورکوي، خو تاسې دعاګانې وغواړئ چې:

صِرَاطَ الَّذِیْنَ اَنْعَمْتَ عَلَیْهِمْ غَیْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَیْهِمْ وَ لَا الضَّآلِّیْنَ۝ (١)

نو په دې آیتونو کې ذکر د نعمتونو دی.

بیا سره له دېنه چې دعوی یې درته ذکر کړه، رحمانیت رحیمیت خپل یې درته پیش کړو، ورځ د قیامت کې د مالك یوم الدین نه یې ویرولئ، دنیاوي تخویفات یې درکړو، اخروي تخویفات یې درکړو.

دلائل عقلي نقلي یې په نفس کې په اوصافو کې بیان کړل چې اوس یې هم نه منې نو رب کریم بیا قهار دی بیا ډېر غصه ناك دی کفارو باندې به غصه وي.

Scanned by CamScanner

غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ ۞ . (۱)

په دې کې ذکر د غضب دی اجمالاً او تفصیل ددې له سورة ق نه تر سورة الناس پورې اخروي سورو کې عذابونه دي، قهاريت د باري تعالی پکې ظاهر شوی دی.

نو دوهم قول په دې باندې کول چې فاتحه مقدمه شوه په تمام قرآن کریم باندې له وجهې د اجمال او تفصيل نه دی.

نو د اجمال او تفصيل په څو طريقو باندی دی.

یوه طریقه په دې درې طریقو باندې چې سورة الفاتحه اووه آیتونه دي او تمام قرآن کریم کې اووه منزله دي، او بيا هر آيت کې یوې دعوې له اشارت دی لکه رَبُوبِيَّة، بَيَانُ الرَّحْمَة، قَضَاءُ يَوْمُ الْقِيَامَة، ذِكْرُ الْعِبَادَاتِ وَالْاِسْتِعَانَة، تَضَرُّعِ إِلَى الله، ذِكْرُ خَلْقِ نَعِيْم، او ذِكْرُ الْغَضَب، او دا اوه منازلو کې د هر آيت او ددې سورة لپاره پوره تفصيل پورت دی.

دوهمه طريقه د اجمال او د تفصيل:

تمام قرآن کریم څلور نوع څيزونه او علوم بيانوي.

۱ - احوال الخالقية: د رب کريم د خالقيت ذکرونه دي.

۲ - احوال التربية.

۳ - احوال البركة.

۴ - احوال القيامة.

---

۱ - سورة الفاتحة: آية: ۷.

Scanned by CamScanner

دا څلور حالات په تمام قرآن کریم کې تفصیلي طریقې باندې بیانېږي.

نو الحمدلله کې مراد له اله نه په دې مقام کې یو صفت اخستل کېږي چې هغه خالق دی.

اَلْحَمْدُ لِلْخَالِقِ الَّذِيْ هُوَ رَبُّ الْعَالَمِيْنَ.

نو په الحمدلله کې اجمال د خالقیت دی د تمام قرآن کریم سور که مطالعه کړی شي پنځه سور دي چې مُصَدَّر دي په حمد باندې چې په سر کې یې الحمدلله راغلې ده.

۱ - سورة الفاتحه.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝

۲ - سورة الانعام.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ وَ جَعَلَ الظُّلُمٰتِ وَ النُّوْرَ ؕ ثُمَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُوْنَ ۝

۳ - سورة الكهف.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْۤ اَنْزَلَ عَلٰى عَبْدِهِ الْكِتٰبَ وَ لَمْ يَجْعَلْ لَّهٗ عِوَجًا ۝

۴ - سورة السباء.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِي الْاَرْضِ وَ لَهُ الْحَمْدُ فِي الْاٰخِرَةِ ؕ وَ هُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ۝

نو تمام قرآن کریم څلور احوالو له د هغې نه بحث کوي او سور چې کوم دي هغه څلور سور په فاتحه مُصَدَّر دی کوم سور چې په

فاتحه باندې مصدر كېږي هلته حال بدلېږي نو د سورة الفاتحې نه سورة الانعام پورې احوال دخالقيت دى، نو په دې كې خمس سور دي، نو په دغه پنځه سوركې دي احوال الخالقية دي تفصيلاً او الحمدلله تكړه كلام چې كوم دى دا هغې لره جامع دى اجمالاً.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ .(١)

دوهم په ربه العالمين كې احوال التربية دي تفصيل د هغې له سورة الانعام نه تر سورة الكهف پورې دى سورة الانعام مُصَدَّر دى په الحمد لله سره دى:

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضَ وَ جَعَلَ الظُّلُمٰتِ وَ النُّوْرَ ۬ ثُمَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُوْنَ ۝ .(٢)

په الرحمٰن الرحيم كې اجمال دى د احوال البركة او تفصيل د هغې د سورة الكهف نه سورة السباء پورې، سورة الكهف مصدر دى په حمد سره.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْۤ اَنْزَلَ عَلٰى عَبْدِهِ الْكِتٰبَ وَلَمْ يَجْعَلْ لَّهٗ عِوَجًا ۝ .(٣)

مالك يوم الدين كې احوال القيامت دي اجمالاً تفصيل د هغې له سورة سباء نه تر اخره پورې سورة سبا بيا مصدر دى په حمد باندې.

---

١ - سورة الفاتحة: آية: ١.

٢ - سورة الانعام آية: ١

٣ - سورة الكهف آية: ١.

Scanned by CamScanner

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ لَهٗ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَ مَا فِی الْاَرْضِ وَ لَهُ الْحَمْدُ فِی الْاٰخِرَةِ ؕ وَ هُوَ الْحَكِیْمُ الْخَبِیْرُ ۝ .(۱)

تفصیل د هغې له سورة کهف نه تر سورة سبا پورې چې شپاړلس سورتونه جوړېږي، مالك یوم الدین کې اجمال احوال القیامة دی، تفصیل د هغې له سورة سبا نه تر والناس پورې چې په هغې کې غالباً یو اتیا سورتونه راځي، هرچې ایّاك نعبدُ وایاك نستعین دی دا لُبِّ لباب الفاتحه دی.

دریمه طریقه د اجمال او تفصیل:

هغه داده چې تمام قرآن کریم په اوو شیانو باندې مشتمل دی.

۱- اوامر دي، نواهي دي.

۲- وعظونه دي.

۳- وعیدات دي.

۴- قصص دي، امثال دي.

۵- احکام دي.

۶- ثناء ده.

۷- ناسخ او منسوخ دي.

چې ټول اووه جوړېږي د سورة فاتحې اووه آیتونه دي او تمام کلام شریف کې د اوو شیانو ذکر دی.

---

۱ - سورة سبا آية: ۱.

يا اوامر دي يانواهي دي، يا وعظونه دي، بشارت يا وعيدات دي تخويفات دي، يا امثال دي ياقصص دي، يا ثناء د رب كريم ده، يااحكام دي (حلال حرام)، يا ناسخ اومنسوخ دي، وروستو به يې وضاحت كوم انشاء الله چې دقرآن كريم آيتونو كې اختلاف شته على رأى الجمهور شپږ زره شپږ سوه او شپږ شپېته (٦٦٦٦) آيتونه دي.

زر (١٠٠٠) آيتونه په قرآن كريم اوامر دي.

زر (١٠٠٠) آيتونه نواهي دي.

زر (١٠٠٠) آيتونه وعيدات دي.

زر (١٠٠٠) آيتونه وعيد دي.

زر (١٠٠٠) آيتونه قصص دي.

او زر (١٠٠٠) آيتونه ثناء د رب كريم ده.

اوپنځه سوه (٥٠٠) آيتونه احكام دي چې دوه نيم سوه (٢٥٠) حلال او دونيم سوه (٢٥٠) بيان د حرامو كوي.

سل (١٠٠) آيتونه امثال دي.

شپږ زره شپږ سوه او شپږ شپېته (٦٦٦٦) آيتونه په كې ناسخ او منسوخ دي.

خلورمه طريقه د اجمال او تفصيل:

چې اَلْحَمْدُلِلّٰهِ فِيْهِ إِشَارَةٌ إِلَى الْأَمْرِبِالْحَمْدِ وَنَفْيٍ عَنْ ضِدِّالْحَمْدِ وَالشُّكْرِ، په اَلْحَمْدُلِلّٰهِ كې امر دی په حمد لله باندي نهى ده د ضد وحمد نه ناشكري به نه كوې دا اوامر نواهي اجمال شو.

Scanned by CamScanner

په رَبِّ الْعَالَمِيْنَ کې قصص دي د اعجاز المخلوق نه چې رب کريم کائنات پيدا کړيدي هغې له مربي جوړشوی دی دا قصص ته اشاره ده زر آيتونو له اجمال شو.

په مَالِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ کې هم وعد دي هم وعيد هم بشارت دي هم نذارت دی، يعني نيکانو ته وعد دی او بدانو ته وعيد دی، زر آيتونه وعد وعيد دا هغې له اجمال شو.

په صِرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ کې امثال دي لاره خپله کړه خو هغه لاره چې مثل د منعم عليه ده چې څلور جماعته دي.

وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ ۚ وَحَسُنَ اُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا.

(۱)

اوپه دې کې امثال شو.

دارنګې په أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ کې څه شی دي.

أَنَّ شَرِيْعَتُهُمْ نَاسِخَةٌ چې د منعم عليهم شريعت دا ناسخ دی، او په غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّيْنَ، کې اشاره دېته ده چې، أَنَّ شَرَائِعُهُمْ مَنْسُوْخَةٌ، يعني د يهوديانو او نصرانيانو شريعتونه ختم دي، نو په غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ کې اشاره ده يهوديانو ته او په وَلَا الضَّالِّيْنَ، کې نصرانيانو ته اشاره ده.

۱- سورة النساء آية: ۶۹.

Scanned by CamScanner

د قرانکریم سورتونه

سور د قرآن کریم یوسل وڅوارلس ،۱۱۴، دي بالاتفاق، مراد له اتفاق نه د اهل السنة والجماعت دی؛ شیعه ګان چې کوم دي هغوئ زائد د نورو سورتونو قائل دي، هغوئ تقریباً څو نورې سپارې یادوي چې په دې کې د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مناقب وو، او حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه ورنه لرې کړې دي العیاذبالله هغې ته څه اعتبار نشته.

د قرانکریم رکوعات

رکوعاتو دقرآن کریم کې قولين دي په قول دبعضو باندې، او د بعضو قراو په نزد پنځه سوه څلویښت دي.

د قرانکریم ایتونه

آیتونه دقرآن کریم عندالعامة والجماهیر، دجمهورو علماو په نزد باندې شپږ زره شپږ سوه شپږ شپېته دي.

او آیتونه عند اهل مکه، د مکې دقراو په نزدباند ې شپږسوه دولس دي، او په نزد داهل مدینه وو باندې شپږزره شپږ سوه څوارلس دي.

اعتراض ذهن ته راځي چې په آیتونو کې څنګه فرق راغی؟

جواب دادی: چې فرق په دې معنا دی، بعضو قراو په یوه موضوع کې دآیت قول کړی بعضي یې نه کوي.

تاسې وګورئ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ نه ولته آیت چې کوم ګیره شانته نقشه وي هغه ولته نشته ده، دا آیت علامه یې دلې نه

ده کړې لیکلي یې دي چې شمېرېم نمبر آیت علامه ولې نه ورکوي
خکه امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ دلته د آیت قائل نه دی، هغه وایي چې له
صراط الذین نه تر والضالین پورې دا تول یو آیت دی اوس که ته
ورته دا وایې چې احادیثو کې دا راغلي دي:

هِيَ هَذِهِ السُّورَةُ، وَهِيَ سَبْعُ الْمَثَانِي، وَالْقُرْآنُ الْعَظِيمُ الَّذِي أُعْطِيتُهُ.الحديث

فاتحې ته سبعه وویل شو او آیتونه دي، که دلته مونږ آیت ونه
وایو دا خو شپږ شو، دابسم الله شریف یو آیت دی جز من الفاتحه
دی په دې سره جواب کوي.

نو عرض دا دی چې دا شبهات دلته پیدا نه شي چې په آیتونو کې
یې ځکه اختلاف کړی دی کنې قرآن کریم یې کم او زیات کړی دی،
قرآن کریم یې کم او زیات کړی نه دی څه چې مصحف عثماني کې دی
په دې اهل مکه اهل مدینه داتول په دې متفق دي په دې چې هم
دومره دي صرف شیعه ګان مخالف دي.

خو داچې د آیتونو کې دکمي او زیاتي قول دوئ کوي الفاظ او
کلمات کم زیات نه دي فقط قول نه کوي چې دلته آیت شته دی هلته
د آیت قائل نه دي دوه آیتونه یو آیت جوړوي په دې معنیٰ باندې

اهل مکه دشپږ زره شپږ سوه دولس ۶۶۱۲، آیتونو قائل دي.

او اهل مدینه د شپږ زره شپږسوه څوارلس ۶۶۱۴، آیتونو
قائل دي.

Scanned by CamScanner

او اهل شام د شپږ زره دوه سوه او پنځوس (۶۲۵۰) آيتونو قائل دي.

او اهل کوفه چې دي هغوئ تعبير په فقه او په قرائت کې په محقيقينو سره کېږي د هغوئ په نزد باندې آيتونه شپږ زره دوه سوه شپږ ديرش (۶۲۳۶) دي.

او په نزد د اهل بصره وو باندې شپږ زره درې سوه شپاړس آيتونو (۶۳۱۶) دي.

د قرانکريم کلمات

کل کلمات د قرآن کريم شپږ اتيا زره خلورسوه او ديرش (۸۶۴۳۰) دي.

د قرانکريم حروف

اوټول حروف د قرآن کريم درې لاکه يوويشت زره دوه سوه اوه شپېته (۳۲۱۲۶۷) دي.

د قرانکريم زوَرُونه

زوَرُونه فتحات په قرآن کې دوه پنځوس زره دوه سوه درې خلويښت (۵۲۲۴۳) دي.

د قرانکريم پېشونه

دا اعجاز قرآني دی چې دومره ضخيم کتاب کې دي دې هم دې پېشونه ضمې او زورونه فتحات يوشان دي.

Scanned by CamScanner

د قرانکریم زیرونه

په قرآن کریم کې کسرات زیرونه نهه ویشت زره پنځه سوه درې آتیا (۲۹۵۸۲) دي.

د قرانکریم نکات

نکات د قرآن کریم یولاك پنځه زره شپږ سوه څلوراتیا (۱۰۵٦۸٤) دي.

د قرانکریم مدونه

او مدونه مدّات اوه لسوه اوه لس (۱۷۱۷) دي.

د قرانکریم شدونه

تشدیدات یوزر دوه سوه درې پنځوس (۱۲۵۳) دي.

د قرانکریم معانقات

معانقه عند المتاخرین اتلس (۱۸) دي، معانقه عند المتقدمین پنځلس (۱۵) دي بقول او شپاړلس (۱٦) دي بقول.

د قرانکریم سجدات

سجدات عند ابوحنیفه رَحِمَهُ ٱللَّهُ څوارلس (۱٤) دي، اختلاف دی په سجدة الحج کې، احناف رَحِمَهُمُ ٱللَّهُ وايي دا سجده تلاوت نه ده په هغه ځای کې به تحقیق وشي څکه د هغه لفظ د وَٱسْجُدُواْ وَٱرْكَعُواْ د رکوع لفظ معي شوی دی.

Scanned by CamScanner

حضرت امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايي: جميع سجدات قرآني کې لفظ د وَٱسْجُدُوا او ارْكَعُوا ذكر نشته دی، او په سورة حج کې هلته د رکوع ذکر معي دی نو په دې لحاظ سره سجده تلاوت کې رکوع نشته که دا چېرته سجده تلاوت وي نو بيا رکوع په کې ولې معي شوې ده.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا ٱرْكَعُوا وَٱسْجُدُوا .

سجده وکړئ او رکوع وکړئ، نو په سجده تلاوت کې رکوع کومه ده، نو اختلاف په سورة حج کې دی يعنې سورة حج آخري رکوع وروستی چې کومه سجده راځي نو حضرت امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايي: چې دا سجده تلاوت نه ده. دا الله تعالى تاسې ته د لمانځه د سجدې اشاره کړې ده.

سجده چې له رکوع سره ضم شي دا فرضيت د رکوع ثابتوي او دا سجده تلاوت نه وي، او په نزد د شوافعو باندې هم سجده تلاوت څوارلس (۱۴) دي په هغې کې په سورة حج کې د سجدتينو قائل دي او په سورة ص کې د سجدې قول نه کوي، او په نزد د موالکو باندې سجده تلاوت يولس (۱۱) دي او په نزد د حنابله و باندې سجده تلاوت اوه لس (۱۷) دي.

For More Books Click On Ghulam Safdar Muhammadi Saifi

په قرآن کريم کې د تمام حروفو جدول

ش	اسم	حرف	اسم الرقم	رقم
١	الف	ا	اته خلوېښت زره اته سوه شپږ اويا	٤٨٨٧٦
٢	با	ب	يولس زره څلور سوه اته ديرش	١١٤٣٨
	تا	ت	لس زره يوسل نهه نوي	١٠١٩٩
٣	ثا	ث	يو زر دوه سوه شپږ اويا	١٢٧٦
٤	جيم	ج	درې زره دوه سوه درې اويا	٣٢٧٣
٥	حا	ح	درې زره اوه سوه درې نوي	٣٧٩٣
٦	خا	خ	څلور زره يوسل شپېته	٤١٦٠
٧	دال	د	پنځه زره شپږ سوه دوه	٥٠٦٢
٨	ذال	ذ	څلور زره شپږ سوه اووه اويا	٤٦٧٧
٩	را	ر	يولس زره اووه سوه درې نوي	١١٧٩٣
١٠	زا	ز	يو زر پنځه سوه نوي	١٥٩٠
١١	سين	س	پنځه زره اته سوه يونوي	٥٨٩١
١٢	شين	ش	دوه زره دوه سوه درې پنځوس	٢٢٥٣
١٣	صاد	ص	دوه زره دولس	٢٠١٢
١٤	ضاد	ض	يوزروشپږسوه اووه	١٠٦٧
١٥	طا	ط	يو زر دوه سوه اووه اويا	١٢٧٧
١٦	ظا	ظ	اته سوه دوه څلوېښت	٨٤٢
١٧	عين	ع	شپږ زره دوه سوه شل	٦٢٢٠

Scanned by CamScanner

۱۸	غین	غ	دوه زره دوه سوه اته	۲۰۲۸
۱۹	فا	ف	اته زره نهه سوه شپږ ویشت	۸۹۲۶
۲۰	قاف	ق	شپږ زره اته سوه دیارلس	٦۸۱۲
۲۱	کاف	ك	نهه زره پنځه سوه	۹۵۰۰
۲۲	لام	ل	دیرش زره څلورسوه دوه دیرش	۳۰٤۳۲
۲۳	میم	م	دوه زره شپږ سوه دوه دیرش	۲٦۳۲
۲٤	نون	ن	پنځه څلویښت زره یوسل نوي	٤۵۱۹۰
۲۵	واو	و	پنځه ویشت زره پنځه سوه شپږ دیرش	۲۵۵۳٦
۲٦	ها	هـ	نولس زره اویا	۱۹۰۷۰
۲۷	همزه	ء	څلور زره اووه سوه شل	٤۷۲۰
۲۸	یا	ي	پنځه څلویښت زره پنځه سوه نولس	٤۵۵۱۹

دا جدول بعضو مفسرینو حضراتو د تفاسیرو په سرکې ذکر کړی دی او له دې وجهې نه مونږ هم دلته دا ذکر کړو.

تمت بالخیر

مرتب: مولوی محمد بشیر(طیب خیل) المظهری فاضل دارالعلوم مظهرالعلوم داګی ضلع صوابی خیبر پښتونخوا پاکستان.

ورځ / یکشنبه / تاریخ / ۱/ ۷/ ۲۰۱۸م

Scanned by CamScanner

د کتاب د مضامینو فهرست

مقدمة فی اصول التفسیر ۲
مشهور مفسرین صحابه کرام رضی الله عنهم: ۴
د حضرت ابی ابن کعب رضی الله عنه مشهور شاگردان: ۵
د حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه معروف شاگردان: ۵
تفسیر ابن عباس رضی الله عنه ۶
یا تفسیر ابن مسعود رضی الله عنه: ۶
صحابه کرامو ولې لیکل نه کول ۷
د اسباب النزول کاتبین (لیکونکي) ۱۰
اول لیکل په اسباب النزول: ۱۰
دوهم لیکل په اسباب النزول: ۱۱
دریم لیکل په اسباب النزول: ۱۱
څلورم لیکل په اسباب النزول: ۱۱
پنځم لیکل په اسباب النزول: ۱۱
شپږم لیکل په اسباب النزول: ۱۱
اووم لیکل په اسباب النزول: ۱۱
اتم لیکل په اسباب النزول: ۱۲
نهم لیکل په اسباب النزول: ۱۲
لسم لیکل په اسباب النزول: ۱۲
یولسم لیکل په اسباب النزول: ۱۲

Scanned by CamScanner

د اصول القرآن كاتبين (ليكونكي) ۱۲
المبحث الاول في معني القرآن والتفسير لغة واصطلاحاً ۱۴
حضرت بايزيد بسطامي رحمه الله ۱۷
صالح او مصلح: ۲۱
د قرآنكريم او تفسير لغوي او اصطلاحي معنی ۲۳
د قرآن کريم اصطلاحي معنی: ۲۵
د قرآن کريم موضوع: ۲۵
د موضوع ربط له معنی لغوي سره: ۲۵
غرض د قرآن کريم: ۲۶
د تفسير لغوي معنی: ۲۷
د تفسير اصطلاحي معنی: ۲۸
احوال د نزول ئې دري قسمه دي: ۲۹
اسباب النزول: ۲۹
سببِ النزل او د دې معنی څه ده: ۲۹
احوالِ النزول په دري قسمه دي: ۴۴
د امکنة النزول انواع: ۴۴
مدني سورتونه: ۴۶
اختلافي سورتونه: ۴۶
مکي سورتونه: ۴۷
د مکي او مدني آيتونو په منځ کې فرق: ۵۵
الفرق بين المکي والمدني: ۵۸

Scanned by CamScanner

د مکي سورتونو خلاصه: ۶۰
ممیزات المدني من المکي ۶۱
دریم ازمنة النزول: ۶۲
اخرمانزل کې مختلف اقوال دي: ۷۰
د تفسیر معروف تعریف: ۷۷
ترجمه په دوه قسمه ده: ۷۷
ترجمه حرفي: ۷۷
ترجمه تفسریه (معنویه): ۷۷
د قرآنکریم اسامي (نومونه) ۷۸
المبحث ثاني فی بیان الفرق بین تاویل والتفسیر ۸۹
د تفسیر لغوي معنی: ۸۹
جمهور په خپل منځ کې متعدد اقوال لري: ۹۰
انتهاء د تصوف: ۹۸
التحریف لغةً: ۱۰۰
التحریف اصطلاحاً: ۱۰۰
د تحریف اقسام: ۱۰۰
اول تحریف لفظي: ۱۰۰
دوهم تحریف معنوي: ۱۰۱
المبحث الثالث فـي بیـان الفـرق بیـن الحـدیث القُدسـي والقـرآن العظیم
والحدیث النبوي صلی الله علیه وسلم ۱۰۴
د حدیث لغوي معنی: ۱۰۴

Scanned by CamScanner

د حديث اصطلاحي معنى:.. ۱۰۴
دوهم حديث قدسي: ۱۰۵
د حديث قدسي لغوي معنى: ۱۰۵
د حديث قدسي اصطلاحي معنى:.. ۱۰۶
فرق په مابين د قرآن كريم او حديث قدسي كې: ۱۰۶
فرق په مابين د حديث قدسي او حديث نبوي كې: ۱۰۸
د احاديث نبوي صلى الله عليه وسلم اقسام ۱۰۹
اول قسم حديث نبوي توقيفي:... ۱۰۹
دوهم قسم حديث نبوي توفيقي: ۱۰۹
المبحث الرابع في تعريف الوحي واقسامه ۱۱۲
كشف او مكاشفه: ۱۱۲
د وحي اقسام... ۱۱۸
وحي په درې قسمه ده: ۱۱۸
صور د وحي: ۱۱۹
المبحث الخامس في بيان تنزيلات الثلثة في القرآن الكريم............ ۱۲۴
قرآن كريم لره درې نزوله دي:.. ۱۲۴
المبحث السادس في بيان القواعد التي تحتاج اليه المفسر ۱۲۹
تنكير: ۱۳۹
المبحث السابع في اعجاز القرآن وبيان سبعة احرف ۱۴۶
اعجاز الالقرآن ۱۴۶
په قرآن كريم كې د اعجاز وجوه:.. ۱۴۷

Scanned by CamScanner

لبيد بن ربيعة ۱۴۷
المبحث الثامن في بيان المضامين المبينة في القرآن ۱۵۱
اقسام علوم القران: ۱۵۱
۱-اعتقاديات: ۱۵۱
۲-عبادات: ۱۵۱
۳-مشتهيات: ۱۵۱
۴-معاملات: ۱۵۲
۵- زواجر: ۱۵۲
۶- آداب خلقيه: ۱۵۳
د قرآنكريم اجمال ۱۵۳
المبحث التاسع في بيان السلسلة السبعة في القرآن ۱۵۵
د دعوي اقسام: ۱۵۵
د قرآنكريم د دلائلو اقسام: ۱۵۶
اقسام دلائل: ۱۵۶
دلائل عقلي،افاقي اقسام: ۱۵۷
المبحث العاشر في تقديم الفاتحة على جميع القرآن ۱۶۳
دوهمه طريقه داجمال او د تفصيل: ۱۷۰
دريمه طريقه د اجمال او تفصيل: ۱۷۳
څلورمه طريقه د اجمال او تفصيل دا ده: ۱۷۴
د قرآنكريم سورتونه ۱۷۶
د قرآنكريم ركوعات ۱۷۶

Scanned by CamScanner

د قرآنکریم ایتونه ۱۷۶
د قرآنکریم کلمات ۱۷۸
د قرآنکریم حروف ۱۷۸
د قرآنکریم زورونه ۱۷۸
د قرآنکریم پیشونه ۱۷۸
د قرآنکریم زیرونه ۱۷۹
د قرآنکریم نکات ۱۷۹
د قرآنکریم مدونه ۱۷۹
د قرآنکریم شدونه ۱۷۹
د قرانکریم معانقات ۱۷۹
د قرانکریم سجدات ۱۷۹
په قرآن کریم کې د تمام حروفو جدول ۱۸۱

تمت بالخير

مرتب: مولوی محمد بشیر(طیب خیل) المظهری فاضل دارالعلوم مظهرالعلوم داګی ضلع صوابی خیبر پښتونخوا پاکستان.

ورځ / یکشنبه / تاریخ / ۱/ ۷/ ۲۰۱۸م

Scanned by CamScanner